# د افغانستان معاصر تاریخ

(له احمد شاه بابا تر اشرف غني)

## لیکوال:

ښوونیار شمس الدین شمس

## ترتیب او ډیزاین چارې:

حکمت الله یوسفزی

Ketabton.com


(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغانستان معاصر تاریخ

(له احمدشاه بابا تر اشرف غني)











لیکوال:
ښوونیار شمس الدین شمس

ترتیب او ډیزاین چارې:
حکمت الله یوسفزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

**د کتاب ځانګړنې:**

- کتاب نوم: د افغانستان معاصر تاریخ
- لیکوال: ښوونیار شمس الدین "شمس"
- خپرندوی: حکمت خپرندویه ټولنه_جلال آباد
- چاپ شمېر: یوولس سوه ټوکه
- لومړی چاپ: ۱۳۹۳ هجري لمریز
- پینځم چاپ: ۱۳۹۵ هجري لمریز
- شپږم چاپ: ۱۳۹۷ هجري لمریز

**د ترلاسه کولو ځای:**

حکمت کتاب پلورنځی، اسحاق زی مارکېټ، لاندینی پوړ جلال آباد.

اړیکشمېرې: ۰۷۹۷۸۰۹۱۱۲ /۰۷۷۴۴۹۵۸۲۵ / ۰۷۸۴۰۷۵۰۲۲

برېښنالیک: Hikmatbook ۲۰۱۰@jmail.con

**د چاپ او ترجمې حقوق یې خپرندوی ادارې سره خوندي دي.**

## لړ لیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| تقریظ | ۱ |
| تقریظ | ۳ |
| د لیکوال سریزه | ۵ |
| **لومړی فصل ۷** | |
| د افغانستان تاریخي نومونه: | ۷ |
| ۱-اریانا: | ۷ |
| ۲-خراسان: | ۷ |
| ۳-افغانستان: | ۸ |
| د افغانستان اوسني سرحدات | ۹ |
| ۱. شمالي سرحدونه: | ۹ |
| الف: شیر علي خان سرحدي کرښه: | ۹ |
| ب: د امیر عبدالرحمن خان سرحدي کرښه: | ۱۰ |
| لومړي د ریجوي سرحدي کرښه: | ۱۰ |
| د پامیر سرحدي کرښه: | ۱۰ |
| دویمه: ختیځه سرحدي کرښه: | ۱۰ |
| دریم: غربي سرحدي کرښې: | ۱۲ |
| الف: د مګمهان سرحدي کرښه: | ۱۲ |
| ب: د فخري سرحدي کرښه: | ۱۳ |
| شمال ختیځه سرحدي کرښه: | ۱۳ |
| **دویم فصل ۱۵** | |
| د احمد شاه بابا ژوند او واکمني | ۱۵ |
| د احمد شاه بابا فتوحاتو ته لنډه کتنه | ۱۷ |
| د پانې پت جګړه: | ۱۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| د احمد شاه بابا شخصیت او مړینه: | ۱۹ |
| د تیمور شاه واکمني | ۲۰ |
| د سکانو بغاوت: | ۲۱ |
| د کشمیر والي ازاد خان بغاوت: | ۲۱ |
| د بخارا پاچا جګړه: | ۲۲ |
| د تیمور مړینه: | ۲۲ |
| د شاه زمان واکمني | ۲۳ |
| د شاه محمود لومړی ځل پاچاهي | ۲۸ |
| د شاه شجاع لومړی ځل سلطنت | ۳۰ |
| د شاه محمود دویم ځل واکمني | ۳۲ |
| **دریم فصل** | |
| د محمد زایانو د حکومت پیل یا د سدوزیانو سقوط ګډوډي او ګډوډی دوره | ۳۵ |
| د امیر دوست محمد خان لومړی ځل امارت | ۳۹ |
| په افغانستان باندې د انګلیسانو لومړی یرغل | ۴۲ |
| د شاه شجاع دویم ځل واکمني او د انګلیسانو لومړی یرغل | ۴۳ |
| امیر دوست محمد خان دویم ځلی واکمني | ۴۸ |
| لومړی: د پېښور ترون | ۴۹ |
| د هرات یو ځای کېدل | ۵۱ |
| امیر دوست محمد خان – سرجان لارنس | ۵۳ |
| د امیر دوست محمد خان دوری ته یوه لنډه کتنه | ۵۴ |
| د امیر شیر علي خان لومړی ځل سلطنت | ۵۵ |
| د امیر محمد افضل خان واکمني | ۵۸ |
| امیر محمد اعظم خان | ۵۹ |


## لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| د امیر شیر علي خان دویم ځل پاچاهي | ۶۰ |
| د امیر شیر علی خان کورنی ستونزی: | ۶۲ |
| د سیستان موضوع: | ۶۳ |
| د سملی کنفرانس: ۱۸۷۳م.۱۲۹۰ ش کال: | ۶۴ |
| د پیښور کنفرانس ۱۸۷۷م - ۱۲۹۴ش: | ۶۴ |
| د امیر شیر علي خان دربار ته د روسي هیئت راتګ: | ۶۵ |
| د انګریزانو لخوا د امیرشیرعلي خان سره د جګړې اعلان | ۶۶ |
| د امیرشیرعلي خان د ماتې لاملونه: | ۷۱ |
| لاندې عوامل د امیرشیرعلي خان د سبب ماتي شو: | ۷۳ |
| د امیر محمد یعقوب خان واکمنی | ۷۴ |
| د میوند جګړه (۱۸۸۰م) کال د جولاي (۲۷) نېټه: | ۷۷ |
| امیر عبدالرحمن خان | ۸۱ |
| د امیر حبیب الله خان واکمني | ۸۳ |
| د امیر حبیب الله خان مهم کارونه: | ۸۵ |
| د امیر حبیب الله خان مړه کېدل: | ۸۶ |
| امیر امان الله خان | ۸۷ |
| د امان الله خان واک ته رسیدل: | ۸۸ |
| د خپلواکی اعلان او د خپلواکی جنګ: | ۸۸ |
| د امان الله خان اصلاحات او خدمتونه: | ۸۹ |
| د اماني دولت د ړنګیدو لاملونه: | ۹۰ |
| عنایت الله خان واکمنی | ۹۲ |
| حبیب الله خان بچه سقاو | ۹۳ |
| د بچه سقاو د را پرځولو پیل: | ۹۵ |
| د امیر محمد نادر خان واکمني | ۹۷ |
| اداري تشکیلات: | ۹۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| د محمد نادر شاه ناڅاپي قتل: | ۹۹ |
| محمد ظاهر شاه | ۱۰۱ |
| **خلورم فصل۱۰٤** | |
| سردار محمد داود خان | ۱۰۴ |
| د نورمحمد تره کي ژوند مخکې له واکمنی څخه | ۱۰۷ |
| د نور محمد ترکی واک ته رسیدل او د اووم ثور کودتا: | ۱۰۸ |
| حفیظ الله امین | ۱۱۱ |
| د ببرک کارمل واکمني | ۱۱۲ |
| د ډاکټر نجیب الله واکمني | ۱۱۲ |
| حضرت صبغت الله مجددي | ۱۱۸ |
| د قیادی شورا او د برهان الدین حاکمیت | ۱۲۲ |
| طالبان | ۱۲۳ |
| په افغانستان کې د ملا محمد عمر مجاهد واک ته رسېدل | ۱۲۵ |
| د طالبانو سقوط | ۱۲۷ |
| حامد کرزی | ۱۳۰ |
| د ډاکټر اشرف غنی احمدزی لنډه پیژندنه | ۱۳۴ |
| دندې: | ۱۳۵ |
| میلمه پروفیسور: | ۱۳۵ |
| ماخذونه | ۱۳۸ |




## تقریظ

تاریخ داسې علم دی چې هدف يې انسانان د نېکمرغۍ خواته سوق کول دي د تیارو، کړنو په یادولو په نېکيو امر او له بدی نه په منعه کولو سره یو حقیقي هدف چې د انسانانو د دواړو جهانونو کامیابي پکې نغښتې ده، د تاریخ په برکت حاصلېږي، د تاریخ هدف او ګټه دا ده چې انسان د هوسا ژوند لرونکي او له ورځنې ټولو اختراعاتو او کشفیاتو نه ګټه واخلي او ټول سهولتونه چې امکان لري، د ځان او ټولنې لپاره برابر کړي، هغه نېمګړتیاوې چې په ټولنه کې موجودې دي هغه ترمیم او ابتکاري نړۍ رامنځته کړي، ترڅو د زماني غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي، د افغانستان تاریخ د پنځه زرو کلونو سابقه لري، چې د لوړتیا او ځوړتیا مختلف پړاونه يې طی کړي، ځکه د تاریخ مسیر د انسانانو لخوا د همدغه هدف درلودونکی دی کله چې یوه ټولنه د خوشبختۍ او کله د زوال خواته بیایي او دا حالت يې د ټولنې افرادو پورې تړلې، خوښه يې چې خپله ټولنه کوم مسیر په لور بیایي. افغانستان په تېرو پنځه زرو کلونو کې مختلفو تړاکونو سره مخامخ شوی چې د هغوی له جملې څخه د سکندر مقدوني، د اسلام راتګ، چنګېزیانو، د مغلو او صفویانو یادونه کولای شو، چې هر وخت افغانانو خپله مېړانه او مقاومت ښکاره کړی دی او د خپلو سرونو په بیه يې خپل وطن او ټولنه له غلامۍ او بدبختۍ څخه ژغورلی، د افغانستان معاصر تاریخ د ډېرو ښو او مثبتو واقعاتو درلودونکی دی، چې افغانستان خپل ځان په سیمه او نړۍ کې ثابت کړ او حتی د وخت ستر قدرتونه يې د برطانیه او روسیه په وېره کې واچول، چې دغه لړۍ ډېر دوام ونه کړ او د تېمورشاه په مړینې او شاه زمان په ړندېدو پای ته ورسېده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل منځي اختلافات پیل شو او افغانستان د بدبختۍ په لور روان شو، خو دغه بدبختي د سدوزیو او بارکزیو د اختلاف له امله نور هم زیانمن شو او هغه لویه امپراطوري چې له احمد شاه بابا څخه په میراث پاتې و، ورځ تر بلې کمېده، تر دې چې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د روسیې او برطانیې ترمنځ حایل شو، ترڅو د دواړو سترو قدرتونو ترمنځ ټکر رانشي او په خپل حال پاتې شو، په دې موده کې درې ځلې انګلیسانو پر افغانستان یرغل وکړ او هر ځل د ناکامۍ سره مخامخ شول، په شلمه میلادي پېړۍ کې شرایطو روسان هم دېته وهڅول، چې په دغه سپېڅلې خاوره او خلکو یرغل وکړي او د خپلو ګوډاګیانو په مرسته یې یو ځل بیا افغانان د غم په ټغر کېنول، په میلونونو شهیدان په یاده سیمه کې د خپلو کورونو څخه مهاجرت ته اړ کړل، له موقعه څخه په استفادې غدارې امریکا د افغانانو د ملاتړ کولو په خاطر کافره نړۍ له ځان سره کړه او په افغانستان یې یرغل وکړ چې په دغه موده کې په افغانانو د هیڅ نوعه تشدد او ظلم څخه دریغ ونه کړ او خپل هره نوعه اسلحې یې وازمایلې چې دغه لړۍ تراوسه دوام لري.

په درنښت
ښوونیار عبدالبصیر حکمت
د ننګرهار عالي دارالمعلمین
د ټولنیزو علومو د څانګې امر



## تقریظ

د افغانستان معاصر تاریخ یو ګټور، په زړه پورې او جالب مضمون دی، د نړۍ معاصر تاریخ په عمومي توګه د فرانسې د ستر انقلاب نه چې په کال ۱۷۸۹م کال کې شروع کېږي او تر اوسه پورې دوام لري، د افغانستان معاصر تاریخ د امیر حبیب الله خان له جلوس څخه چې په کال ۱۹۰۱م کال په تخت کېناست شروع کېږي، د نړۍ د نوو پېړیو تاریخ د ختیځ روم د امپراطورۍ د سقوط څخه یا قسطنطنیه د فتحې څخه چې نوموړی ښار په کال ۱۴۵۳م د سلطان محمد فاتح په واسطه فتحه شوه، شروع کېږي، البته سلطان د عثماني امپراطورۍ امپراطور وو چې عثماني امپراطورۍ څخه اوس د ترکیې جمهوري هېواد جوړ شوی دی د افغانستان د نوو پېړیو تاریخ د احمد شاه بابا د سلطنت د جلوس چې په کال ۱۷۴۷ م پېښ شروع کېږي، احمد شاه بابا د افغانستان هغه ستر سیاسي شخصیت وو چې افغانستان یې د هند د مغلوي امپراطورۍ څخه ازاد کړ، معمولاً د نوو پېړیو تاریخ د معاصر پېړیو سره یو ځای په پوهنځیو او ښوونیزو مرکزونو کې لوستل کېږي، نو د افغانستان په عالي دارالمعلمینو کې هم دواړه تاریخونه د یو مضمون په توګه لوستل کېږي، د افغانستان معاصر تاریخ د تاریخي پېښو، ویاړونو، جګړو، اختراعاتو او اکتشافاتو څخه ډک دی، په دغه پېړیو یعنې نوي او اوسنۍ پېړیو کې افغانستان د مغلوي هند امپراطورۍ څخه ازاد شوی، د افغانستان نوم د خراسان څخه په افغانستان بدل شوی دی، د افغانستان او انګلستان ترمنځ درې خونړۍ جګړې پیښې شوي دي، افغانستان د روسانو د تېري سره مخامخ شوی دی او هغوی ته یې غاښ ماتونکی ځواب ورکړی او د افغانستان د جهاد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه کې په نړۍ واله سطحه کمونیزم د ماتې او سقوط سره مخامخ شوی دی ، په افغانستان کې نامتو علماء او پوهان زیږېدلي او نړېوال شهرت ته رسېدلي، لکه علامه سید جمال الدین افغان، علامه صلاح الدین سلجوقي، علامه عبدالحي حبیبي، محمود طرزي، عبدالرحمن پژواک، عبدالباري جهاني او داسې نور.... هر افغان چې د خپل وطن او اسلام سره مینه لري، باید د افغانستان معاصر تاریخ ولولي او د هغه په رڼا کې کولای شي خپل ګران هېواد او خپل مقدس دین ته واقعي خدمت وکړي ځکه چې هغه د خپل هېواد د تاریخ څخه خبرېږي، اتلان او خاینان پېژني، د تمدن ترقي او عالي فرهنګ په مفهوم باندې پوهېږي، د سیاست او سیاسي نظریو او شخصیتونو سره اشنا کېږي، نو موږ ته لازمه ده چې د دغه دلچسپ او ښکلی مضمون مطالعه کړو، اوس د ښوویالي شمس الدین شمس د لیکنې په باره کې خبرې کووم د استاذ معاصر تاریخ ګټور او په زړه پورې اثر دی د مضوعاتو تسلسل پکې مراعت، د معتبرو ماخذونو څخه استفاده کړې ده. د اصطلاحاتو وضاحت یې کړی دی موضوعات په مختصر او مدلل ډول لیکل شوی، ژبه یې فصیحه او روانه ده او هر سړی چې په پښتو ژبه پوهېږي ترې استفاده کولای شي، زه د دغه اثر په لیکلو کې استاذ ته مبارکي وایم او د هغه د نورو کتابونو د لیکلو په هېله او د هغه د دغه اثر لوستل ټولو افغانانو ته توصیه کوم.

په ډېره مینه او ادب
ښوونمل استاذ عبدالمالک فیضان
د ننګرهار د عالي دارالمعلمین
د ټولنېزو علومو د ډیپارتمنت د علمي کدر غړی



## د لیکوال سریزه

د افغانستان د پخوانیو پېړیو او معاصرو پیړیو تاریخ د افغانستان په عالي دارالمعلمینو کې د ټولنیزو علومو په دیپارتمنت کې یو مهم مضمون دی، دغه مضمون د ټولنیزو علومو په څانګه کې څلور کریډټونه لري یعنې په ۶۴ ساعتونو کې تدریس کېږي، د غه مضمون په نورو څانګو کې په ۳۲ ساعتونو تدریس کېږي، د افغانستان د معاصر تاریخ میتودونه عبارت دي له لکچر میتود، سوال او ځواب میتود، مباحثې او مناقشې میتود، د مسابقې میتود، د فکري مشورې میتود، د سیر علمي میتود او داسې نور.... د غه کتاب په څلور فصلونو کې لیکل شوی دی.

د دغه اثر پیل د احمد شاه بابا د جلوس څخه شروع او د اشرف غني د جمهوري ریاست تر دورې پورې دی، د دغه کتاب مهم موضوعات په لاندې ډول دي:

د افغانستان تاریخي نومونه، د احمدشاه بابا ژوند او د هغه پاچاهي، فتوحات او خدمتونه د تیمور شاه سلطنت او د هغه د زمانې مهمې پیښې، د شاه زمان، شاه محمود، شاه شجاع سلطنتونه د افغان او انګریز لومړۍ جګړه، محمدزایانو د سلطنت انتقال د امیر دوست محمد خان، امیر شیر علي خان، امیر عبد الرحمن خان او امیر حبیب الله خان اماراتونه د افغان او انګلیس دویمه او درېیمه جګړه، د افغانستان خپلواکي، د امان الله او نادر شاه سلطنت، د سردار محمد داؤد خان جمهوري دوره، د ثور خونړۍ کمونیستي کودتا او د کمونستان واکمني او د روسانو پر ضد د افغانانو جهاد، د جهادي رهبرانو منځته راتګ، د طالبانو اسلامي تحریک او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی سقوط، د بن کنفرانس او د حامد کرزی او اشرف غنی جمهوري دورې دي.

د کتاب په کتلو کې د ننګرهار د عالي دارالمعلمین قدرمنو استاذانو هر یو ښوونیار عبد البصیر حکمت او ښوونیار عبد المالک فیضان څخه یوه نړۍ مننه کوم او د چاپ په برخه کې د حکمت خپرندویې ټولنې له مشر کمال الدین حکمت څخه مننه کوم، چې د دې کتاب د چاپ چارې یې په خپله غاړه واخیسته او د زده کوونکو خدمت ته یې وړاندې کړ.

او په پای له درنو لوستونکو څخه هیله کوم که چېرې په دې کتاب کې مو کومه نیمګړتیا تر سترګو شوه د مهرباني له مخې حکمت خپرندویې ټولنې ته خبر ورکړئ، تر څو په راتلونکې چاپ کې اصلاح کړي.

په درنښت

ښوونیار شمس الدین شمس

د ننګرهار عالي دار المعلمین د ټولنیزو علومو استاذ



# لومړی فصل

## د افغانستان تاریخي نومونه:

افغانستان یو لرغونی هېواد دی، د تاریخي او جغرافیایي اسنادو او بشري ارزښتونو له مخې د دې هېواد لرغونتیا پنځنیموزرو کالونو ته رسېږي، افغانستان په دې اوږوده تاریخي دوره کې په درېو مشهورو نومونو یاد شوی دی.

### ۱– آریانا:

اریانا چې د نجیبو خلکو د اوسېدو ځای معنا درلوده او د اروپایانو له خوا زموږ د هیواد په اړه کارول شوی دی، دا نوم لومړی ځل یوناني مؤرخ اراتوتنس چې له میلاده مخکې یې په درېیمې پیړۍ کې ژوند کاوه، کارولی دی د دې اثر اصلي متن په لاس کې نشته، خو د استرابون یوناني جغرافیه لیکوونکی او څېړونکی له خولې د اریانا یادونه کړې ده، سربېره پر دې هیرودت او بطلیموس هم په خپلو اثارو کې د اریانا نوم کارولی دی، په هر صورت د اریایانو د میشتیدو یا ځای پر ځای کېدو له وخته دا نوم په دې خاوره ایښودل شوی دی، دا نوم د اویستا زمانې له میلاد څخه زر کاله مخکې تر پنځم میلادي پیړۍ پورې (۱۵۰۰) کالو په اوږدو کې دې هېواد ته ورکړی وو او په اویستا کې داریانا په نوم یاد شوی دی.

### ۲– خراسان:

خراسان د عربي او اسلامي مؤرخینو لخوا دې هیواد ته کارول شوی دی، چې د ختیځ او لمر ختلو معنا ورکوي، په دې کې شک نشته چې د خراسان جغرافیایي حدود او د هغې پراختیا په هره زمانه کې د پاچاهانو او واکمنانو له سیاست سره توپېر درلود، خو په اصل کې له ډهلي (هند) نه تر اصفهان (ایران) پورې غځېدلی هېواد وو، کله به څو ښارونو ته د خراسان نوم ورکاوه، د هغو اسنادو له مخې چې اسلامي جغرافیه پوهانو وړاندې کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی بیا په مجموع کې خراسان تر (۱۹) پیړۍ پورې ننني افغانستان ته ویل کېده، خراسان ورو ورو له یوې ورې جغرافیایي سیمې څخه د اریانا جغرافیایي سیمې پورې پراختیا وموندله، په پایله کې خراسان د یوه لوی او ستر هېواد په نوم واوښت.

**۳– افغانستان:**

د لسمې پیړۍ اسلامي لیکوالانو په اثارو کې د افغان کلمه د هېواد د یو شمېر پښتنو قبیلو لپاره وکارول شو، د وخت په تېریدو سره یې معنا پراخه شوه وروسته بیا په اتلسمه پیړۍ کې د ټولو پښتنو لپاره وکارول شو، خو د افغانستان نوم لومړی ځل یو شمېر ختیځو ولایتونو ته ورکړل شوی وه، په څوارلسمه پیړۍ کې د هېواد ختیځ ته په ځانګړې ډول د سلیمان غره او هغې شاوخوا سیمو ته ویل کېده، په اتلسمه میلادي پیړۍ کې افغانستان یوه لویه او پراخه سیمه وه یعنې د سند، ملتان، کشمیر، نورستان څخه تر کندهار او ملتانه پورې پراختیا وموندله او د افغانانو اصلي هستوګنځای وبلل شو، په ۱۹ میلادي پیړۍ کې د اریانا او خراسان د نومونو پر ځای افغانستان نوم د مرکزي اسیا د سیاسي جغرافیې په چوکاټ کې ځای ونیوه په حقیقت کې ابدالي احمدشاه بابا و چې د دویم ځل لپاره یې د افغانستان یووالی ټینګ کړ او د پخواني اریانا سیاسي، جغرافیایي حدود یې بیا راژوندی کړ، په خواشینې سره باید یادونه وکړو چې له احمدشاه بابا او تیمورشاه څخه وروسته د دوی د زامنو ترمنځ بې اتفاقي، د سدوزیو او احمدزیو ترمنځ کورنۍ جګړې، د پردیو مستقیم او غیر مستقیم لاس وهنو داسې عوامل رامنځته کړل، چې د افغانستان ډېره خاوره له لاسه ورکړي او وچې پورې احاطه شي او په یو کوچنی هېواد چې اوبو ته لار نه لري واوښت او د احمدشاه بابا تقریبا ۲ میلونه km لویه امپراطوري په ۲۵۰۰۰۰km مربع سیمه بدله شوه.



## د افغانستان اوسني سرحدات

**۱. شمالي سرحدونه:**

افغانستان د مرکزي اسیا له جمهوریتونو (شوروي اتحاد سره ۲۳۸۰,۵ km) ګډ سرحد لري، د برطانیه او شوروي ګډو سیاسي فعالیتونو په ۱۹ پېړۍ کې د نوموړي سرحد په ټاکلو کې مهم رول ولوباوه، ځکه برطانیه نه غوښتل چې هند کې خپله امپراطوري د روسیې سره هم سرحده کړي، هڅه یې کوله چې د روسیې ګاونډي دولتونه تر خپل نفوذ لاندې وساتي، د همدې هدف لپاره د دې هېواد په کورني او بهرني چارو کې یې مستقیمې لاسوهنې پیل کړې چې د افغانستان د سرحدي کرښو د ټاکلو پر وخت د انګلیس د پلاوي شتون د دې خبرې ښه ثبوت دی لکه د ریجوي، مګمهان، ډیورنډ، پامیر، شیر علي خان سرحدي کرښې چې په څو مرحلو کې ټاکل شوي، انګلیسي نمایندګان په کې موجود و.

**الف: شیر علي خان سرحدي کرښه:**

په ۱۷ پېړۍ کې چې روسیه لویه امپراتوري تاسیس کړ، خو بیا هم په وچه کې ایسار وو، غوښتل یې چې د افغانستان له لارې د هند هېواد طبیعي زیرمو ته ځان ورسوي، انګلیسانو د هند پولې ته د روسانو وړاندې تګ د ځان لپاره خطرګانه، کله چې د امیر شیر علي خان په دویمه پلا پاچاهۍ کې روسانو د مرکزي اسیا هېوادونه ونیول، انګلیسان او امیر شیر علي خان دواړه په تشویش کې شول، انګلیسانو یو نفر سنیطرز بورک ته ولېږه، ترڅو د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د حقیقي پولې ټاکلو په هکله خبرې وکړي، چې دغو خبرو (۱۸۶۹-۱۸۷۳م) کاله پورې دوام وکړ، دواړو خواوو قناعت وکړ او د افغانستان، روسیې او انګلیس نماینده ګانو د یو کمیسیون په ډول دغه سرحدي کرښه چې د ویکتوري جهیل څخه تر خم آب پورې اوږدوالی لري وټاکل، د دغه طبیعي سرحداتو اوږدوالی چې (۱۸۰۰km) دی د امیر شیر علي خان د کرښې په نامه یادېږي خو کله چې په (۱۹۹۲) م کال شوروی اتحاد د افغانستان د جهاد له برکته ماتې وخوړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجزیه شو نو زموږ شمالي ګاونډي هیوادونو د یوه خپلواکه هیوادونو په توګه رامنځته شول چې اوس موږ د هر هیواد سره بیل سرحد لرو لکه د تاجکستان سره ۱۳۶۰،۷کیلو متره د ازبکستان سره۱۴۵،۳ کیلو متره او د ترکمنستان سره ۸۷۴ کیلو متره پوله لرو.

**ب: د امیر عبدالرحمن خان سرحدي کرښه:**

د امیر عبدالرحمن په وخت کې دوه سرحدي کرښې د افغانستان او شوروي ترمنځ ټاکل شوې وې.

**لومړي. د ریجوي سرحدي کرښه:**

کله چې روسانو په (۱۸۸۵) میلادي کال پنجده ونیوله باید انګلیسانو د مخکښې تړون له امله افغانستان سره فوځي ملاتړ کړای وی، مګر هغوی یوازې په منځګړتوب بسنه وکړه او د افغانستان او روسیې ترمنځ یې په **۱۸۸۵** میلادي کال کې د ذوالفقار څخه تر خم آب پورې سرحدي کرښه تعین کړه او روسانو د پنجده سیمه ونیوله، د انګلیس پلاوې مشر ریجوي نومېده، نو ځکه دغه کرښه د ریجوي په نامه یادېږي. البته چې پنجده (۱۱۰۰) سوه کیلو متره مربع مساحت لري چې اوس ترکمنستان پورې تړلې سیمه ده.

**د پامیر سرحدي کرښه:**

پورتنیو دواړو سرحدي کرښو د روسیې او افغانستان تولې سرحدي لانجې په ښه توګه سره حل نه کړې ځکه روسانو غوښتل چې د افغانستان خاوره اشغال کړي، چې بیا هم امیر عبدالرحمن خان د انګلیسانو په مشوره د آمو سیند له هغې خوا سیمو څخه تېر شو او د دوی ترمنځ د ویکتوریا له جهیل څخه د یولي تر درې پورې سرحد تعین شو، چې د افغانستان دولت شغنان او روشان ولایتونه له لاسه ورکړل او په بدل کې یې یواځې یو اوږد دهلیز دواخان په نوم لاس ته راوړ، چې د دې سرحدي کرښې په واسطه روسیې او برطانوي هند سره جلا شول.

**دویمه: ختیځه سرحدي کرښه:**

افغانستان د برطانوي هند سره د ګاونډیتوب له امله نه یوازې دا چې د احمد



شاه بابا د امپراطورۍ نیول شوې سیمې له لاسه ورکړې بلکې د افغانستان اصلي خاوره یعنې پښتونستان هم ترې جلا شو، افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت په اساس چې د مرکزي اسیا او هند حاصلخیزو ځمکو ترمنځ د ارتباط لاره ګڼل کېږي چې د روس او برطانیې د پرمختګ په نتیجه کې یې لا زیات اهمیت پیدا کړ، کله چې روسیې د مرکزي اسیا جمهوریتونو، خیوا، سمرقند او بخارا ونیوه د آمو سیند (د افغانستان شمالي سرحد) ته راورسېدل په مقابل کې برطانیه هم د بهارا ایالت او پنجاب ونیول له سند څخه راتېر شول او د افغانستان ختیځې دروازې ته راورسېدل او خپل پرمختګ ته یې د افغانستان په ختیځ او جنوب (پښتونستان) کې ادامه ورکړه او امیر عبدالرحمن خان سره د ډیورنډ تړون په (**۱۸۹۳**م) کال لاسلیک کړ، د دغه تړون له مخې سوات، چترال، باجوړ، وزیرستان، چمن او نورې سیمې زموږ له هېواد څخه جلا شوې.

امیر عبدالرحمن خان دغه تړون ومانه خو امیر عبدالرحمن خان دا نه وه منلې چې د ډیورنډ کرښه دې د یو بین المللي سرحدي کرښې په توګه وپېژندل شي، بلکې د انګریزانو د نفوذ سیمه ګڼل کېده، دغه کرښه د کلیک له کوتل څخه د واخجیر تر جنوب ختیځه پورې واقع ده او د ملک سیاه تر غره یعنې ایران تر سرحد پورې رسېږي.

نښې او علامې د دې لپاره کېښودل شوې چې د برطانیې او افغانستان د نفوذ سیمه توپېر ولري، مګر له هند څخه د انګلیسانو د وتلو په وخت کې چې د پاکستان دولت جوړ شو د سرحدي خلکو (پښتونستان) موضوع لانجمنه پاتې شوه چې پاکستان اوس پښتونستان د خپلې خاورې برخه ګڼي، د پاکستان دا ادعا غلطه ده، ځکه د افغانستان دولتونو په هغه وخت کې د پښتونستان په هکله خپل نظر هر وخت مسؤلو مراجعو ته ویلې لکه امیر عبدالرحمن خان د خپلې واکمنۍ پر مهال او حبیب الله خان د خپلې واکمنۍ پر مهال د قبایلو سره مرسته کړې او امان الله خان چې کله په (**۱۹۲۱**م) کال د برطانیې سره تړون لاسلیک کاوه، د پښتونستان موضوع یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاده کړه، همدارنګه نادرخان لویې جرګې ته خطاب کې د پښتونستان موضوع یاده کړه، مګر کله چې (۱۹۴۷م) کال برطانیه له هند څخه خارجېده د افغانستان مطالبې له نرمۍ څخه جدي شکل غوره کړ، مګر کومه پایله یې لاس ته رانه وړه. دا چې د ډیورنډ سرحدي پوله په مختلفو ارقامو ښودل شوی دی، خو د افغانستان د کارتوګرافی څانګې د نوي معلوماتو له مخې چې زه خپله هلته تللی وم او دا نوي معلومات او نقشې چې جوړېدلې دا ځای مې هم وکتل چې له پښتونستان او بلوچستان سره زموږ پوله (۲۳۱۰) کیلو متره ښودل شوی دی.

**دریم: غربي سرحدي کرښې:**

په غرب کې د ایران او افغانستان ترمنځ دوه سرحدي کرښې موجودې دي چې (۹۲۵) کیلو متره اوږدوالی لري.

**الف: د مګمهان سرحدي کرښه:**

د افغانستان دولت غوښتل دا مسئله د سولې له لارې حل کړي مګر کله چې امیر شیر علي خان (۱۸۲۳م) کې په کورنۍ جګړه بوخت و، ایران د وخت څخه ګټه واخیسته او نیمروز خواته یې پرمختګ وکړ، کله چې امیر شیر علي خان د دویم ځل لپاره قدرت ته ورسید، غوښتل یې چې سیستان بېرته ونیسي، انګریزانو د ایران په طرفدارۍ د منځګړتوب غوښتنه وکړه په (۱۸۷۲م) کال یو هئیت د ګولډ سمت په نامه راولېږه نوموړی د افغانستان په زیان او د ایران په ګټه سیستان په دوو برخو وویشه چې په نتیجه کې د انګریزانو او امیر شیر علي خان اړیکې خرابې شوې، انګلیسانو د دې لپاره چې امیر خوشحاله کړي د ګولډ سمت پرېکړه یې سهوه وګڼله او امیر شیر علي خان ته یې د (۱۲) لکو روپۍ او وسلې ورکولو وعده وکړه، امیر روپۍ وانه خیستې او سرحدي موضوع لاینحله پاتې شوه.[1]

(۱)ـ مګمهان سرحدي کرښه کې انګریزانو د افغانستان خاورې ته پنځوس کیلو متره داخل شو او د هلمند په اوبو کې یې ایرانیان له موږ سره شریک کړل چې هېڅکله افغانانو ته د منلو وړ نه دی.



بیا د امیر حبیب الله خان په وخت کې (۱۹۰۲م) کال مګمهان چې د انګلیسي هئیت مشري یې کوله دغه سرحدي کرښه د ملک سیاه له غره څخه د تور غره پورې چې (۹۵) میله اوږدوالی لري وټاکل چې نوموړې سرحدي کرښه د دغه هئیت د مشر (مګمهان) په نامه یادېږي.

**ب: د فخري سرحدي کرښه:**

د افغانستان او ایران ترمنځ سرحدي ستونزه د پورتنۍ سرحدي کرښې په تعینولو سره هم حل نه شوه د دواړو دولتونو د دیپلوماتیکو هلو ځلو وروسته په دې راضي شول چې ترکیې دولت دې منځګړتوب وکړي د ترکیې دولت په (۱۹۳۵م) (۱۳۱۳ش) کال جنرال فخر الدین التایي د سرحدي اختلاف د حل لپاره وټاکله جنرال فخر الدین التایي له ډېرو پلټنو او مطالعو وروسته خپله پرېکړه دواړو هېوادونو ته واوروه او د افغانستان لویدیځه سرحدي کرښه له تورغره څخه تر ذوالفقار درې پورې وټاکل شوه چې نوموړي کرښه د (فخري) په نامه یادېږي. خو اوس مهال د افغانستان د کارتوګرافی د څانګې د تازه معلوماتو له مخې په مجموع کې د ایران سره زموږ سرحدي پوله (۹۲۵) کیلو متره تثبیت شوې ده.

**شمال ختیځه سرحدي کرښه:**

په لومړي ځل د درېیو استازو لخوا چې غلام محی الدین د قطغن او بدخشان د ولایتونو حکمران افغاني استازي و او میجر جرلو (Major Gerlow) د انګلیسي هئیت رئیس و او فیفرو شویکوسیکي د تزاري روسیې هئیت رئیس ټاکل شوی و او د لوی پامیر او کوچني پامیر په سیمه کې په خبرو پیل وکړ چې دا خبرې نهه میاشتې اوږدې شوې، چې په نتیجه کې د پامیر سرحدي کرښه د افغانستان د تزاري روسیې او شمالي سرحدي کرښه د افغانستان او چین ترمنځه پوله تثبیت شوه.

د چین د ولسي جمهوریت د جوړېدو وروسته د (۱۹۴۹)م کال د سپتمبر د میاشتې په (۲۱)مه نېټه یو ځل بیا سرحدي خبرې پیل شوې او په (۱۳۳۶هـ ش) (۱۹۵۷م) میلادي کال موافقه وشوه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ پوله دې د ځمکې پرمخ تثبیت او وټاکل شي شمال ختیځه سرحدي کرښه چې د یولې له درې نه د یو قوس په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بڼه د کلیک تر کوتله د واخجیر د کوتل سهیل ختیځه پورې امتداد لري د افغاني پامیر د چین د سیکیانګ ایالت ترمنځ په (۱۳۴۳هـ، ش) (۱۹۶۴م) کې په فني توګه د ستنو په وسیله په نښه او تثبیت شو. د افغانستان د کارتوګرافی د معلوماتو له مخې اوس مهال د چین سره زموږ سرحدي کرښه (۹۲) کیلو متره تثبیت شوې ده.

په دې توګه د اریانا پراخه ځمکه او د احمد شاه بابا لویه امپراطوري د هند د سمندر له څنډو څخه کرار، کرار راغونډه کړای شوه، دا د عبدالرحمن خان د واکمنۍ په وخت په جبري ډول د دوو قدرتونو ترمنځ حایل او د جنوبي اسیا په مرکزي برخه کې د کمزوري اقتصاد سره په وچه کې ایسار پاتې شو چې تر اوسه پورې یې د سهیل او ختیځ سرحدونو حقوق خلکو ته نه ورکول کېږي، له همدې کبله زموږ هېواد د بیوزلۍ او بربادۍ په اور کې سوځي.

افغانستان اوس (۲۰) درجو او (۲۸) دقیقو او (۷۴) درجو او (۵۱) دقیقو ختیځ طول البلد د ګرینویچ ختیځ لوري (۲۹) او (۳۰) دقیقو (۳۸) درجو او (۳۱) دقیقو شمالي عرض البلد کې موقعیت لري. (۶۵۲۰۰۰) کیلو متره مربع مساحت لري چې په دې خاوره کې تقریباً (۳۰) میلیونو څخه زیات وګړي ژوند کوي، چې د نفوسو شمیر یې په یو کیلو متر مربع کې (۴۲) تنو ته رسیږي چې د افغانستان د سر شمېرنې د ادارې د وړاندوینې له مخې تر (۲۰۲۵) میلادي کال د افغانستان نفوس (۵۰) میلونه او تر (۲۰۵۰) میلادي کال پورې د افغانستان نفوس (۷۵) میلونه تنو ته به ورسیږي

د ټولو سرحداتو اندازه یې (۵۸۱۳) کیلومتره ده د افغانستان جغرافیایي موقعیت چې د مرکزي اسیا د هېوادونو لاره ګڼل کېږي، د دې سیمې لپاره په اقتصادي او سیاسي لحاظ ډېر مهم دي، ځکه چې د ایران، هند او مرکزي اسیا د هېوادونو د یو ځای کېدو نقطه ده.

د غبار صاحب په لیکنه کې د دوو خبرو په اړه فکر په کار دی یو دا چې د افغانستان د وګړو شمېر اوس زیات شوی دی او بل دا چې د پاکستان سره زموږ سرحدي ستونزه تراوسه نه ده حل شوې او همدا چې د ځینو احصائیو له مخې د افغانستان مساحت (۶۵۰) زره کیلومتره مربع ښودلی شوی دی ترڅو چې زموږ سرحدي مسئله په پاکستان سره حل نه شي حتماً په دې ارقامو کې فرق لیدل کېږي



## دویم فصل

## د احمد شاه بابا ژوند او واکمني



د احمد شاه بابا د زوکړې او د ځای په هکله بیلا بیل نظریات شتون لري د ځینو مورخینو په اند هغه په ملتان کی زیږیدلی دی او د نسب لړی یی له عبدالله خان سره چې په ملتان کې کډوال و تړل شویده خو اکثره مورخین پدی اند دي چې احمد شاه بابا (۱۱۰۲ هـ) (۱۷۲۳م) کال د هرات په ښار کې وزیږیده احمد شاه بابا د زمان خان زوی او د دولت خان لمسی دی.

مشر ورور یې ذوالفقار خان نومیده، چې د هرات واکمن و، وروسته د شاه حسین لخوا ونیول شو او بیا هم د نادر افشار پواسطه له خلاصیدو وروسته په مازندران کې مسموم کړای شو. مور یې زرغونه انا الکوزی نومیده، د پیدا ښت نېټه یې څرګنده نه ده خو د وفات نیټه یې ۱۱۷۴ هجری قمری کال اټکل شوی دی هغه مهال چې ذوالفقار خان په ۱۷۳۲ ز کال ۱۱۴۴هجری قمری په فراه کې د خپلو مخالفینو لخوا ماتې وخوړه احمد خان یې له ځان سره بوت او کندهار ته یې پنا یوړه دا وخت کندهار کې د میرویس نیکه زوی شاه حسین هوتک واکمن و خو هغه د قبیلوی اختلافاتو او ځینو احتمالي خطرونو له امله ذوالفقار خان او د هغه کوچني ورور احمد خان چې دا وخت یې عمر لس کاله و بندیان کړل، دوی شپږ کاله د شاه حسین په زندان کې و نادر افشار چې کله د کندهار ښار ونیو دی او ذوالفقار خان یې په ۱۷۳۸ز کال کې مازندان ته ولیږل.

څلور کاله وروسته کله چې نادر افشار له سوبو وروسته بیرته کندهار ته راوګرځید احمد خان ته د مازندان د سمیې نظم وروسپاره بیا یې د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافسر په توګه وټاکه خو دده د استعداد لیدلو سره یې د ابدالی او ازبکی پوځ مشری وسپارله وروسته یې د خپلو ساتندویانو د مشر په حیث وټاکه. په ۱۱ د ذوالحجی ۱۱۲۰هجری قمری کال چې ۱۷۴۷ ز د جون له شلمې نیټې سره سمون خوری نادرافشار د خپلو جنرالانو لخوا طبرستان په (فتح اباد ) سیمه کی ووژل شو احمد شاه بابا د هغه د کورنۍ ساتنه وکړه او په بدل کې ورته د نادر افشار میرمنې د کوه نور الماس او نور جواهرات ورکړل ځینې مورخین وایې دغه میرمنه یې پښتنه وه او صاحبه نومیده د کوه نور الماس (دغه الماس د هندوستان داندرا پراداش ایالت په حیدراباد ښار کې په ۱۲۵۲ز کال کې کشف شو د محلی واکدارانو لخوا شاه جهان ګورګانی ته ورسید په ۱۷۳۸ز کال کله چی نادر افشار پر هند حمله وکړه کوه نور الماس یی هم د غنیمت په توګه لاس ته راوړل چی وروسته د نادر افشار د میرمنې له خوا احمدشاه بابا ته په ډالی کې ورکړل شو.

له احمدشاه بابا نه تیمور شاه ته بیا شاه زمان ته او بیا شاه شجاع ته ورسید کله چې شاشجاع رنجیت سنګ ته پناه یوړه په ۱۸۳۸ز کال کې کوه نور الماس خپل اصلی ټاټوبی هندوستان ته ورسیده په ۱۸۷۷زکال کې بریتانیا د شرقی هند کمپنۍ په واسطه نوموړی الماس لاس ته راوړ چې په رسمی ډول ملکه ویکتوریا ته ورسیده اوس دغه الماس د لندن په تاریخی قصر کی ساتل کیږی).

احمدشاه بابا د جواهراتو سره کندهار ته راوګرځیداو د شیر سرخ په زیارت کې یوه لویه جرګه جوړه کړه ددی جرګې غونډی څو ورځې پرله پسې روانې وی دوی د مشر ټاکلو پر مسله جوړ نه راتلل د غونډی په نهمه ورځ صابرشاه نومی یو ملنګ چې د همدغه شیر سرخ په هدیره کې اوسیده له خپلی کوډلې راووت د هدیری تر څنګ پټی څخه یې د غنمو یو څو اوږی راپریکړل جرګې ته یی وراندیز وکړ چې د مشر ټاکلو لپاره ده ته واک ورکړی ټولو یې دا وړاندیز ومنه هغه پر احمد خان باندی چی تر دا وخته پوری په جرګه غلی ناست او مشری ته کاندید هم نه و لاس کیښود او هغه د غنمو اوږی یی په



پګړۍ کی ورته وروټومبل دغسی احمدشاه بابا زمونږ د هیواد مشر او واکمن په توګه وټاکل شو او د شیر سرخ لویه جرګه په بریالیتوب سره پای ته ورسیده..

## د احمدشاه بابا فتوحاتو ته لنډه کتنه

### د پانې پت جګړه:

احمدشاه بابا چې کله خپله اداره جوړه کړه او مرکزي حکومت یې ټینګ کړ ډېر ژر په اسیا کې تر ټولو لوی اسلامي پاچاهانو څخه وشمېرل شو همدا مهال د هندي مسلمانانو مشر شاه ولي الله دهلوي او د هند روښنفکرانو لخوا احمدشاه بابا ته عریضه ولېږله چې هندوان او مرهټیان په هند کې مسلمانان پر ناحقه وژني اسلامي مقدساتو ته په سپکه سترګه ګوري او د مسلمانانو پر مال او ناموس تیری کوي احمدشاه بابا ددغه خبر په اورېدو سره ټکان وخوړ او د یو مسلمان پاچا په توګه یې د مرهټیانو او هندوانو د ظلم څخه د مسلمانانو د ژغورنې لپاره دې جګړې ته مجبور شو په دې جګړه کې د احمدشاه بابا شپیته زره پلي او سپاره فوځ برخه درلوده او د مقابل لورې لس لکه مرهټیان، هندوان او راجپوتان د جنګ ډګر ته راووتل په دې جګړه کې د مرهټیانو د ملاتیر مات شو او دوه لکه کسان یې د جګړې په ډګر کې ووژل شول ۵۰۰۰۰ اسونه دوه لکه غوایان ۵۰۰ فیلان ځلورزره اوښان دوه ویشت زره بندیان د احمدشاه بابا لښکر لاس ته ورغلل چې د ابراهیم نومي بندي پرته نور ټول بندیان وبښل شول.

احمدشاه بابا په ۱۷۴۷ میلادي کال کې ملتان ونیوه په ۱۷۴۹ میلادي کال کې یې پنجاب او مروه ونیوه ۱۷۵۰ میلادي کال کې یې نیشاپور فتحه کړ، د ۱۷۴۹ - ۱۷۵۱ میلادي کلونو په اوږدو کې یې له امو څخه تر عمان او سند له سیند نه د ایران تر نیمایې پورې ټولې سیمې ونیولې او تر ۱۷۵۲ میلادي کلو پورې کشمیر، پنجاب، ملتان او هند په خپله امپراطورۍ پورې وتړل. کله چې احمدشاه بابا له هنده کندهار ته راستون شو نو سکانو بیا بغاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ او د پنجاب نائب الحکومه زین خان یې کلابند کړ احمدشاه بابا بېرته لاهور ته لاړ او د سیکانو دوه لکه لښکرو سره جګړه پیل کړ، سیکانو ماتې وخوړه او شل زره تنه یې د جګړې په ډګر کې ووژل شول احمدشاه بابا د سر هند حکومت امیر سنګهـ ته ورکړل او خپله بیرته لاهور ته راستون شو.

احمدشاه بابا په دې وخت کې د مشهد ښار کلابند کړ د ایران پاچا شارخ لور چې ګوهر شاد نومېده خپل زوی شهزاده تیمور ته په نکاح کړ چې په همدغه وخت فارسي ژبه د احمدشاه بابا په دربار کې نفوذ وکړ.

احمد شاه بابا نیک اخلاق درلودل له همدې امله خلکو ورته د بابا لقب ورکړ، هغه تاج په سر نه اېښوده او لونګی به یې په سر تړله، موزې به یې په پښو کولې د تخت پر ځای به په فرش او ځمکه کېناسته، د خلکو سره یې مستقیماً خبرې کولې او په ډېر تواضع به یې د خلکو سره چلن کاوه د پېښو په حل کې به یې له انصاف څخه کار اخیسته هغه د (۲۲) کاله سلطنت په موده کې یو ساعت هم په عیاشی تېر نه کړ، حتی ښکار یې هم نه کاوه، حریص نه و، هر څه یې ځان ته نه ټول افغانستان ته غوښته، په جګړه کې یې دښمن ته شاه کړې نه ده په جزاګانو کې یې د بدن د اعضاوو پرېکول منعه اعلان کړل او په تشریفاتو کې تیتېدل نه خوښېده او خپلو خپلوانو ته یې د دولت په اداره کې برخه ورنه کړه.

د احمد شاه بابا خوراک ډېر ساده او د افغانانو د هغه وخت رواج سره سم یې خپل خواړه تیارول او د ښځو شمېر یې له څلورو نه زیات نه دی.

احمد شاه بابا د ۱۱۸۲هـ، ق کال **۱۷۷۳** م کال وفات شو او یوه لویه امپراتوري یې افغانانو ته په میراث پرېښوده خو افغانانو د کورنیو اختلافاتو او د بهرنیو مداخلو له امله دا میراث ونه شوه ساتلی او تجزیه شوه ډېرې سیمې یې ګاونډیو تر خپل کنترول لاندې راوستل. چی د احمد شاه بابا د امپراتوری څه باندی دوه میلونه کیلو متره مربع سیمه په (**۲۵۰۰۰۰**) کیلو متره مربع بدله شوه.



## د احمد شاه بابا شخصیت اومړینه:

احمد شاه بابا زمونږ د هیواد یو دینپاله، هیواد پاله،علم دوست، عادل، مهربان او د ټولو غوره اسلامي اخلاقو او افغانی سپیڅلو خویونو خاوند ملی مشر و، احمدشاه بابا تاج نه په سراوه په ځمکه کیناسته،خوراک یې ډیر ساده و، ښځې یې له څلورو نه زیاتې نه وی،مقررات د لیاقت له مخې تر سره کول، هغه عالم او ادیب (شاعراو لیکوال)هم و او یو ننګیالی او توریالی فاتح هم و.

د خپلې واکمنې په ټوله دوره کې یې داسې ویاړلي کارنامې ترسره کړي چې زمونږ د تاریخ په زرینو کرښو لیک او هر یوه زمونږ اوسنې او راتلونکو نسلونو ته د غیرت او همت په زړه پوری درسونه دي هغه زمونږ هیواد ته نه هیریدونکې خدمتونه کړی دی لکه د بخارا نه کندهار ته د خرقې شریفی راوړل د شبرغان او کندهار ښارونه ودانول د ټول هیواد خلک یې د افغانستان تر یو بیرغ لاندې راټولول او تر ټولو مهم هندی مسلمانانو د مرهټیانو او سکانو څخه ژغورل او نور بې ساری خدمتونه یې کړی دی ځکه یې نو تل پاتی ویاړ او نوم په برخه او د ټولو افغانانو په زړه کې داسې ژور ځای موندلې چې زمونږ د ملت لوی او واړه یې په ډیر ګرانښت او درنښت بابا بولی. زمونږ دغه ملي مشر تر شپږویشت کالو پاچاهی وروسته د جمعې په شپه د یو پنځوسو کالو په عمر په ۱۱۸۲ هجری قمری **۱۷۷۳**م کال په کندهار کې وفات شو. الله تعالی دې جنت فردوس ورپه برخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تیمور شاه واکمني



۱۷۹۳-۱۷۷۳

تیمور شاه په ۱۷۴۲ میلادي کال په مشهد کې زیږېدلی دی او د پلار د مرګ په وخت کې د هرات والي و. ۳۰۰ ښځې درلودې، ۳۳ زامن، ۱۳ لوڼې، ۴ نکاحي او نورې وینځې وې. وزیرشاه ولي خان غوښتل چې خپل زوم شهزاده سلیمان د پاچاهۍ په تخت کښینوي، مګر د دولت نورو غړو د احمد شاه بابا وصیت ته ارزښت ورکاوه شهزاده تیمور یې د پاچاهۍ وړ ګاڼه شهزاده تیمور له هرات څخه د قندهار په لور وخوځېد شهزاده سلیمان د دولت د غړو د نه رضایت له امله له پاچاهۍ څخه تېر او وزیرشاه ولي خان هم د تیمور د هر کلي لپاره راووت خو تیمور شاه د نورو سردارانو تر اغیزې لاندې راغی د هغو لمسون په بنسټ یې شاه ولي خان د دوو زامنو سره له منځه یووړ چې د تیمور شاه دې کار سره د ابدالې په کورنۍ کې یو څه بې اتفاقي را ولاړ شو تیمور شاه د دې لپاره چې د قبیلوي قیوداتو څخه ځان ازاد کړي نو په همدې بنسټ یې په ۱۷۷۵ میلادي کال کې پایتخت له قندهار څخه کابل ته انتقال کړ ځینې مؤرخین د پایتخت د بدلولو علت د کابل ښار ستراتیژیک موقعیت او ښه هوا ګڼي تیمورشاه د خپل سلطنت په شل (۲۰) کلنه موده کې ټول داخلي شورشونه ارام کړل درې ځلې د خراسان خلکو مرزا شارخ د نادر



افشار لمسی چې د دې نماینده او تابع و پاڅون وکړ هغه ارام کړل په ۱۷۷۴ میلادي کال عبدالخالق خان سدوزي د شاه ولي خان مړینه بهانه کړه یو شمېر غلجایې درانې او نورو قومونه یې د ځان سره کړ او په شش ګاو کې د سردار پاینده محمد خان پواسطه ماتې وخوړه همدارنګه په ۱۷۷۹ میلادي کال د پېښور بالاحصار کې فیض الله خان او ارسلاخان نومورې کلابند کړل خو تیمور شاه پر هغوی بریالی شو او هغوی یې ووژل.

**د سکانو بغاوت:**

تیمور شاه هر کال د ژمي څلور میاشتې په جلال اباد او پېښور کې تیرولې په ۱۷۸۱ میلادي کال په پېښور کې و چې د سکانو له بغاوت څخه خبر شو، سکانو د ملتان ښار نیولی و او شپېته زره لښکر یې راټول کړی و، غوښتل یې چې سند دیره جات، دیره اسمعیل خان او دیره غازي خان ونیسي، تیمورشاه د زنګي خان تر مشرۍ لاندې د ملتان په لور لښکر ولېږه او خپله وروسته ورپسې روان شو زنګي خان پر دښمن بریالی شو او بېرته د تیمورشاه مخې ته راوګرځېد، تیمورشاه وروسته د بهاولپور په لور مخ کړ، د هغه ځای حاکم بهلول خان چې د بغاوت بیرغ یې اوچت کړی و له خپلې ارادې څخه واوښت عذر یې وغوښت او پاچا ته یې اطاعت وکړ د تیمورشاه لخوا بېرته د هغه ځای د حاکم په توګه مقرر شو او عفوه یې ورته وکړه.

**د کشمیر والي ازاد خان بغاوت:**

کله چې تیمورشاه د سکانو د بغاوت څخه خلاص شو په همدې ۱۷۸۱ میلادي کال په وروستیو کې د کشمیر والي ازاد خان د کریم داد خان زوی مرکزي دولت څخه سر وغړاوه، هغه ټکس یا مالیه چې کابل ته لېږل کېده په هغې یې ځانته درې زره لښکر برابر او د پاچاهۍ اعلان یې وکړ د تیمورشاه لخوا مدد خان د هغوی د ټکولو لپاره لښکر مشر وګمارل شو چې په پای کې ازاد خان مات او ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بخارا پاچا جګړه:**

شاه مراد د بخارا پاچا په ۱۷۸۸ میلادي کال د لوی لښکر سره په مروي تجاوز وکړ هغه يې ونیوله او د هغه ځای وګړي چې شیعه مذهبه وو د مذهب په بدلېدو او یا بخارا ته تبعیدولو مجبور کړل تیمورشاه هم د دیرش زره لښکر سره د بلخ په لور وخوځید، د بخارا پاچا د امو له سیند څخه پوري ووت په کلفت کې يې ځای ونیوه ورور يې عمرخان په اقچه برید وکړ او د تیمورشاه ارتباطي لار او فوځ ته د غلې او دانې د رسولو لاره بنده کړه مګر تیمور شاه لښکر چې په هر ځای کې د دښمن سره مخامخ شو هغوی يې په کلکه وټکول او شاه مراد يې دومره وارخطا کړ چې د علماوو په لېږلو يې د جګړې پای ته رسېدو او تړون د لاسلیک غوښتنه وکړه او امو سیند دواړو هیوادونو ترمنځ سرحد وټاکل شو.

**د تیمور مړینه:**

تیمورشاه نرم خويه او راحت خوښوونکی سړی و او د دري ژبې شاعر و د خپلې شل (۲۰) کلنې پاچاهۍ په موده کې د خپل پلار د دولت په ساتنه کې هڅه درلوده د نورو ځایونو په نیولو کې اقدام ونکړ د قدرت وخت يې د داخلي امنیت په راوستلو کې تېر کړ د راحت غوښتنې له کبله د هیواد چارو ته يې هیڅ پام نه کاوه خپل ژوند يې په عیاشۍ سره تېراوه نو له همدې امله انګریزانو په هندوستان کې خپلې جرړې وزغلولې د مغلو ناتوانه حکومت يې له منځه یووړ ټول هند يې ونیوه او زموږ ګران هېواد ته يې هم لاس اوږد کړ تیمورشاه په ۱۷۹۳ میلادي کال په پیښور کې ناروغ او کابل ته راوستل شو د ناروغۍ په وخت کې يې شاه زمان خپل ولیعهد وټاکه او کابل کې مړ شو.



## د شاه زمان واکمني



۱۲۰۷-۱۲۱۲

۱۷۹۳-۱۸۰۰ م

تیمور شاه به د ژمي موسم په ګرمو او معتدلو ښارونو لکه پېښور او جلال آباد کې تیروه نوموړی په ۱۷۹۳ م کال پیښور ته تللې و، هلته د معدی په ناروغۍ اخته شو، ښايي دا ناروغي ورته په خوړو کې د افراط له امله پیدا شوي وي، په خوړو کې به يې د بیلابیلو ځیزونو له خوړو څخه خوند اخیسته، د دربار طبیبان يې له درملنې څخه عاجزه شول او نظر يې ورکړ چې له پیښور څخه کابل ته ولاړ شي، که چیرته د کابل هوا د پاچا له طبیعت سره جوړښت وکړي، کله چې تیمور شاه د ناروغۍ په حال کې د کابل په لور حرکت وکړ، شهزاده شاه زمان د کابل والي و د خپل پلار د هرکلي او ستړي مشي لپاره د ختیځ په لور راروان شو او د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالی په چهار باغ صفا سیمه کې د خپل پلار سره یو ځای شو دواړه کابل ته راغلل خو په کابل کې هم د تیمورشاه درملنه ونه شوا و د ۱۲۰۷ ق کال د شوال په اوومه نېټه د یکشنبې په ورځ چې د ۱۷۹۳ م د می د ۱۹ نېټې سره سمون لري وفات شو د تیمور شاه له وفات څخه وروسته د ده د ۲۴ زامنو څخه شهزاده شاه زمان چې د علم پوهې او تجربې خاوند و، د درباریانو او سردار پاینده محمد خان په مرسته واک ته ورسید کله چې نوموړی پاچا شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه مهمې موخې او دوه مهمې ستونزې درلودې، ستونزه یې دا وو چې کورني اختلافات یعنې د ورونو مخالفت او د انګریزانو مخالفت له روسانو او شاه زمان څخه د هند ساتل چې په هره وسیله وي د شاه زمان دوه مهمې موخې عبارت دی: په افغانستان کې د مرکزی دولت پیاوړتیا او په هند کې د افغانی امپراتوری ساتل او انګریزانو څخه د هندي مسلمانانو خلاصون.
د شاه زمان ورونو غوښتل شهزاده عباس پاچا شي مګر د سردار پاینده محمد خان په مرسته ټول شهزاده ګان بندیان شول او شاه زمان پاچا اعلان شو د ورونو له ټولګي څخه همایون او محمود چې همایون د قندهار والي او محمود د هرات والي وو او په همغو ولایتونو کې اوسیدل له بند څخه ازاده پاتې شول کله چې شاه زمان همایون خپل اطاعت ته راوباله د امر څخه یی سرغړونه وکړه او بغاوت یی غوره کړ د ټکولو لپاره یی سردار پاینده محمد خان ولیږل شو د جګړې په ترڅ کې همایون ماته وخوړه بلوچستان ته وتښتیده په دې وخت کې شاه زمان غوښتل چې د انګریزانو لخوا د مخ په زیاتیدونکی خطر د مخنیوی په خاطر د یو سمبال فوځ سره د پیښور له لارې پنچاب ته ورغله په انګریزانو باندې ویره راغله ځکه د دوي شپته زره پوځ د شاه زمان ۱۵۰۰۰۰ زره فوځ سره مقابله نه شول کولای انګریزان دې ته چمتو شول چې د شاه زمان هر راز غوښتنې ومني خو له بده مرغه همایون یو ځل بیا پر قندهار یرغل وکړ او قندهار یې ونیوه سربېره پردې په کشمیر او پنجاب کې هم بغاوتونه پیل شول ځنګه چې شاه زمان یو سیاست مدار او پوه سړی وو دا یې غوره وګاڼه چی لومړی داخلي امنیت سمبال وروسته د باندنې خطر مخه ونیسي او مقابلې ته یې ځان تیار کړي ځکه شاه زمان د روس او انګلیس د ورځ تر بلې زیاتیدونکي قدرت او نفوذ څخه خبره و او له هغوی سره یې مقابله د یو لوی مرکزی حکومت څخه پرته لری ګڼله نو په دې لحاظ بیرته د کندهار په لور ستون شو کندهار یې له همایون څخه ونیوه همایون غوښته چې د بلوچستان له لارې هرات ته ولاړ شي مګر د محمود بلوڅ لخوا ونیول شو او شاه زمان ته راوستل شو شاه زمان نوموړی ړوند وروسته بندي



کړ چې دا کار یې د خپل زوی شهزاده قیصر د زخمي کیدو په بدل کې کړی و ځنګه چې محمود د همایون سکه ورور و د دې پیښې له خبریدو سره سم یې په هرات کې فوځ برابر او د کندهار په لور وخوځید مګر ماته یې وخوړه، په۱۷۹۷ م کال د سکانو د اړو دوړ د لمنځه وړلو لپاره شاه زمان پنجاب ته ولاړ تر څو هغه بغاوت ارام او د انګریزانو دسیسې شنډې کړی په دې وخت کې محمود له هرات څخه یو ځل بیا د کندهار په لور حرکت وکړ.
شاه زمان مجبور شو چې بیرته کندهار ته وګرځي محمود بیا د شاه زمان د لاسه د ګرشک په سیمه کې ماته وخوړه د ۱۵ ساعتو جګړو په ترڅ کې د محمود فوځ تباه یوازی ۱۰۰ تنه عسکرو سره هرات ته وتښتید د شاه زمان لخوا محاصره شو محمود خپل مور له یو لیک سره شاه زمان ته ولیږه شاه زمان د خپل میرې مور عذر قبول او محمود یی بیرته د هرات د والي په توګه مقرر کړ مګر محمود ډیر ژر د فتح خان سره لاس یو کړ او د شاه زمان سره جګړې شروع کړې د شاه زمان له دې مصروفیت څخه چې له خپلو ورونو سره په جګړه بوخت و له هیواد نه د باندې انګریزان په دې هڅه کې وو چې شاه زمان د تل لپاره د ایرانیانو سره په سیاسي کړاونو کې بوخت وساتي تر څو دې ته وخت پیدا نه کړي چې د هند په لور لښکرکشي وکړي د دې د سیسو پسې یوه داسې پیښه رامنځته شوه چې د سدوزي دولت بنسټ یې ولړزاوه.
هغه دا چې قومي مشرانو خپل ځان د رحمت الله خان په برابر د غورځیدو په حال کې ولید په ۱۷۹۹ م کال یوه کې یوه دسیسه ترتیب کړه چې باید د شاه زمان پر ځای شاه شجاع پاچا او رحمت الله خان لمنځه یوسي شاه زمان له دې دسیسې څخه خبر شو د پاینده محمد خان په شمول یې ۱۳ تنه قومي مشران اعدام کړل.
دغې پیښې د هیواد په داخل کې لاپسې ګډوډي زیاته کړه د قومي مشرانو څخه پاتې کسان خصوصا فتح خان د سردار پاینده محمد خان زوی د خپل پلار د غچ اخیستلو په موخه د شاه زمان په خلاف راپورته شو د محمود سره یو ځای شو د ایران او انګریزانو په مرسته په کندهار قوی حمله وکړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار یې ونیوه شاه زمان په کابل کې وه چې د کندهار له نیولو څخه خبر شو دیرش زره لښکر یې برابر کړ او د کندهار په لور وخوځید خپل قومندان احمد خان نورزا یې د ۱۰۰۰۰ عسکرو سره د مخه کندهار ته ولیږه او خپله ورپسې روان شو کله چې شاه زمان غزنې ته ورسیده د احمد خان نورزایې د خیانت څخه خبر شو چې د خپلو لښکرو سره دښمن ته تسلیم شو او دا کار یې ځکه وکړه چې فتح خان سره دده شخصي ملګرتیا او اندېوالي وه او له رحمت الله څخه ویریده شاه زمان بیرته کابل ته راستون شو په کابل کې پخپلو درباریانو بې اعتباره شو په دې فکر کې شو چې باید پېښور ته ولاړ شي د خپل سکه ورور شاه شجاع سره چې د پېښور والي و یو ځای او د هغه په مرسته یو زورور لښکر جوړ او د ښمن ته ماتې ورکړي د خپل وزیر رحمت الله خان سره چې د وفادار خان لقب یې ګټلی و د پېښور په لور وخوځیدل په شینوارو کې د استراحت لپاره د عاشق الله شینواري کلا ته راوګرځیدل خو د کور خاوند ورسره خیانت وکړ پاچا او وزیر یې بندیان او شاه محمود ته یې ولیږل چې په دې وخت کې یې کابل نیولی وو سردار رحمت الله خان یې په دار وځړاوه او شاه زمان یې د همایون په بدل کې ړوند او بندي کړ.

په دې ترتیب د شاه زمان اته کلنه پاچاهي ټوله په داخلي جګړو کې تیره او پای ته ورسیده، مورخین لیکي چې شاه زمان په دې اتو کالو کې د اس له شا څخه هم کوز شوی نه دی ټول وخت یې په فوځي سوقیاتو کې تیر شو دده د پاچاهۍ په وخت کې له یو لوري فرانسه او انګلیس د هند د لاسته راوړلو په کوښښ کې وو او له یو بل سره یې د هند په نیولو کې سیالي کول له بل لوري د ناپیلون نقشې وې چې روسان یې هم د مرکزي اسیا د هیوادونو نیولو ته وهڅول او انګریزان یې دیته اړ کړل چې د ایران پاچا فتح علي شاه د غلام اومریې په څیر په خپل خوا کې ونیسي او همیشه یې شاه زمان په مقابل کې استعمال کړي د خراسان او هرات نیولوته یې ولمسوي او د شاه زمان د بوختیدو یوه وسیله یې وګرځوي فتح علي شاه قاجار هم د شاه زمان د ورونو د بې اتفاقۍ څخه ګټه واخیسته شاه زمان یې بوخت وساته او ددې وخت یې



ور نه کړ چې په هند باندې یرغل وکړي او هغه نقشې په کار واچوي کوم چې شاه زمان د هند د نیولو لپاره ځان سره درلودې خو په ټوله کې انګریزانو د شاه زمان د ناکامۍ لپاره له دریو لارو څخه استفاده وکړه.

۱- یو جاسوس یې د غلام محمد هندوستاني په نوم د یو طبیب او روحاني شخص په توګه رالیږل.

۲- د ایران د ربار ته خپل نماینده سرجان مکلم لیږل چې د ایران دولت دې کار ته چمتو کړي چې پر هند باندې د شاه زمان د یرغل په وخت کې د ایران دولت پر هرات حمله وکړي.

۳- په هند کې د محلي راجاګانو رنجیت سنګهه ملاتړ یې ددې لپاره کاوه چې هغوی د شاه زمان پر ضد پاڅون وکړي.

۴- د حج فریضې د اداء کولو څخه وروسته د هند د اجمیر ښار ته لاړ او په (۱۸۴۴) م د (۷۴) کالو په عمر کې مړ او هملته خاورو ته وسپارل شو.

په پای کې انګریزان پخپلو دسیسو کامیاب شول، شاه زمان یې له منځه یوړ، تمبل او عیاش شاه محمود واک ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاه محمود لومړی ځل پاچاهي



۱۲۱۸-۱۲۱۷
۱۸۰۳-۱۸۰۰م

د شاه زمان له ړنديدلو څخه وروسته شهزاده شاه محمود د وزير فتح خان په مرسته واک ته ورسيد او د هغو خدمتونو له امله چې کړی يې و د شاه دوست لقب يې ورکړ خو د محمود بې کفايتی، عياشی او تنبلی له امله د هيواد په اداره کې سياسي بحران رامنځته شو همدارنګه د انګليسانو استعماري فعاليتونو ټول هيواد ونيوه د ايران قاجاري دولت د انګليسانو د لاس آله شوه د خراسان د ولايت د تجزيې په لټه کې شو او د پنجاب ولايت چې پخوا د افغانستان د قلمرو يوه برخه و، سکانو پکې د خپلواکی اعلان وکړ کله چی شاه شجاع د شاه زمان له ړنديدو او بندي کيدو او د شاه محمود له پاچا کيدو څخه خبر شو نو ځرنګه چې شاه زمان يې سکه ورور و نو د خپل ورور د غچ اخيستلو ته ملا وتړله او د افغانستان د تخت او تاج د نيولو اقدام يې وکړ، که څه هم په لومړيو وختونو کې انګريزانو شاه محمود د شاه زمان په مقابل حمايه کاوه مګر وروسته د خپلو استعماری غرضونو د پرمخ وړلو او د شاه زمان په وسيله پر هندوستان د ناپيلون د يرغل د مخنيوي لپاره يې تر هغه شاه شجاع ښه ځيره پيدا کړه او هغه يې د شاه محمود پر ضد ولمساوه



شاه محمود د بالاحصار په ارګ کې په عياشی عيش او عشرت اخته و او دولتي چارې د داسې خلکو په لاس کې و چې د قدرت د لاسته راوړو پر سر يو له بل سره په سيالی اخته و لکه فتح خان چې د شاه دوست لقب ګټلی و شير محمد خان چې د مختارالدوله لقب ګټلی و محمد اکرم خان صدراعظم او داسې نور د شاه محمود درې کلنه دوره کې خلک ناراضه شول د محمود په مقابل کې خلکو پاڅون وکړ او شاه شجاع ته د راتګ زمينه مساعده شوه او کابل ته داخل شو سردار فتح خان د محمود د خلاصون هڅه وکړه مګر قاضي قلعه کې د شاه شجاع د عسکرو لخوا ماته وخوړه کندهار ته وتښتيده ارګ د شاه شجاع لاسته ورغله محمود يې بندي کړ او خپله پاچا شو د شاه محمود لومړی ځل پاچاهي مهمي پيښې عبارت دي له:

۱.د شاه شجاع د لومړي قيام ځپل.
۲.د غلجيانو د قيام ځپل.
۳.د فارس قاجاري دولت لخوا په ۱۸۰۳م کال د خراسان ايالت نيول
۴.بلوڅ حکمرانانو کې د استقلال فکر پيدا کيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاه شجاع لومړی ځل سلطنت



۱۲۱۹-۱۲۲۴ ق

۱۸۰۳-۱۸۰۹ م

د شاه زمان ړندیدل د شاه محمود عیاشي او تنبلي او اداري کمزورتیا او له هغه څخه د خلکو کرکه، د شاه شجاع د پاچاهۍ لپاره زمینه برابره کړې وه په ۱۸۰۳ م کال شاه شجاع د کابل د خلکو په غوښتنه د زرمت او لوګر له لارې کابل ته ننوت او په بابر بڼ کې دیره شو او خپله دوستي یې د انګریزانو سره ښکاره کړه وزیر فتح خان د مالیاتو د راغونډولو لپاره بامیانو ته تللی و کله چې کابل ته را ورسید غوښتل یې چې شاه محمود له محاصرې خلاص او شاه شجاع ته ماته ورکړي ځکه نو د قاضي قلعه په سیمه کې د وزیر فتح خان او شاه شجاع قواو ترمنځ جګړه ونښته چې په پایله کې وزیر فتح خان ماتې وخوړه او کندهار ته وتښتید د شاه شجاع کسانو تر جلوس وروسته ملا عاشق الله شینواری کابل ته راوست لومړی یې ترې د کوه نور الماس واخیست او بیا یې اعدام کړ خو محمود یې د شاه زمان په مقابل کې ړوند نه کړ که چیرې دا کار یې کړی وای امکان و چې دا د ړندیدو مسله نوره هم غزیدلې وای د خپل حکومت د ټینګښت په برخه کې له وزیر فتح خان او د هغه له ورونو څخه ویره درلوده.

نو له همدې امله د امیر دوست محمد خان خور یې ځان ته په نکاح کړ خو بیا



هم یو پر بل باور نه درلود ځکه چې د دښمنۍ اصلي ریښه یې د شاه زمان په وسیله د سردار پاینده محمد خان اعدامول وچې د وزیر فتح خان د پلار قاتل ګڼل کیده نو وزیر فتح خان هڅه کوله چې شاه محمود د دویم ځل لپاره پاچاهۍ ته ورسوي په دغه وخت کی شاه شجاع پیښور او کشمیر کې په جګړه کې مصروف و چې محمود د بالاحصار زندان څخه وتښتیده له فتح خان سره یو ځای شو او د شاه شجاع قواوو ته د مملې په سیمه کې ماتې ورکړه شاه شجاع وتښتید محمود د دویم ځل لپاره پاچا شو شاه شجاع خپل لومړني سلطنت کې انګریزانو سره یو درې ماده ییز تړون هم لاسلیک کړ چې په لاندی ډول و.

۱- فرانسه او ایران قاجاری دولت د افغانانو پر ضد یو شوي که چیرې دوی وغواړي چې د افغانستان له لارې پر هند حمله وکړي د افغانستان دولت باید د هغوی مخنیوی وکړي او پرې نږدي برطانویان هند ته داخل شي.

۲- که چیرې قاجاریان او فرانسویان پر افغان دولت حمله وکړي نو انګریزان به حتما د افغانستان دولت سره مرسته کوی

۳- د دواړو دولتو نو ترمنځ به تل پاتې دوستي وي د پردی احساس به نه کوي د یو بل په داخلي چاروکې مداخله نه کوي خو افغان دولت هیڅکله فرانسویانو ته لار نه ورکوي، پورته درې مادې د انګریزانو په ګټه او افغانانو په زیان وي او افغانستان یې د یو حایل هیواد په توګه رامنځته کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاه محمود دویم ځل واکمني
۱۸۰۹-۱۸۱۸م
۱۲۲۴-۱۲۳۳ش

مخکې هم یادونه وشوه چې شاه محمود یو عیاش او بېکاره انسان و چې د هېواد له اداره کولو څخه عاجز و، خو نوموړی د لومړي ځل واکمنۍ او ماتې څخه پند وانخیست او په دویم ځل بیا په عیاشۍ مصروف شو د دولت چارې یې وزیر فتح خان ته پرېښود او هغه ته یې د (اشرف الوزرا) لقب ورکړ.
وزیر فتح خان له دې باور څخه ګټه واخیسته او د خپل شخصي قدرت د ټینګولو هڅې یې پیل کړې او خپل ورونه یې د هېواد په مهمو ولایتونو کې مقرر کړل د شاه محمود په دویم ځل پاچاهۍ کې د نفوذ ساحه یوازې کابل او کندهار و، څکه پېښور د شاه شجاع، کشمیر د عطا محمد خان پامیزایي هرات او فراه د حاجي فیروز الدین په لاس کې و، چې دې ټولو د مرکزي دولت متابعت نه کاوه او حاجي فیروز الدین د ایران تر تاثیر لاندې و.
شاه محمود په دویم ځل واکمنۍ کې هم زیات وخت په مرکز کې و، وزیر فتح خان د هېواد ختیځې برخې کنترولې، چې د وزیر د فعالیتونو په نتیجه کې شاه شجاع مجبور شو چې د رنجیت سنګه په دربار کې پناه واخلي او هغه (رنجیت) تشویقاوه چې د اټک قلعه ونیسي چې بالاخره په (۱۸۱۲م) کار رنجیت سنګه د اټک قلعه ونیوله او د حاجي فیروز الدین څخه یې غوښتنه وکړه چې د هرات او فراه مالیه د ایران دولت ته ورکړي حاجي فیروز الدین د ایران غوښتنه قبوله نه کړه او د شاه محمود څخه یې مرسته وغوښتله شاه محمود (۳۰) زره عسکر د افغاني جنرال وزیر فتح خان په مشرۍ هرات ته واستول وزیر فتح خان لومړی حاجي فیروز الدین د هرات د ولایت د مقام څخه ګوښه کړ او کندهار ته یې د خپل حرم سره راولېږه سردار کوندل خان او



امیر دوست محمد خان د نورو شهزاده ګانو د بندي کولو وروسته د حاجي فیروز الدین خزانه تصرف کړه په ښار کې د امنیت د ټینګولو وروسته یې د ایرانیانو مقابله پیل کړه، ایرانیان یې پر شاه وتنبول او د افغانستان څخه یې وشړل، شاه محمود غوښتل چې وزیر فتح خان په خپل حال پرېږدي مګر د حاجي فیروز الدین د شکایت په اساس یې خپل زوی کامران هرات ته واستوه، کامران مخکې له دې هم د وزیر فتح خان سره د هغه د زیاتېدونکي قدرت له امله کینه درلوده.
کامران چې کله هرات ته ورسیده وزیر فتح خان یې په دواړو سترګو ړوند کړ (۱۸۱۷) م کال چې د وزیر فتح خان د ړندېدو خبر د خپرېدو سره سم د هغه ورونه ټول په افغانستان کې راپورته شول او په ټول افغانستان کې یې د جګړې اور بل شو.
دوست محمد خان له کشمیر څخه حرکت وکړ او کابل یې د شاه محمود د لسمي جهانګیر د کامران د زوی څخه ونیوه او هغه یې غزني ته وشاړه چې په دغه وخت کې کامران هم د شاه محمود سره یو ځای شو چې د وردګو د سید آباد په سیمه کې د دوست محمد خان او شاه محمود ترمنځ بیا جګړه ونښته چې محمود او کامران په دې جګړه کې ماتې وخوړه خو دوی په (۱۸۱۸م) کال یو ناوړه عمل وکړ.
یعنې ړوند فتح خان یې وواژه او هرات ته ولاړل.
خو کله چې دوی هرات ته ورسیدل هلته د شاه محمود حاجي فیروز الدین او کامران ترمنځ د حکومت په سر جګړه ونښته چې محمود اوکامران بریالی شول او په نتیجه کې شاه محمود او کامران تر یوې مودې پورې په هرات کې حکومت وکړ چې شاه محمود له ماتې څخه وروسته پرته له هرات نور په ټول افغانستان کې د سدوزیانو حکومت پای ته ورسېد ترڅو امیر دوست محمد خان په لومړي ځل په (۱۸۳۵م) کال په کابل کې خپل لومړی ځل امارت اعلان کړ، دی وخت کې د افغانستان د مرکزي حکومت له منځه ولاړ او ملوک الطوایفي بڼه غوره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه زمان په دوره کې کورنۍ جګړې پیل شو او د شاه محمود او شاه شجاع د واکمنۍ پر وخت خپل لوړ پړاو ته ورسید، چې زموږ د ګاونډیانو خصوصاً انګریزانو د دې جګړو په اوږدېدو او تازه کېدو کې فعاله ونډه درلوده، چې زموږ هېواد د دې جګړو په نتیجه کې ډېر زیانمن شو او احمد شاه بابا، تیمور شاه، د وخت تقریباً نیمه پېړۍ امن یې له لاسه ورکړ او د ژوند ټولې برخې د سقوط خواته پیل شو چې دغې کړغېړنې وضعې تر ډېره وخته دوام پیدا کړ، حاجي فیروز الدین هم په (۱۸۱۸م) کال ایران ته فرار وکړ او شاه محمود په (۱۸۲۹) م کال وفات شو کله چې شاه محمود مړ شو کامران په مستقل ډول په هرات حکومت کاوه، کامران هم په (۱۸۳۹م) کال کې د وزیر یارمحمد لخوا ووژل شو او د سدوزیانو واکمني په ټول افغانستان کې پای ته ورسیده.



## دریم فصل

## د محمد زایانو د حکومت پیل یا د سدوزیانو سقوط او د ګډوډۍ دوره

۱۸۱۸-۱۸۳۴ م

کله چې (۱۷۴۷م-۱۱۲۰هـ) کال د افغانستان په (کندهار) کې د حکومت د جوړېدو په پلمه د کندهار ښار د شیر سرخ په زیارت کې د پښتنو قومونو لخوا جرګه جوړه شوه، نوموړې جرګه نهه ورځې دوام وکړ، چې په نهمه ورځ احمد شاه بابا د افغانستان د پاچا او د محمدزیو نیکه حاجي جمال خان د محمدزایو د قوم د سردار په توګه وټاکل شو.

جمال خان د احمد شاه بابا په دربار کې د مشاور حیثیت درلود، چې د احمد شاه بابا د مړینې وروسته جمال خان هم مړ شو تیمورشاه لومړی د جمال خان مشر زوی رحیم داد خان د محمدزایو د قوم د سردار په توګه وټاکه، مګر په رحیم داد خان کې د مشرۍ صفات نه و، خلک ترې ناراضه شول تیمورشاه د ده پرځای د هغه کوچني ورور سردار پاینده محمد خان ته د سرفراز خان د لقب په ورکولو د محمدزایو د قوم سردار په توګه وټاکه.

سردار پاینده محمد خان تیمورشاه د قدرت په ټینګښت کې ډېر کوښښ وکړ، شاه زمان هم د سردار پاینده محمد خان د تدبیر او توري په واسطه واک ته ورسید، شاه زمان نوموړی سردار د ځینو اختلافاتو په اساس له خپلې چوکۍ ځخه لرې او پر ځای یې رحمت الله خان ته د وفادار لقب په ورکولو د وزیر په توګه وټاکه، سردار پاینده محمد خان په هلمند کې ژوند کاوه، انګلیسانو د وخت ځخه ګټه واخیسته او یو نماینده (غلام محمد هندوستانی) د پیر په جامه کې کندهار ته ولېږه ترڅو د سردار پاینده محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان د قومي او تولنیز نفوذ څخه د شاه زمان پر ضد استفاده وکړي شاه زمان هم د ځینو افغاني پاچاهانو په څېر احساساتي پرېکړه وکړه، سردار پاینده محمد خان یې د خپلو ملګرو سره وواژه چې دغو وژنو د ده لپاره کورنۍ ستونزې زیاتې کړې ځکه سردار پاینده محمد خان (۲۱) تنه فعال او تکړه زامن درلودل.

سردار پاینده محمد خان مشر زوی وزیر فتح خان شاه محمود دوه ځله (۱۸۰۰م) او (۱۸۰۹م) کې واک ته ورساوه چې د هغه لخوا ورته د شاه دوست او اشرف الوزرا لقب ورکړای شو او د شاه محمود په دواړو دورو کې ربنتیني واک د وزیر فتح خان په لاس کې و او نوموړي د دې واک څخه ګټه واخیسته او خپل ورونه یې د هېواد په مهمو ولایتونو کې مقرر کړل کله چې کامران د ده په امر ړوند او بیا د کامران او شاه محمود په امر د وردګو په سید آباد کې ووژل شو، د ده ټولو ورونو په هېواد کې په بغاوت لاس پورې کړ، د کندهار سردارانو په غربي ولایتونو کې د سردار محمد عظیم خان او دوست محمد خان په کشمیر کې فعالیت پیل کړ. سردار محمد عظیم خان داسې پلان درلود، چې د شاه محمود پر ځای شاه شجاع واک ته ورسوي، د تیمور زوی پاچا او خپل ځان یې وزیر اعلان کړ، مګر کله چې امیر دوست محمد خان د سردار محمد عظیم خان په امر د کشمیر څخه حرکت وکړ کابل ته راورسیده د محمود لمسی جهانګیر چې د کابل والي او د پاچا نائب و د کابل پرېښودلو ته مجبور کړ، دوست محمد خان د یو بل سدوزایي شهزاده سلطان علي شاه بن شاه زمان پاچا او ځان یې د وزیر په توګه اعلان کړ، چې دوی دواړو (دوست محمد خان) او سلطان علي شاه په ګډه محمود او کامران په شاه وتمبول په کابل او غزني کې یې واک ټینګ کړ چې په همدغه وخت کې سردار محمد عظئیم خان د شهزاده ایوب سره یو ځای کابل ته راورسیدل ده هم ایوب شاه پاچا او خپل ځان یې وزیر اعلان کړ، په دې ترتیب دوه تنه سدوزایي شهزاده ګان (ایوب د تیمور زوی، سلطان علي شاه د شاه زمان زوی) پاچاهان او دوه تنه ورونه، سردار محمد عظیم خان او



دوست محمد خان د پاینده محمد خان زامن، د وزیرانو په توګه په یوه بالاحصار کې خپلو دندو ته ادامه ورکوله چې په یوه وخت کې دوه پاچاهان په یوه بالاحصار کې پاچاهي کوله، خو اصلي واک د دواړو وزیرانو په لاس کې و نه د پاچاهانو په لاس کې.

دغو دواړو پاچاهانو او وزیرانو یو د بل د لمنځه وړلو کوښښ کاوه چې بالاخره سلطان علي شاه د شاه زمان زوی د ایوب د زوی شهزاده اسماعیل لخوا لمنځه یوړل شو، چې واک ایوب شاه او سردار محمد عظیم خان ته پاتې شو.

د ایوب شاه په وخت کې سکانو د انګریزانو په لمسون کشمیر، ملتان او دیره جات ونیول، سردار محمد عظیم خان په (۱۸۲۳م-۱۲۳۸هـ) کې وفات په عاشقانو او عارفانو کې ښخ شو چې د وزارت دنده د ده بې کفایته زوی حبیب الله ته ورسیده ایوب شاه غوښتل چې حبیب الله هم لمنځه یوسي، مګر حبیب الله د خپلو ترونو کندهاري سردارانو څخه مرسته وغوښته چې سردار پردل خان شهزاده اسماعیل وواژه او ایوب شاه یې له واک څخه لرې کړ او واک یې حبیب الله ته پرېښود.

حبیب الله یو بې کفایته شخص و خلک ترې ناراضه شول او د دوست محمد خان څخه یې غوښتنه وکړه چې واک په لاس کې واخلي مګر موافقې ته ونه رسیدل د کندهار څخه شیردل خان راغی دواړه (امیر دوست محمد خان، حبیب الله خان) یې په بالاحصار کې بندیان کړل او واک یې په خپل لاس کې واخیست، مګر شیردل خان هم ډېر ژر په (۱۸۳۴م-۱۲۴۰هـ) وفات شو چې سردار دوست محمد خان ته د واک زمینه برابره شوه او واک یې په لاس کې واخیست د سدوزیانو زوال او د محمد زایانو واک ته رسیدلو دوره د افغانستان په تاریخ کې یوه دردناکه دوره وه، ځکه سدوزیانو ربنتینی واک نه درلوده او محمد زایي سرداران (سردار پاینده محمد خان زامن) په خپل منځ کې نه جوړېدل چې په نتیجه کې د افغانستان مرکزي دولت له منځه ولاړ انګریزانو ډېرې سیمې ونیولې د اقتصادي فعالیتونو مخه ډپ شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډیانو د دې وضعې څخه ډېره ګټه واخیسته او افغانستان تر ډېرې مودې پورې بیا په دې ونه توانېده چې مرکزي حکومت ټینګ کړي. (د افغانستان لپاره ځکه دردناکه دوره وه چې محمد زیان ټول انګریزانو ته وفادار و، امیر دوست محمد خان خپل دوه ځلې واکمنې کې د انګریزانو اصلي غلام و مجاهدین یې وټکول او ووژل کله چې د هند خلکو په ۱۸۵۷م کال د انګریزانو په مقابل قوي پاڅون وکړ امیر دوست محمد خان انګریزانو ته وفادار پاتې شو، نه د هغو خلکو سره مرسته وکړه او نه د انګریزانو څخه د خپل لاسه وتلې سیمې و غوښتلې پرته له دی د ډیورنډ کرښه په ۱۸۹۳ م عبدالرحمن خان او د ګندمک تړون په ۱۸۷۹م کال د محمد یعقوب خان لخوا لاسلیک شو چې دا دواړه محمدزیان وو چې تر اوسه افغانان د همدی لانجمنی کرښې د لاسلیک له امله په اور کې سوځی).



## د امیر دوست محمد خان لومړی ځل امارت



۱۸۳۵-۱۸۳۹م

۱۲۵۵-۱۲۲۱ ش

امیر دوست محمد خان د سردار پاینده محمد خان زوی د جمال خان بارکزی لمسی دی چې جمال خان د احمد شاه بابا په دربار کې د هغه د مشاور حیثیت درلود امیر دوست محمد خان ۴ نکاحي ښځې درلود او لس وینځی، ۵۲ اولادونه چې ۲۹ نارینه او ۲۳ نورې نجونې وې هغه وخت چې د سردار پاینده محمد خان زامنو کابل له محمود څخه ونیو ا و ایوب شاه یې د کابل د پاچا په توګه تعین کړ په رښتیني توګه واک د محمدزایو سردارانو سره و، ځکه کابل د سردار محمد عظیم خان، پېښور د یار محمد خان، کشمیر د جبارخان، کندهار د پردل خان او دیره جات د نواب زمان خان لخوا اداره کېدل او ایوب شاه هېڅ ډول واک او اختیار نه درلوده یوازې هرات د محمود او کامران په کنترول کې و.

که چېرته موږ په رښتیني توګه ځیر شو د افغانستان بدبختي له همدې نېټې څخه پیل کېږي چې انګریزانو او رنجیت سنګه یو شمېر سیمې لکه ملتان، غازي خان دیره او پېښور د افغانستان څخه جلا کړي، ځکه دغو واکمنانو یو هم واقعي واک نه درلود او بل دا چې دوی هم یو بل ته وفادار نه و او هر یو غوښتل چې د سدوزي پاچا تر سیوري لاندې خپل قدرت زیات کړي، که چېرې دوی (د سردار پاینده محمد خان اولاده) په خپل منځ کې د یو تن په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا کېدو باندې راضي شوی وای افغانستان به د تجزیې لور ته نه بیول کېده.

کله چې له سردار محمد عظیم خان څخه وروسته د هغه زوی حبیب الله او شیردل خان له منځه لاړل، د امیر دوست محمد خان د فعالیت لپاره زمینه برابره شوه چې نوموړی امیر دوست محمد خان کابل ونیوه د کابل د حکمران حیثیت یې درلوده او د واک (نفوذ) ساحه یې کابل، غزني او کوهدامن پورې رسیده، څکه پېښور او کندهار د ده د ورونو او هرات د کامران په لاس کې و.

امیر دوست محمد خان چې خپل واک په کابل کې ټینګ کړ ډېر ژر یې په (۱۸۳۵م) کال د کابل عیدګاه په جومات کې خپل ځان د افغانستان امیر اعلان کړ او د امیر المؤمنین لقب یې غوره کړ نوموړي لومړی هغه حاکمان چې ده پرې باور نه درلوده د خپلو دندو څخه ګوښه کړل، په دویم قدم کې نوموړي د پېښور د بېرته نیولو لپاره عسکر تنظیم او د سکانو پرضد یې جهاد اعلان کړ، خو د سیاسي حل لپاره یې د انګلیسانو څخه د پېښور په بېرته نیولو کې مرسته وغوښته چې په هند کې د انګلیس مشرانو یعنې د هغوی سیاسي مامور کپتان وید (C wede) او د هند حکمران (L.Bentick) لارد بنتک ته لیکونه واستول، هغوی دواړو، کپتان وید او بنتک د دواړو دولتونو د (افغانستان او سک) په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې په بهانه خپل هېواد انګلستان بې طرفه وښود، مګر په پټه یې د رنجیت سنګ ملاتړ وکړ امیر دوست محمد خان په (۱۸۳۲م-۱۲۵۲ه ق) کې د جلال آباد څخه د باسول په لور خپل فوځ ته حرکت ورکړ، مګر د امیر نږدې مشاورین په دوه ډلو وویشل شول، یوه ډله چې په دوی کې سردار محمد افضل خان، نواب اسد خان، رنجیت سره د جګړې طرفداري کوله، مګر نواب جبارخان او د کشمیر نور سرداران په دې عقیده و چې د رنجیت سنګ سره دې سوله وکړي.

مګر رنجیت سنګهـ او انګریزانو د امیر دوست محمد خان بل ورور سلطان



محمد طلایي ته د پېښور او هشنغر سیمو په ورکولو سره هغه د خپل ورور په مقابل کې راپورته کړ، امیر دوست محمد خان د محمدزایو سردارانو ترمنځ د نفاق او د رنجیت سنګ فوځ په مقابل کې د خپل فوځ د کموالي په وجه د یوه نمایش څخه وروسته بېرته کابل ته وګرځېده بیا هم انګلیسانو ته یې مراجعه وکړه خو مثبت ځواب یې ترلاسه نه کړ.

هند د نوي ویسرای په توګه (لارد کلند) د راتګ سره سم امیر دوست محمد هغه ته د مبارکۍ مکتوب ولیکه او د پېښور په بېرته نیولو کې یې له هغوی څخه د مرستې غوښتنه وکړه مګر (لارد کلند) هغه د نه مداخلې په بهانه د مرستې څخه ډډه وکړه.

مګر یو هئیت یې د سوداګرۍ د ټینګولو په غرض کابل ته راولېږه چې په دې هئیت کې الکساندر برنس کپتان وید، میجر لیچ او موهن لال شامل و په (۱۸۳۸م-۱۲۵۳ه) کال کابل ته ورسېدل امیر دوست محمد خان د نوموړي هئیت تود هر کلی وکړ او امیر د پېښور په بېرته لاس ته راوستلو او د اقتصادي مرستو په اړه یو لړ وړاندیزونه وکړل خو مثبت ځواب یې ترلاسه نه کړ.

روسانو هم خپل هئیت د یو لیک سره وروسته له هغه چې په ایران کې د روسي سفیر سمونچ سره د مشورې څخه وروسته کپتان ویکوویچ (Vikovich) په مشرۍ د کندهاري سردارانو سره د تماس څخه وروسته کابل ته راورسید.

نوموړی هم د روس تزاري حکومت د شر یو مکتوب له ځانه سره امیر دوست محمد خان ته تسلیم کړ او په ځینو اقتصادي او تجارتي مسایلو یې بحث وکړ، مګر دواړه هیئتونه (انګلیس او روس) بې له کومې نتیجې څخه بېرته لاړل، خو په سیاسي لحاظ د روسي پلاوی راتګ د افغانستان په زیان تمام شو ځکه کله چې د روسیې هئیت د کابل بالاحصار ته راغی، انګلیسانو ډېر ژر د امیر دوست محمد خان پر ضد فعالیت پیل کړ هغه یې د روسانو دوست او د انګلیسانو دښمن وګانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان باندې د انګلیسانو لومړی یرغل

۱۸۳۹-۱۸۴۲م

انګلیسانو د هند د ساتلو په غرض په ۱۸۳۸م کال د یوې اعلامیې په نشرولو سره د افغانستان پرضد جګړه اعلان کړه، دوی لومړی د شاه شجاع سره چې په لودیانه کې یې د تبعید ژوند تېراوه او هېڅ ډول قانوني صلاحیت یې نه درلوده د (۱۸۳۸م) (**۱۲۵۴**هـ ق) کال کې یو تړون د رنجیت سنګ، شاه شجاع او مکناټن ترمنځ لاسلیک کړ او په تاریخ کې د مثلث تړون په نوم یادېږي، په نوموړي تړون کې لاندې مطالب ځای شوي و، انګلیس او رنجیت سنګ د شاه شجاع سره پاچاهۍ ته په رسولو کې مرسته کوي، خو کله چې نوموړی پاچا شو، د سند نه هغې خواته سیمې او هغه یې د رنجیت سنګ تر کنترول لاندې دي، رنجیت سنګ ته پرېږدي د هرات استقلال د کامران تر مشرۍ لاندې په رسمیت پېژني، د انګلیسانو سفیر به په کابل کې همېشه موجود وي او شاه شجاع د انګلیسانو د مشورې پرته نه شي کولای چې کوم بل هېواد سره اړیکې ټینګې کړي.

د ضرورت په وخت کې باید دوی یو د بل عسکر هم قبول کړي د همدې تړون په اساس مکناټن، رنجیت سنګ او شاه شجاع د انګلیسي قواو سره یو ځای د (**۱۸۳۹**م) کال د فبروري په میاشت (**۱۲۵۵**هـ ق) پر کندهار حمله وکړه، د امیر دوست محمد خان ورونو (ویکوویچ د روس سفیراو ایران څخه مرسته وغوښته هغوی د مرستې څخه انکار وکړ. دغه محمد زایي سرداران فارس ته وتښتېدل، شاه شجاع د انګریزانو په ملاتړ کندهار ونیوه او پر تخت کېناست او د انګریزانو سره یې یو بل اته ماده ایزه تړون لاسلیک کړ چې د دې تړون په اساس به انګلیسي قواوې د تل لپاره په افغانستان کې وي.

انګلیسي لښکرې او شاه شجاع غزنې ته راورسېدل خو کپتان وید د شاه شجاع د زوی فتح جنګ سره په کابل حمله وکړه امیر دوست محمد خان چې په دوو جبهو کې د جګړې توان نه درلود بخارا ته ولاړ مګر په (۱۸۴۰م) کال بېرته انګلیسانو ته تسلیم شو او هغوی کلکتې ته ولېږه.



## د شاه شجاع دویم ځل واکمني او د انګلیسانو لومړی یرغل

۱۸۳۹-۱۸۴۲م

۱۲۵۵-۱۲۵۸ش

انګلیسانو د شاه زمان د رندیدو او د شاه محمود واک ته د رسېدلو او په دې ځل د خپل منځي جګړو په نتیجه کې د پنجاب ولایت استقلال له منځه یوړ، د دیره جاتو، پېښور، بنو او کشمیر د ولایتونو حکومتونه یې په لاس راوړل، سرجان کین په دې اړه داسې وایي: (بې اتفاقي ها وخانه جنګي های داخلي افغانستان که امپراتوري افغانستان راپارچه ، پارچه نمود ، سبب سلامتی حکومت انګلیس در مشرق ګردید ) له دې وروسته انګریزان په دې لټه کې شول چې مستقیماً په افغانستان حکومت وکړي لارډ پالمرستون د هند حکومت ته داسې ولیکل: د دې وخت رارسېدلی دی چې د افغانستان د پاچا په ټاکلو کې مداخلې وشي، ترڅو د هند په لوري د ایران د قلمرو د پراختیا مخه ونیول شي او د روس په مقابل کې هم یو دیوال وویستل شي او همدارنګه پالمرستون د لندن په پارلمان کې وویلې:

په دې عقیده یم که موږ افغانستان له لاسه ورکړو ، موږ به د انګلیسانو ګټو ته تاوان ورسوو ، که موږ په هر علت افغانستان پرېږدو زه په دې باور یم چې بیا به د ډېر مالي او ځاني تاوان په ګاللو سره افغانستان ونیسو.

د هند ګورنر جنرال هم د افغانستان د نیولو په اړه د انګلستان د صدراعظم سره په یو فکر دی او وایي: (موږ باید په ټول توان سره کوښښ وکړو چې بهرنیان په افغانستان کې نفوذ ونه کړي، ځکه په ختیځ کې زموږ د امنیت د ټینګولو لپاره دا ضرروري ده چې په افغانستان کې داسې یوه اداره جوړه کړو چې د بهرني یرغل مانع شي مګر دا توانایي باید ونه لري چې زموږ د دښمنانو سره یوځای شي موږ باید په دې هېواد کې داسې اداره رامنځته کړو ، چې د شمال او غربي دښمنانو په مقابل کې دیوال او مانع وي.

د دې نظریاتو او روایاتو سره سم د کلکتې د اعلامیې وروسته په (**۱۸۳۹**م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (۴۵) زره عکسرو سره په کندهار حمله وکړه او بیا یې کابل ونیو.
کله چې شاه شجاع د انګریزانو په ملګرتیا د ځینو سردارانو او خانانو سره یوځای کابل ته داخل شو څلور کاله حکومت یې وکړ شاه شجاع د کابل په بالاحصار کې د انګریز سفیر مکناټن صدراعظم او نایب السلطنت الکساندر برنس د داخلې وزیر، موهن لال د منشي د احوالاتو دثبت د مسؤلینو په توګه دندې اجرا کولې یو شمېر نور انګریزان هم د نظامي او سیاسي مامورینو په حیث دندې ترسره کولې، انګریزانو چې د دایمې اوسېدو او تسلط خیال درلود خپل فوځي ټولګي یې په کابل، کندهار، کلات، غزني، وردګ، چاریکار (پروان) بامیانو، ګندمک او جلال آباد کې ځای په ځای کړل، انګلیسان د کابل د نیولو څخه وروسته د هر ډاډه او ځانونه یې مستقیماً د افغانستان حاکمان ګڼل، چې د خپلو فوځونو د لګښتونو د پوره کولو لپاره یې په ولس باندې د درانده مالیات وضعه کړل او هغه سرداران چې د شاه شجاع سره راغلي و، د ناروا چلن څخه کار اخیسته چې همدغه د مالیاتو جګوالی، د سردارانو بې حده ظلم، د نرخونو جګوالی او له انګریزانو او شاه شجاع څخه د خلکو نفرت او کرکه له آزادۍ سره د افغانانو بې کچې مینه او نور لاملونه د دې سبب شول چې د افغانستان خلک د انګریزانو پرضد راپورته شول په (۱۲۵۷هـ ق- ۱۸۴۱م) کال د افغانستان د غرنیو سیمو اوسېدونکو لکه: زرمت، خوګیاني، حصارک، غلجایي، کوهدامن او نورو سیمو کې خلکو د انګریزانو پر ضد جهاد پیل کړ.
د افغانستان غازیانو، د عبدالله خان اڅکزي په کور کې یوه (۱۲) کسیزه شورا جوړه کړه، چې نوموړې شورا نواب زمان خان د رئیس او امین الله خان لوګری د نایب په توګه انتخاب کړ، د غازیانو دغه (۱۲) کسیزه شورا د انکریزانو پرضد د جهاد او جګړې رهبري په غاړه درلوده، د شورا د پرېکړې سره سم غازیانو د (۱۸۴۱م) د نومبر په دویمه نېټه چې د (۱۲۵۷هـ) کال د روژې مبارکې میاشتې د (۱۷) نېټې سره سمون خوري د انګریزانو پر قرارګاه باندې یرغل وکړ، د برنس کور ته یې اور واچوه او د برنس سر یې له



تنې څخه جلا کړ، هغه خزانه چې د افغانانو د تباهۍ او نفاق لپاره ترې کار اخیسته د غازیانو لاس ته ورغله چې د افغانانو د پاڅون دغه ورځ د نومبر دویمه زموږ په تاریخ کې د ویاړه ډکه ورځ وه خو د انګریزانو لپاره د ماتې ورځ ګڼل کېږي د جهاد لمن د هېواد ټولو سیمو ته ورسیده او انګریزان په کابل کې هم د غازیانو تر حملې لاندې راغلل، بالاخره انګریزان مجبور شول چې د افغانستان آزادي قبوله کړي او دا هېواد افغانانو ته پرېږدي چې د انګریزانو وتل[1] د (۱۸۴۱م) کال د جون (۲) مه نېټه د کابل څخه پیل شول.
غازیانو هم یو قرارداد په (۱۲) مادو کې مکناټن ته ولېږه، دوه تنه افغانان به انګلسي فوځونو سره د کابل څخه تر جلال آباد پورې ملګرې وي، د دوی ساتنه به کوي، انګلیس عسکر به د جلال آباد، غزني او کندهار له لارې هند ته ولاړ شي.
توپونه او نورې درندې وسلې چې دوی یې نه شي وړای افغانانو ته سپاري د شاه شجاع کورنۍ به د امیر دوست محمد خان تر راتګه پورې په کابل کې وي او د امیر تر راتګه پورې باید (۲) تنه انګریزان هم په کابل کې وي او انګریزان له (۹) نهه توپونو څخه زیات له ځانه سره نه شي وړای چې د (۱۲۵۰۰) تنو انګریزانو څخه یوازې ډاکټر برایډن ژوندی جلال آباد ته ورسیده چې په کابل کې د انګریزانو د تباهۍ حال یې جنرال سیل او نورو انګریزانو ته بیان کړ.

(۱) هغه مواد چې د انګریزانو له خوا وړاندې شوي و لاندې څلور مادې یې درلودې:
۱. انګریزانو فوځونه به له افغانستان څخه خارج شي.
۲. شاه شجاع تسلیم او په لودیانه کې به میشته وي چې هغه ته به د کال (۳۰۰) زره درهمه معاش ورکول کېږي او په عوض کې به یې امیر دوست محمد خان کابل ته رارسېږي
۳. د کابل تر پرېښودلو خالي کولو پورې به یو تن سردار د انګریزانو سره وي تر څو هغوته د ضرورت وړ شیان د پیسو په مقابل کې تهیه کړي.
۴. په راتلونکي کې به د انګریزانو لښکرې افغانستان ته داخل نه شي مګر که د امیر دوستم حمد خان حکومت د دوی نه غوښتنه وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازیان د وزیر محمد اکبر خان[۱] او سلطان احمد خان او محمد شاه خان په مشرۍ جلال اباد ته ورسېدل او د انګریزانو فوځونه یې په جلال آباد کې کلابند کړل.

شاه شجاع په کابل کې کلابند و، د محمد زایو سردارانو او نورو غازیانو د فشار په وجه دې ته وهڅول شول چې د انګریزانو پر ضد جګړه کې ونډه واخلي، خو شاه شجاع د بالاحصار او سیاه سنګ په لار کې چې جهاد ته روان او مجاهدینو سره یو ځای شي د نواب زمان خان د زوی شجاع الدوله له خوا د (۱۸۴۲م) کال د اپریل په دریمه او د (۱۲۵۸هـ ق) د صفري د میاشت په دریمه نېټه ووژل شو چې د تیمورشاه په بڼ کې د خپل پلار په خوا کې ښخ کړای شو.

د انګریزانو فوځونه د جنرال نات، جنرال پالک او جنرال سیل تر رهبرۍ لاندې د بدلې اخیستلو لپاره په فعالیت بوخت و وزیر محمد اکبر خان د هغوی مخه ډپ کړه، مګر په دغو نازکو حالاتو کې د نواب زمان او نایب امین الله لوګري[۲] ترمنځ د نوي پاچا په ټاکلو کې اختلاف پیدا شو چې د دې دواړو ترمنځ جګړه هم وشوه وزیر محمد اکبر خان د ضرورت له امله کابل ته ولاړ د خبرو او مصلحت څخه وروسته فتح جنګ پاچا او وزیر محمد اکبر

(۱)-وزیر محمد اکبر خان د امیر دوست محمد خان زوی او دسردار پاینده محمد خان لمسی په ۱۱۱۷-۱۸۱۷ می کې زېږېدلی دی په ۱۲۱۲ ل او ۱۸۳۷ م کې د جلال آباد حکمران و.
هغه وخت یې د سکانو څخه د جمرود کلا ونیوله د پلار په امر یې د سکانو مشر هري سنګ په توره وواهه او هغه له مدې ټپ څخه مړ شو.

(۲)- امین الله خان لوګری د میرزای خان زوی چې په (۱۳۲۲هـ ش-۱۱۹۷هـ ق) (۱۷۸۲م) کال د لوګر په د برکي راجان په کلي کې زېږېدلی په قوم یوسفزی دی او مور یې د وردګو (حزم خېل کمال خان لور وه)
د امین الله خان لوګري پلار د تیمورشاه په وخت کې د کشمیر حاکم و او هملته مړ شو او جنازه یې په ډېر درناوي کابل ته راوړل شوه.
حکومت د هغه معاش امین الله خان لوګري ته مقرر کړ، شاه محمود نوموړی امین الله خان لوګری د بتخاک د خان په حیث مقرر کړ شاه شجاع نوموړی د لوګر د بتخاک د حاکم په توګه وټاکه او نایب السلطنه په نوم (لقب) ونومولی شو، نایب امین الله خان په بتخاک کې کاریزونه، پلونه، ویالې او کلاوې جوړې کړې چې ځینې یې تر اوسه د ده په نامه یادېږي



خان د وزیر په حیث تعین شو ولې دې انتخاب هم ډېر دوام ونه کړ فتح جنګ له انګریزانو سره د تماس او ارتباط د لرلو په تور د تهدید سره مخامخ و، چې بالاخره فتح جنګ له بالاحصار څخه وتښتیده او د لوګر له لارې په جلال آباد کې د انګلیس فوځ سره یو ځای شو او انګلیس د جنرال پالک سره بېرته د کابل په لور حرکت وکړ، وزیر محمد اکبر خان لومړی دفاع ته چمتو شو مګر د پلار د هدایت سره سم یې یو تظاهر وکړ لومړی کابل او بیا بامیانو ته یې شاه تګ غوره کړ او د انګلیسانو مخه یې خوشې کړه که چېرته نوموړی دا حرکت نه وای کړی کابل ته د انګریزانو دوباره راتګ یو ناشونی کار و.

جنرال پالک د وزیر محمد اکبر خان د دې وضعې نه په خبرېدو سره په ډېر احتیاط د کابل په لور حرکت وکړ، کابل ته د رارسېدو سره د کابل زوړ ښار ته یې اور واچوه او د ستالیف ښارګوټی هم چې امین الله خان لوګری هلته په جګړه مصروف و وسوځاوه، انګریزان د دې نمایش د اجرا کولو څخه وروسته چې د برنس د قتل د انتقام لپاره یې وکړل، د افغانستان په پرېښودلو پیل وکړ او د امیر دوست محمد خان په پاچا کېدو باندې راضي شول، په دې ترتیب د انګریزانو لومړی یرغل د شاه شجاع، برنس، مکناټن او نورو انګریزانو په مړینه پای ته ورسیده، افغانانو د خپلو سرونو او وینو د قربانۍ په نتیجه کې انګریزان په دې وپوهول چې په افغانانو باندې په زور حکومت کول یو ناشونی کار دی د انګریزانو لومړی یرغل افغانانو په سخت مالي، ځاني او ټولنیز زیانونه واړول مګر مهم ویاړ په دې کې دا و چې د نړۍ لوی او استعماري قوت چې نیمه نړۍ یې نیولې وه، فرانسې پرتګال او هندیانو ته یې ماتې ورکړې وه مګر زموږ په هېواد کې د ماتې سره مخامخ شول انګریزان د ډېر مجبوریت له مخې د امیر دوست محمد خان په بیا پاچا کېدو باندې راضي شول او خپله ماتې یې په نظامي ډګر کې ومنله، د انګریزانو فوځي تېری ختم شو خو د هغوی سیاسي هلې ځلې روانې وې او د دوی سیاسي کړنې د نظامي کړنو څخه ډېرې خطرناکې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امیر دوست محمد خان دویم ځلی واکمني

۱۸۲۳-۱۸۴۳م

۱۲۵۹-۱۲۷۹ش

د افغانانو قربانیو او شهامتونو انګریزان په دې یقیني کړل، چې دوی نور په افغانستان کې پاتې کېدای نشي دا چې سیاسي اړیکې یې له افغانستان سره پرې نشي د امیر دوست محمد خان په دویم ځل پاچا کېدو باندې راضي شول، د افغانانو دا بریالیتوب، چې د انګریزانو لوی او قوي فوځ ته یې ماتې ورکړه د نړۍ د ډېرو ملتونو خصوصاً د هغه ملتونو، چې د انګریزانو د سلطې لاندې و د حیرانتیا او بیدارۍ سبب شول څکه د انګریزانو د نه ماتېدو هنګامو ته یې د پای ټکې کېښود چې د هندوانو لومړی پاڅون په کال (۱۸۵۷م-۱۲۷۳ش) د انګریزانو پر ضد و چې ژوره اغېزه یې درلوده.

امیر دوست محمد خان په کابل کې د خلکو لخوا ډېر درونډ استقبال شو څکه خلکو امید درلود چې د ده په دویم ځل پاچا کېدو سره به په هېواد کې امنیت ټینګ شي او هېواد د انګریزانو د یرغل په نتیجه کې ډېر اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او اداري ستونزو سره مخ و، خو په دویم ځل واکمنۍ کې هم د امیر دوست محمد خان نفوذ یوازې په کابل، جلال آباد او غزني کې و، کندهار د کهندل خان او د ده د ورونو له خوا اداره کېده، هرات د یارمحمد خان الکوزي تر کنترول لاندې و.

د هېواد شمالي برخې د محلي والیانو له خوا په مستقل ډول اداره کېدلې، د امیر دوست محمد خان لپاره یواځینې مسئله په افغانستان کې د سیاسي وحدت تامینول و؛ خو امیر دوست محمد خان د انګریزانو د یرغل په دوران کې په بند او تبعید کې و، د هېواد د وضعې او د انګریزانو د وارخطا موقعیت څخه ناخبره و چې د راګرځېدو په وخت کې ده په انګریزانو هېڅ یو شرط هم قبول نه کړ، بلکې انګریزانو خپلې غوښتنې په نوموړي باندې عملي کړې.



امیر دوست محمد خان دویم ځل د هېواد مؤمنو خلکو په قربانۍ او د غازیانو په ټینګ همت قدرت ته ورسیده خو نوموړي د انګریزانو په اشاره د غازیانو له منځه وړلو لپاره کوښښونه پیل کړل، امین الله لوګری د انګریزانو ستر دښمن یې بندي کړ په بندیخانه کې مړ شو محمد شاه خان غلجایي بابکرخېل د لغمان نورستان ته فرار وکړ، سلطان احمد خان د محمد اعظم خان زوی په ایران کې پناه واخیسته، وزیر محمد اکبر خان چې د وزارت د دندې امید یې درلود تر نظارت لاندې ونیول شو چې د انګریزانو پر ضد کوم عمل ونه کړي ترڅو د یو هندي ډاکټر له خوا ورته د زهرو ګولۍ ورکړل شوه او مړ شو، امیر دوست محمد خان هغه مامورین چې ده پرې اعتماد نه درلود له دندو څخه لرې کړل، په بهرني سیاست کې یې له احتیاط څخه کار اخیسته، د ده بهرنۍ پالیسي په لاندې ډول وه.

۱. د لویدیځ ګاونډي (ایران) سره د عادي روابطو درلودل.

۲. د روسې او بخارا سره تماس نه درلودل.

۳. د انګریزانو سره دوستانه اړیکو ټینګول او ساتل.

امیر دوست محمد خان په دویم ځل واکمنۍ کې د انزوا او تړلو دروازو سیاست غوره کړ، هېڅ ډول ابتکار څخه یې کار وانخیست او د انګریزانو سره لاسلیک شوي تړونونو ته وفادار پاتې شو، د انګریزانو سره د دوو تړونونو (۱۸۵۵م -۱۸۵۷م) په لاسلیک کولو سره انګریزانو ته د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاس وهنې زمینه برابره کړه او د افغانانو قرباني او مېړانه یې بې ثمره کړه چې د غه تړونونه په لاندې ډول په لنډه توګه ذکر کوو.

### لومړی: د پېښور تړون

۱۸۵۵م د مارچ ۲۰ او ۱۲۷۲ ش د رجب ۱۱ نېټه

کله چې امیر دوست محمد خان په دویم ځل امارت کې کابل او شمالي ولایت یې تر کنترول لاندې و نوموړي مخکې له دې چې کندهار ته خپلې لښکرې ولېږي خپل زوی سردار غلام حیدر خان یې پېښور ته د انګریزانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر د معلومولو په غرض واستوه، غلام حیدر خان د انګریزانو د نماینده سرجان لارنس سره یو تړون چې درې مادې یې درلودې لاسلیک کړ.

۱. د دواړو هېوادو ترمنځ تلپاتې او دایمي دوستي.

۲. د افغانستان د موجوده سرحداتو احترام د هند د برطانوي حکومت له خوا او د برطانیې د نیولو شوو سیمو احترام د امیر له خوا.

۳. د امیر له خوا د برطانیې دښمنان، دښمن ګڼل او د برطانیې دوستان خپل دوستان ګڼل (خپلو دوستانو په توګه پېژندل).

په نوموړي تړون کې امیر دوست محمد خان افغانستان د ټولو سیمو څخه لکه: کشمیر، پېښور، ملتان، سند ولایت دېره غازي خان، دېره اسماعیل خان او ټول بلوچستان چې د انګریزانو او د هغو د متحدینو له خوا نیول شوی و تېر شو انګریزانو د امیر سره د کندهار په نیولو راضي شو هغه هم د امیر د خپلو ورونو او هغوی د زامنو تر کنټرول لاندې و بله مهمه خبره داده چې افغانانو د هېواد د آزادۍ او استقلال لپاره په لسګونو او زرګونو شهیدان ورکړل خو امیر دد ې تړون په درېیمه ماده کې د هېواد آزادي له لاسه ورکړه ځکه په درېیمه ماده کې ذکر شوي چې د برطانیې دوست د افغانستان دوست او د برطانیې دښمن د افغانستان دښمن دی، خو په تړون کې دا ذکر نشو چې د افغانستان دوست د برطانیې دوست او د افغانستان دښمن د برطانیې دښمن وګڼل شي، چې نوموړي مادې د افغانستان سیاسي آزادي ختمه کړه.

امیر دوست محمد خان د پورتني تړون د لاسلیک څخه وروسته یو شمېر عسکر د سلطان احمد خان په مشرۍ چې له ایران څخه د وزیر غازي محمد اکبر خان د فاتحې په غرض کابل ته راغلي و ظاهراً د سولې په غرض او په پټه له مرکز سر ه دکندهار د یوځای کولو په غرض واستول شو کله چې نوموړی لښکر د کندهار ښار (ارګ) ته ورسید د یو څه مشورې وروسته یې اعلان وکړ، هېڅ یو سردار ته په اداره کې برخه نه ورکول کېږي مګر د کندهار د مالي مامورینو د تنخوا او د عسکرو مصرف څخه وروسته ټولې



پاتې شوې پیسې به په سردارانو د معاش په ډول ووېشل شي، د کهندل خان زامن رحمدل خان، غلام محي الدین خان، میر افضل خان، محمد صدیق خان، محمد عمر خان او محمد عثمان خان، چې د کندهار د حکومت دعوه یې کوله د امیر دوست محمد خان حضور ته حاضر نه شول او دغه پرېکړه یې قبوله نه کړه، نور سرداران چې په ګرشک کې و د سلطان احمد خان او غلام حیدر خان په واسطه کندهار ته راوستل شول او دغه پرېکړه یې قبوله کړه مګر شیر علي خان د مهردل خان زوی او محمد علم خان د رحمدل خان زوی او نورو ټولو ایران ته فرار وکړ په همدغه وخت کې هندي عسکرو د انګریزانو پر ضد شورش وکړ، سلطان احمد خان وړاندیز وکړ، چې پر پېښور به حمله وکړي خو امیر دوست محمد خان وویل چې د سولې د لارې به وړاندې شو، که چېرې بریالی نه شو بیا به وسله وال یرغل وکړو، سلطان احمد خان، چې امیر دوست محمد خان یې د خپلو نظریاتو مخالف ګاڼه ایران ته یې فرار وکړ او نوموړی (امیر دوست محمد خان) د کندهار د چارو له سمون وروسته د کندهار چارې غلام حیدر خان ته پرېښوده او کابل ته راغی چې د پېښور او هرات د یوځای کېدو په اړه له انګریزانو سره خبرې پیل کړي.

## د هرات یو ځای کیدل

**۱۸۵۷**م کال تړون

مخکې هم ذکر شول کله چې امیر دوست محمد خان په کابل کې د کامران زوی شهزاده جهانګیر ته ماتې ورکړه هغه غزني ته فرار وکړ او د هغه وزیر عطا محمد چې ړوند او بندي شوې و، نو شاه محمود او کامران د غزني څخه د کابل په لوري حرکت وکړ، چې د ماتې څخه وروسته هرات ته ولاړ، هرات له همدې نېټې څخه وروسته د افغانستان د مرکز څخه جلا اداره کېده. امیر دوست محمد خان (**۱۲۷۳**هـ ق) د ژمي په موسم او (**۱۸۵۲**م) کال په اخره کې د خپلې کورنۍ د ځینو غړو او لوړ رتبه مامورینو سره د پېښور او هرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوځای کولو کوښښ پیل کړ، انګریزان د پېښور په اړه د امیر دوست محمد ادعا رد کړه او د هرات[1] په یو ځای کولو کې ورسره موافقه وکړه او هم یې د مرستې وعده وکړه چې د هرات په نیولو کې به له امیر دوست محمد خان سره مرسته کوي او څو نورې مادې د (۱۲۷۲هـ ق-۱۸۵۵م) پر تړون په لاندې ډول اضافه شوې.

۱. د برطانیه حکومت به د هرات په نیولو کې د کال (۱۲) لکه نغدې روپۍ مرسته کوي ترڅو چې جګړه دوام لري او (۱۲) زره ټوپکې به د جبه خانې سره یو ځای ورکوي، البته پیسې به هر کال وي او ټوپکې یو ځل.

۲. امیر به د جګړې تر ختمېدو پورې د برطانیې نماینده ته په کابل، کندهار او بلخ کې د اطلاعاتو د راټولولو په غرض د استوګنې اجازه ورکوي او بل په هره نقطه کې چې افغاني عسکر د ایران د مقابلې په خاطر ټولېږي د برطانیې نماینده به هلته حاضر وي البته د جګړې تر ختمېدو پورې.

۳. هر کله که دغه کلنې مرسته (روپۍ) قطعه شوې امیر به انګلیسي صاحب منصبان د خپل ملک نه خارجوي.

سرجان لارنس د برطانیې په دایمي نماینده باندې ټینګار کاوه امیر قبوله کړه خو په دې شرط، چې باید مسلمان وي د افغانستان د ملت د احساساتو په نتیجه کې مړ نه شي، چې وروسته ټول محمدزایي حکمرانان لکه: امیر شیر علي خان، عبد الرحمن خان، حبیب الله خان، امان الله خان او محمد نادر خان د همدې دوست محمد خان تړونونه تائید کړل.

---

۱- کله چې سدوزیانو سلسله له منځه ولاړه یار محمد خان الکوزی هم په (۱۸۵۱م) کال مړ شو د ده زوی سعید محمد یو بې کفایته شخص و، چې قدرت ته د رسیدو سره سم یې د ایران د پاچا ناصر الدین شاه قاجار په نامه سکه ووهله هغه د هرات خلکو مړ کړ او د حاجي فیروز الدین لمسی یوسف یې پاچا کړ مګر ایران لښکر کشي وکړه هرات یې ونیو د امیر دوست محمد خان له رسیدو سره سم سلطان احمد خان د هرات د حکمران په توګه تعین کړ.



## امیر دوست محمد خان – سرجان لارنس

۱۸۵۷ م کال (۲) جنوري-۱۲۷۳ل

کله چې ایرانیان د انګریزانو په دې تصمیم خبر شول، چې د هرات په نیولو کې له امیر دوست محمد خان سره مرسته کوي خو د انګریزانو دسخت دښمن او وزیر محمد اکبر خان د نږدې ملګرو څخه سلطان احمد خان د هرات د حکمران په توګه تعین کړ.

انګریزانو خپل نماینده ګان د میجر تیلر تر ریاست لاندې د بغداد څخه هرات ته په (۱۸۵۷م) کال د مارچ په میاشت کې (۱۲۷۳هـ ق) واستوه، هیئت ټینګار کاوه چې سلطان احمد خان د انګریزانو د میل مطابق عمل وکړي او مخکنۍ دښمني دې له یاده وباسي انګریزان به په هرات کې د دوی حکومت په رسمیت وپېژني (که څه هم امیر دوست محمد خان د دوی سره درې میاشتې مخکې تړون لاسلیک کړی و خو انګریزانو هغه هیر کړی و) سردار سلطان احمد خان چې د انګریزانو ډېر سخت دښمن و د هر ډول میلان او همکارۍ څخه یې انکار وکړ او هیئت تقریباً د یو کال څخه وروسته د (۱۸۵۸م) مارچ او (۱۲۷۴ هـ ق) بېرته ناکام ولاړ او نوموړی سردار په دې ډېر افتخار کاوه چې د انګریزانو سره یې تړون نه دی لاسلیک کړی.

د سردار احمد خان حکمراني په هرات کې امیر دوست محمد خان او د هغه زوی غلام حیدر خان چې د کندهار حاکم و ډېر په قهر کړل امیر دوست محمد خان په (۱۸۲۳م) کال د هرات ښار کلابند کړ.

ایرانیان هم په سلطان احمد خان باندې مطمین نه و، ځکه سلطان احمد خان تر هغه وخته مقابله وکړه ترڅو هلته مړ شو دوه میاشتې د ده زامنو هم مقابله وکړه بالاخره د ښار خلک تنګ شول او د ښار دروازې یې خلاصې کړې او امیر دوست محمد خان ښار فتحه کړ او د هرات د فتحې څخه څو ورځې وروسته په (۱۸۲۳م) کال د جولایي په نهمه نېټه د ۷۲ کالو په عمر مړ او د خواجه عبدالله انصاري په خوا کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیر دوست محمد خان دوری ته یوه لنډه کتنه

امیر دوست محمد خان لومړی ځل په (۱۸۳۵څخه تر ۱۸۳۹) امارت کې د یو حکمران حیثیت درلوده، ټول هېواد ورونو ترمنځ یې ویشل شوی او هر یو مستقل و مګر په دویم ځل واکمنۍ کې یو مرکزي حکومت تشکیل کړه د ده ورونه له منځه تللي و او واک یې د خپلو زامنو په منځ کې تقسیم کړ، واک ټول د پاچا سره و په مطلق ډول یې حکومت کاوه حتی په خپلو زامنو یې هم اعتماد نه کاوه، د فوځ قومنده د ده سره وه صدراعظم یې نه درلود، د ده په غیاب کې د ده زامنو فوځ اداره کوله امیر دوست محمد خان په دویم ځل سلطنت کې د انګریزانو سره دوه تړونونه په (۱۸۵۵م) او په (۱۸۵۷م) کال لاسلیک کړل چې د دې تړونونو لاسلیک کولو سره انګریزانو ته د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې زمینه برابره کړه کله چې هندیانو په (۱۸۵۷م) کال د انګریزانو پر ضد قیام وکړ امیر دوست محمد خان د دې حالت څخه د افغانستان په ګټه استفاده ونه کړه او انګریزانو ته وفادار پاتې شو که امیر لږ حرکت هم کړای وای انګریزان حاضر و د احمد شاه بابا د وخت ټولې سیمې ده ته پرېږدي که څه هم امیر د تبعید په وخت کې د نوي تمدن او تخنیک سره اشنا شوی و خو په هېواد کې یې هېڅ اصلاحي او پرمختیایي پلان عملي نه کړ، کوم کار چې د ستاینې وړ دی هغه په هېواد کې د سیاسي وحدت تامینول و ځکه انګریزان حاضر نه و چې کندهار او هرات بیا د افغانستان د مرکزي حکومت تابع وي امیر دوست محمد خان یو فوځ جوړ کړ او شل کاله یې ټول په جګړه کې تېر کړل چې د هرات د جګړې څخه څو ورځې وروسته یې د انړۍ د تل لپاره ترک کړه.



## د امیر شیر علي خان لومړی ځل سلطنت



۱۲۸۳ـ۱۲۷۸

۱۸۶۶ـ۱۸۶۳ م

د افغانستان خلک د سردار پاینده محمد خان د زامنو د تسلط په دوره کې کابو نیمه پیړۍ له جګړو او ناخوالو سره لاس او ګریوان وځکه په دې بې نظمیو کې د انګلیسانو استعماری سیاست دخیل وو د امیر شیر علي خان له سلطنت څخه مخکې پر امیر دوست محمد خان باندې یو شمیر معاهدي تحمیل شوي چې د دغو معاهدو له مخې ترانزیشن او مواصلاتي لارې د افغانستان د خلکو پر مخ وتړل شوي او افغانستان یې په اقتصادی او سیاسی محاصره کې ښکیل کړ، امیر شیر علي خان د خپل پلار په ژوند کې ولیعهد ټاکل شوي و چې د پلار له مرګه وروسته یې د ۱۸۶۳م کال د جون په ۱۲ مه په ۴۱ کلنۍ په هرات کې خپل سلطنت اعلان کړ امیر شیرعلي خان د هرات ولایت د تنظیم لپاره خپل زوی شهزاده محمد یعقوب خان پرېښود او پخپله له محمد اعظم خان سره کابل ته روان شو خو د سبز وار په سیمه کې محمد اعظم خان له امیر څخه جلا شو او د مرکزي سیمو له لارې د خپل سکه ورور سردار محمد حسین خان ته چې د هزاره جاتو حکمران و ورغی او غوښتل یې چې پر کابل یرغل وکړي خو د هزاره جاتو خلکو خپله وفاداری له امیر شیر علي خان څخه اعلان کړه وروسته محمد اعظم خان له خپلو نورو ورونو څخه مرسته وغوښته او د یوې حملې تیاری یې ونیوه خو د امیر شیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي خان د ځواکونو په وړاندې يې مقاومت ونه شو کړای د انګلیسانو دولت ته يې پناه یوړه په یوې بلې جګړې کې سردار عبدالرحمن خان او محمد افضل خان د هندوکش د درې د باجګاه په سیمه کې د امیر شیر علي خان د قواوو په وړاندې ماتې وخوړه محمد افضل خان تسلیم شو او عبدالرحمن بخارا ته تیښته وکړه او افضل خان غزني کې بندي شو امیر شیر علي خان په ۱۸۶۵ م کال د کندهار د تصفې لپاره د یو شمیر ډیرو قواوو سره حرکت وکړ او له سردار محمد امین خان سره یې مقابله پیل کړه او د هغې جګړې په ترڅ کې چې د دواړو لوریو تر منځ ونښته د هغه زوی سردار محمد علي خان ورور یې محمد امین خان سره له ۸۰۰۰ زرو عسکرو سره ووژل شول امیر په دې پیښه ډیر غمجن شو په روحیاتو یې بده اغیزه وشوه د اعصابو کنترول یې له لاسه ورکړ او په کندهار کې یې جلاوالی غوره کړ چې دغه انزوا د امیر شیر علي خان د سلطنت د سقوط لامل وګرځیده ځکه محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان د امیر د انزوا حالت نه ګټه پورته کړ په کابل یرغل وکړ او کابل یې د امیر د زوی محمد ابراهیم څخه ونیو په دې جګړه کې دواړو خواوو ته ۵۰۰۰ مړه ۱۰۰۰ تنه بندیان شول عبدالرحمن خان ۱۸۶۶ م کال غزنی ونیوه خپل پلار یې له بند څخه راوویست او دافغانستان پاچا په توګه اعلان کړ نو په دې حساب د امیر شیر علي خان لومړی ځل سلطنت د خپل ترونو او ورونو سره په جګړه کې تیره شوه د هیواد د آبادی لپاره هیڅ وخت پیدا نه کړ ددې معالج ډاکتر چې ، ایل یا ورسکي دده د شخصیت په اړه داسې لیکي،له کوم شک او تردید څخه پرته امیر په ځوانۍ کې ډیر ښایسته او د توجه وړ و متوسط قد ، پراخه سینه جګه پوزه، توري سترګې، د کمان په څیر د ویښتو ډکې وریځې ، لویه او ګڼه ږیره یې درلوده چې یو یوسپین تار پکې لیدل کیده ، د سر ویښتان یې ګڼ ګاڼ ګوتي او واړه و، د لاس نوکان به یې په نکریزو رنګول، جرات غیرت او وقار دده په کرکتر کې پټ او د احترام وړ و ، په ځوانۍ کې روغ او فعال و تل په لټه او تجسس کې و ،هر تصمیم به یې چې نیوه د هغه په عملي کولو کې به یې کوښښ کاوه ،په




ټول قوت سره به د عمل میدان ته راوته کله به چې هغه کار عملي شو په بل کار به یې اقدام کاوه د کشمکش او ستونزو څخه یې ستړیا نه حس کوله، د ستونزو په حل کې یې د مجادلې څخه یې خونداخیسته ما چې کله دی د ژوند په اخرو وختونو کې ولیده د ټولو روحي او جسمي فشارونو ، د ژوند د مختلفو کړاونو سره سره لړ د ده په عزم،اراده او کوښښ کې څه کمبودي نه و راغلې،ما ډیر ځله له ځانه سره فکر کاوه که چیرې نوموړی د روز ګار له پیښو او حوادثو څخه په امان کې پاتې وای، په مرکزي آسیا کې به تغیر منځته راغلی وای زه وړاندوینه نشم کولای چې دغه تغیر د دې هیواد او ګاونډیو هیوادونو خلکو د خلاصون او یا د دوی د تباهۍ او بربادۍ سبب ګرځیده مګر په هر صورت د سیمې خلکو ژوند ته به یې نوی څیره او رنګ ورښلی وای له یوې خوا سر سخت باعزمه او جنجالي و مګر په عین وخت کی مهربانه او د عاطفي خاوند او خوش باوره هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیر محمد افضل خان واکمني



۱۲۸۳-۱۲۸۴
۱۸۶۶-۱۸۶۷م

کله چی محمد افضل خان خپل امارت اعلان کړ دغه غیر رسمي دولت د انګریزانو لخوا په رسمیت وپیژندل شو او خپل نماینده یې کابل ته را ولیږه او انګریز نماینده د امیر دوست محمد خان د امارت په څیر په کابل کی پاتی شو او امیر شیر علي خان ډیر ژر د کابل د نیولو لپاره ځان تیار کړ د کابل په لور یې حرکت وکړ خو په قلات کې د عبدالرحمن خا ن او محمد اعظم خان د فوځونو لخواماته وخوړه د هرات په لور ولاړ وروسته مزار ته ولاړ او د سردار فیض محمد خان په مرسته یې د کابل په لور په ۱۸۶۷م کال ښکر کشي وکړه عبدالرحمن خان د پنجشیر په بازارک کی دهغوی مخه ونیوله فیض محمد خان مړ او شیر علي خان د هرات په لور وتښتیده په دې وخت کې محمد افضل خان په کابل کی مړ او همالته خاورو ته وسپارل شو، وروسته محمد اعظم خان د امارت اعلان وکړ.



## امیر محمد اعظم خان



۱۲۸۴-۱۲۸۵
۱۸۶۷-۱۸۶۸ م

امیر محمد اعظم خان د سردار عبدالرحمن په موافقه د کابل په تخت کیناست څنګه چې نوموړی ځان غوښتونکی یعنې خودخواه انسان و عبدالرحمن خان یې له مرکز څخه د شمالی ولایاتو د نیولو لپاره ولیږه د بلخ او تالقانو د نیولو وروسته د میمنې په لور وخوځیده او میمنه یې کلابنده کړه چی په دې وخت کې امیر شیر علي خان او محمد یعقوب خان په هرات کې لښکرې برابرې کړې په کند هار یې یرغل وکړ څنګه چې د کندهار اوسیدونکی محمد اعظم خان د زامنو له ظلم څخه په تنګ وو د شیر علي خان راتګ ته ښه راغلاست ووایه او کندهار یې ونیوه امیر شیر علي خان د کندهار له نیولو څخه وروسته د کابل په لور وخوځید محمد اعظم خان یې مخې ته راووت محمد اسمعیل خان د چاریکارو والي د محمد اعظم خان له غیابت څخه ګټه واخسته کابل یې ونیو او د کابل خلک هم د امیر شیر علي خان په نامه ورته تسلیم شول، امیر محمد اعظم خان ځان د دوه قواوو ترمنځ د کابل او کند هار لخوا حصار ولید دېته اړ شو چې د تخار په لور وتښتي او ځان د عبدالرحمن خان سره یو ځای کړي امیر شیر علي خان لا کابل ته نه و رسیدلی چې محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان له نوی قواو سره د غزنې په لور را روان شول امیر شیر علي خان په ۱۸۶۸ م کال ددوی ترمنځ جګړه ونښته امیر شیر علي خان بریالی او دواړه سرداران بنو او میرانشاه ته وتښتیدل د انګریزانو لخوا هند ته وبلل شول تر څو هلته ووسیږي مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د سیستان له لارې مشهد ته ولاړل سردار عبدالرحمن خان له هغه ځایه بخارا ته ولاړ او محمد اعظم خان د تهران په لور وخوځید د لارې په اوږدو کې ناروغ او مړ شو په بسطام کې خاورو ته وسپارل شو او سردار محمد اسحق خان د محمد اعظم خان زوی هم له بلخ څخه ماوراء النهر ته ولاړ په دې ترتیب امیر شیر علي خان له ډیرو جګړو څخه وروسته پاچا شو او انګریزان هم د امیر شیر علي خان په مقابل کې د قوی رقیب څخه یواځې پاتې او شیطانت یې پای ته ورسید.

## د امیر شیر علي خان دویم ځل پاچاهي

۱۲۸۵-۱۲۹۵ هجري

۱۸۲۸-۱۸۷۸ میلادي

امیر شیر علي خان د (۱۸۲۸) ز کال په پای کې په ششګاو کې د سردار محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان تر ماتې وروسته کابل ته داخل او د دویم ځل لپاره سلطنت ته ورسید هغه لومړی مرکزي حکومت ټینګ کړ امیر شیر علي خان یو روښان فکره او نوښتګر سړی و، نوموړی په افغانستان کې د نوي تمدن بنسټ ایښودونکی دی افغانستان ته د نوي تمدن راتګ د اروپا له صنعتي انقلابه پیلیږي امیر شیر علي خان د مشهور فیلسوف او پوه افغان سید جمال الدین لارښوونې په پام کې ونیولې او په اصلاحاتو کې یې تري ګټه واخسته چې اصلاحات یې په لاندې برخو کې ترسره کړ:

۱- اداري برخه: په ۱۸۷۴ م کال حکومت یا اجرایه قوه رامنځته شوه په راس کې یې سید نور محمد شاه فوشنجي صدراعظم سپه سالار حسین علي د دفاع وزیر، ارسلا خان د بهرنیو چارو وزیر چې د حاجي دین محمد او حاجي قدیر نیکه وو، عصمت الله خان د داخلې وزیر، حبیب الله وردګ د مالیې وزیر او محمدحسین خان د خزانو وزیر وټاکل شو سربېره له دې د پوست اداره هم په مرکز او ولایاتو کې منځته راغله نوموړی د (۲۰۰۰) نماینده ګانو په ګډون یوه لویه جرګه هم دایره کړه.

۲- پوځي برخه: امیر شیرعلي خان د هیواد د خاورې او خپلواکۍ د ساتلو



لپاره یو لک کسیز منظم پوځ جوړ کړ د یاد شوي پوځ غړیو ته به ترپوځې زده کړې وروسته د هماغه وخت وسله ورکول کیده او یونیفورم به یې اغوسته او په ۸ مرکزونو کې ځای پرځای شوی و چې په لاندې ډول دي کابل، شیر پور، جلال اباد، قندهار، کرمه، هرات، میمنه او بلخ.

۳- اقتصادي برخه: نوموړی د شیر پور د ښار بنسټ کیښود چې له همدې ځایه باید د کابل ښار پراختیا پیدا کړی وای خو ددې ښار د جوړونې چارې د انګریزانو د دویم یرغل په اساس نیمګړی پاتې شوې ده جنسي مالیه په نقدي مالیه بدله کړه د مالدارې او کرنې په برخه کې ډیره پاملرنه وشوه پخوا مالیات ډیر درانه وو بزګرانو او مالکانو نشوی کولای چې هغه ورکړي هغوی مجبوره وو چې د کال په لومړیو دریو میاشتو کې دحاصلاتو تر اخیستو دمخه د پیشکې په توګه ورکړی اصلاحات رامنځته شول هغه صنایع چې خلکو ورته اړتیا درلوده صنعتګران هڅول کیدل تر څو کیفیت او کمیت یې پورته لاړ شي.

۴- فرهنګي برخه: عنعنوي ښوونه او روزنه چې پخوا به په جوماتونو او کورونو کې تر سره کیده د ښوونځیو په جوړولو سره په عصري ښوونې او روزنې بدله شوه ملکي او فوځي قوانینو او حربي ښوونځې جوړ کړل چې ریاضي، جغرافیه، تاریخ، دیني علوم لیک سپورت او ځینې نور مضامین تدریسیدل او د زده کوونکو شمیر تقریبا ۳۰۰۰ تنو ته رسیدل د کتابونو نشر او چاپولو ته توجه وکړه په بالاحصار کې مطبعه تاسیس شوه د لومړي ځل لپاره په ۱۸۷۵ م کال د شمس النهار په نامه جریده په میاشت کې په ۱۲ مخونو کې دوه ځلې چاپیده او یو شمیر معلوماتي رسالې او اصول نامې هم چاپیدی، پوستي ټکټ چاپ شو او د پوستې خدمتونو لپاره هر ځای کې پوسته خانې فعالې شوی د امیر شیر علي خان د وخت اصلاحات د دولتي چارو پر ټینګښت او د اقتصاد په ودې ډیر اغیز وکړ او د خلکو پر ژوند یې د پام وړ تغیر راوست، سید جمال الدین افغان په ۱۸۳۸ م د افغانستان د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ د صدرګټ په کلي کې زیږیدلی دی په ۱۸۵۷م

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۹کلنی په عمر د امیر دوست محمد خان دربار ته ورسید نوموړی امیردوست محمد خان ،امیرشیرعلي خان لومړی ځل امیرمحمد افضل خان امیرمحمد اعظم خان د واکمنیو پر مهال د هغوی په دربار کې اوسیده د امیرشیرعلی خان په دویم ځل واکمنی کې وطن پرېښودلو ته اړ شو.

**د امیر شیر علی خان کورنی ستونزی:**

په کورني سیاست کې د امیر اشتباه داوه چې د مشرانو زامنو په موجودیت کې کشر زوی عبدالله جان د ولیعهد په توګه وټاکه د ده مشران زامن سردار محمد یعقوب خان او غازی محمد ایوب خان په دې کار ډیر خفه او د پلار سره یې اړیکې خرابې شوی یعقوب خان د هرات والي و چې د پلار د امر نه یې سرغړونه وکړه د عبدالله جان د ولیعهد ټاکنې په مناسبت د جشن جوړولو څخه ډډه وکړه امیر شیر علي خان د یعقوب خان پر ځای شاه غاسي شیردل خان د هرات د والي په صفت مقرر کړ یعقوب خان یې کابل ته راوغوښت او بندي یې کړ او تر هغه وخته پورې په بند کې و تر څو امیر شیر علی خان د انګریزانو د یرغل په وخت کې د کابل څخه د مزار شریف په لور حرکت وکړ بیا یې یعقوب خان د بندیخانې څخه راوویست په کابل کې یې د خپل نایب په توګه وټاکه خو کله چې نوموړی په مزار شریف کې وفات شو یعقوب خان خپل ځان د پاچا په توګه اعلان کړ.

د امیر شیر علي خان سیاسي ستونزې:

امیر شیر علي خان غوښتل چې په دویمه پلا پاچاهي په ۱۸۶۸ـ ۱۸۷۸ م په افغانستان کې مرکزي دولت قوي او پیاوړي فوځ جوړ او په هیواد کې تخنیکي بنسټونه تاسیس او پراختیا ورکړي د هیواد موجوده خاوره وساتي نوموړی کوښښ وکړ چې د ګاونډیو هیوادونو خصوصا برطانوي هند او تزاري روس سره ښې اړیکې ولري ولې انګلستان د امیر له دې سیاست سره موافق نه و ځکه هغوی غوښتل چې تر هندوکش پورې دوی عملي سرحد ولري او یا د افغانستان واکمني د دوی تر نفوذ لاندې وي همدې موخې ته د رسیدو لپاره چې د امیر شیر علي خان نه تقریبا ۳۹ کاله مخکې ،۱۸۳۹ م پر



افغانستان نظامي یرغل وکړ چې په دغه یرغل د انګریزانو ماتې د هغوی څینو موخو ته په رسیدو کې ناکام کړل چې دغه ناکامی د افغانستان په اړه د انګریزانو نظرونه په دوو برخو وویشل یوه ډله د لیبرال ګوند ګلیسټون ډله وه دوی غوښتل چې په افغانستان باندې نظامی یرغل وکړي دا هیواد لاندې کړي د روسانو د نفوذ مخه ونیسی دویمه ډله د انګلستان محافظه کار ګوند و، دوی غوښتل چې د فارورډ پالیسي د غوره کولو د کندهار او هرات ولایتونو په نیولو سره د روسانو پرمختګ مخه ونیسي انګلستان د افغانستان د نیولو او یا په افغانستان کې د نفوذ د ټینګولو مسئله په ۱۸۵۷ م کال د هند د خلکو د پاڅون په وجه تر ۱۸۷۴ م کال پورې په هند کې د انګلیسانو د مصروفیت په وجه ځنډیدلی و او په دغه موده کې پر افغانستان باندې سیاسي فشار یو څه کم و امیر شیر علي خان چې کله دویم ځل پاچا شو انګریزانو په دې وجه چې د امیر مخالفین ختم شوي و په هیواد کې ارامه آرامي وه دده پاچاهي یې په رسمیت وپیژنده امیر د برطانوي هند په بلنه د ۱۸۶۹ م کال د مارچ په ۲۷ نیټه هند ته سفر وکړ د سید نور محمد او دکابینې د نورو غړو سره یوځای په امباله کې له انګریزانو سره لیدنه وکړه په دغه لیدنه کې امیر خپلې غوښتنې په لاندې ډول طرحه کړ د ۱۸۵۵ او ۱۸۵۷ م کلونو تړونونو دوه جانبه شو د انګلیسانو لخوا د امیر ولیعهد وپیژندل شي د مرستو کلنی اندازه باید مشخصه شي د دښمن د یرغل په وخت کی باید برطانیه یواځي د وسلې او پیسو مرسته وکړي د امیر وراندیزونه ونه منل شول دامبالي کنفرانس له کومې مثبتې پایلې پرته ختم شو.

**د سیستان موضوع:**

سیستان له ډیرې پخوا زمانې د افغانستان د خاورې جزء و ایران د امیر شیر علي خان په لومړي پلا واکمني په ۱۸۶۳ م کال کې د افغانستان د داخلی ګډوډۍ څخه ګټه واخسته د انګریزانو په مرسته یې د سیستان ډیرې برخې ونیولې امیر شیر علي خان په دویم ځلې کې ۱۸۶۸ م کال یو قوي فوځ جوړ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل یې چې خپله خاوره بیرته ونیسي انګریزانو مداخله وکړه یو نماینده یې ګولډ سمیټ په نامه ۱۸۷۲ م کال راولیږه نوموړی د ایران په ګټه پریکړه وکړه دا پریکړه داسې وه چې زمونږ د خاورې ۵۰ کیلو متره یې ایران پورې وتړله او ایران یې مونږ سره د هلمند په اوبو کې شریک کړل، امیر شیر علي خان دغه پریکړه قبوله نه کړه مګر د امیر او انګریزانو سیاسي اړیکو باندې منفي اغیزه وکړه، تر څو د محمد ظاهر شاه سره د موسی شفیق د صدارت په وخت کې دغه لانجه پای ته ورسیده.

**د سملې کنفرانس: ۱۸۷۳م-۱۲۹۰ش کال:**

د برطانوي هند نایب الحکومه لارد مایو غوښتل چې امیر د روسانو او انګریزانو د خبرو او د افغانستان پر شمالي سرحد باندې د موافقې څخه خبر کړي دغه کنفرانس دوه ورځې دوام وکړ د افغانستان نماینده سید نورمحمد شاه دافغانستان د دولت غوښتنې په لاندې ډول مطرح کړې.

۱- برطانیه باید د وسلو او پیسو مرسته د وضعې د ایجابولو سره سم امیر ته ډاډ ورکړي

۲- د برطانیې دولت باید وعده وکړي چې د ضرورت په وخت کې د امیر لپاره فوځ برابر کړي چې دغه فوځ به د امیر د امر لاندې وي مګر د دندې داجراء کولو څخه وروسته به له افغانستان څخه خارج شي.

۳- د افغانستان او انګلیستان دواړو دولتونو د ګټو د ساتنې په خاطر باید نظامي پوستې جوړې شي په دې اړه باید له افغانستان سره د پیسو او تجهیزاتو مرسته وشي د سید نور محمد شاه د ټول وړاندیزونو په مقابل کې د انګریزانو لخوا نامعلومې او مجهولې وعدې ورکړل شوی او کنفرانس ختم شو.

**د پیښور کنفرانس ۱۸۷۷م – ۱۲۹۴ هـ ش:**

په ۱۸۷۷م کال د لارد مایو پر ځای لارد لسټن د هند د نوي نایب الحکومه په توګه وټاکل شو، لاردلیسټن د لندن څخه هدایت ترلاسه کړی و چې د روسانو د مخنیوي لپاره د هرات، کویټې او بلوچستان ولایتونه ونیسي د



پېښور په کنفرانس کې د افغانستان نماینده او صدراعظم سید نور محمد شاه او د انګریزانو نماینده لویس پلي کوښښ وکړ چې په سید نور محمد شاه باندې په افغانستان کې د انګریزی نژاده نماینده شتون قبول کړي مګر بریالی نه شول سید نورمحمد شاه ۱۸۷۷م د مارچ ۲۲ نیټه وفات شو امیر د هغه پر ځای مستوفي حبیب الله ولیږه مګر انګریزانو کنفرانس ختم اعلان کړ

**د امیر شیر علي خان دربار ته د روسي هیئت راتګ:**

امیر دوست محمد خان او امیرشیرعلي خان دواړه د برطانوی هند سره د دوستۍ غوښتونکی و مګر انګریزانو د افغانستان سره د جګړې لپاره بهانې لټولې انګریزانو لومړی ځل د روسیی نماینده ویکتو ویچ له راتګ ۱۸۳۸م سره په ۱۸۳۹م کال په فغانستان یرغل وکړ دوهم ځل ۱۸۸۷م کال د جنرال ستالیتوف د راتګ سره سم پر افغانستان یرغل وکړ د انګریزانو په دواړو یرغلونو کې روسانو د افغانستان پاچاهان امیر دوست محمد خان او امیرشیرعلي خان چې له هغوی سره یې د مرستې وعدي کړې وې یواځې پریښودل د جنرال ستالیتوف روسي سفیر د راتګ سره سم انګریزانو ۱۸۸۷م کال د اګست ۱۴ نیټه امیر ته یو مکتوب راولیږه چې مکتوب کې یې لیکلي و.

چې سر نیول چمبرلین کابل ته راځي نوموړی به په کابل کی له امیر سره وګوري او له امیر څخه یې غوښتنه کړې وه چې نوموړی هیئت په خپل حضور کی ومني امیر شیرعلي خان ددې لیک (التیماتوم) په ځواب کې ولیکل اوس د خپل زوی عبدالله جان د مړینې له کبله غمګین دی ددې مسئلې د څېړلو لپاره وخت نه لري څو ورځې وخت دې ورکړای شي ترڅو ددې موضوع لپاره فکر وکړي، د روسانو نماینده دده په اجازه کابل ته راغلی و نه په زور سره د هند وایسرا د رسمي اجازې پرته خپل هیئت ته د افغانستان په لور د حرکت امر ورکړ دهیئت په سر کې چمبرلین قرار درلود چې د خیبر له لوري حرکت وکړي په علي مسجد کې د افغانستان د نظامي مسول لخوا ودرول شو د هند وایسرای د خپل هیئت درول د برطانیې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحقیر وګانه د افغانستان پر ضد یې جګړه اعلان کړه د ۱۸۷۸م کال د نومبر ۲۱ نیټه انګلیسي عسکرو د خپلې مخکینې نقشې د عملي کولو لپاره له دریو لاروخیبر، کرمې او بولان څخه په افغانستان یرغل وکړ امیرشیرعلي خان له روسانو څخه د مرستې د ترلاسه کولو په پلمه د مزار شریف او روسیې په لور حرکت وکړ د روسانو لخوا یې مثبت ځواب ترلاسه نه کړ بالاخره د روحي فشار له مخې په ۱۸۷۹م کال کې ناروغ او وفات شو او مزار شریف کې خاورو ته وسپارل شو.

## د انګریزانو لخوا د امیرشیرعلي خان سره د جګړې اعلان

۱۸۷۸-۱۸۸۰م

کله چې انګلیسي پلاوی په خپل سر علي مسجد ته راورسید، د سرحد ساتونکو مشر فیض محمد خان له خوا ودرول شو تر څو له کابل څخه اجازه ترلاسه کړي په دې وخت کې کیوناری پوښتنه وکړه تاسو د یو دوست هیواد د استازي د داخلیدو مانع ګرځئ آیا دا خبره به د امیرشیرعلي خان د حیرانتیا سبب ونه ګرځي فیض محمد خان ځواب ورکړ څرنګه کیدای شي، چې دیو دوست هیواد استازی بې له اجازې خلکو ته رشوت ورکوي تر څو دوی ته لاره ورکړي او آفریدي د آفریدو پر ضد لمسوي چې په هیواد کې د ویني د تو یيدو سبب کېږي څه وخت چې جنرال چمبرلین د خپل هیئت سره دسرحد څخه راوګرځید لستن چې تش بهانه یې غوښتله او دا زمینه یې پخپله برابره کړې وه، ډیر خوشحاله شو ځکه لندن نومړي ته واک ورکړي و چې د افغانستان پاچا باید عذر کولو او په افغانستان کې په دایمي ډول د انګریزي استازو د منلو لپاره مجبور کړي په همدغه وخت کې د انګریزانو لخوا په ۱۸۷۸ م کال د اکتوبر په ۳۱ یو التیماتوم کابل ته راورسیده او انګریزانو د خپلو غوښتنو د رد او یا مثبت ځواب لپاره ۱۰ ورځې وخت امیر ته ورکړ امیر د همدې کال د نومبر په ۱۹نیټه د انګریزانو التیماتوم ځواب د عثمان خان په لاس ولیږه خو تر دې وخته انګریزانو خپل



تخریبي عملونه په افغانستان کې دننه سرته رسولي و په دې معنی چې دامیر د کورنۍ د سردارانو په منځ کې نفاق پیدا کړي و کله چې انګریزانو په افغانستان باندې د تیرې تصمیم ونیو او د شیرعلي خان لخوا د التیماتوم ځواب هم په ټاکلي وخت ونه رسیده نو د انګلیسي فوځ د دریو سرحدي محازونو کرمې محاذ، کندهار محاذ او خیبرمحاذ له لارې افغانستان ته داخل شول انګریزي فوځونه موظف وچې د کندهار په محاذ کې دغازي خان له دیرې څخه د بولان، ګرشک او کویټې د لارې باید په کندهار برید وکړي او دویمه برخه د کوهاټ څخه د ټل او پیواړ ځاځي میدان، خوست او لوګر له لارې پر کابل حمله وکړي او دریمه برخه د پیښور جمرود د علي مسجد او ډکې له لارې پر جلال اباد یرغل وکړ، چې د افغانستان پایتخت ونیسي او د درې وارو د یو ځای کیدو نقطه کابل ټاکل شوې وه، په کندهار کې انګلیسي فوځ له دوو فرقو څخه چې شمیر یې ۱۲۹۰۰ تنو ته رسیدو او ۹۰ توپونه یې درلودل له دې پرته یې یوه فرقه د احتیاط په ډول چې ۲۲۰۰ تنه او ۱۸ توپه ورسره و او جنرال ستهوډاټ د کندهار د محاذ قومندان و د جلال اباد په محاذ کې د یرغلګرو قواو شمیر ټول ټال ۲۵۰۰۰ تنه او ۱۰۸ توپونو ته رسیده چې جنرال براون د جلال اباد د محاذ قومندان و د کرمی په محاذ کې د یوغلګرو عسکرو شمیر ۱۵۰۰۰ تنو ته رسیده د جنرال رابرټس تر قومندی لاندې وي، په مجموعي توګه د انګلیسی فوځ شمیر ۴۰ زرو تنو ته رسیده چې د کال ۱۸۷۸ م نومبر په ۲۱ نیټه انګریزانو پر افغانستان یرغل پیل کړل لستن د خلکو د غافله ساتلو لپاره یوه اعلامیه خپره کړه په اعلامیه کې راغلي و چې د انګلیسي حکومت جګړه شخصا د امیرشیرعلي خان سره ده نه د افغانستان د خلکو سره د انګلیس د فوځ د داخلیدو په وخت کې د هیواد سرحدي دروازې خلاصې وي ځکه امیرشیرعلي خان مخکې د افغانستان فوځونو ته په سرحداتو کې د شاتګ امر ورکړی و له بلې خوا د لارې خلک د انګریزانو د تجاوز څخه خبر نه و او دښمن په ناګهانه او ناڅاپي ډول حمله وکړه کله چې خلک خبر شول او دفاع لپاره یې تیاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیوه د دښمن قواوو او توپخانو په ډیرې چټکۍ سره په درې واړو محاذونو کې مهم او ستراتیژیک ځایونه ونیول خو ماتې ځخه وروسته بیرته وتل او دافغانانو او انګریزانو دویمه جګړه کې د روسانو دریځ روس چې کله د توري بحیري سواحل د ترکانو لخوا په خطر کی ولیدل پوهیدل چې د ترکانو سره د فرانسي او انګلستان سمندري قواوي هم مرسته کوي غوښتل یې چې د انګریزانو سره د مرکزي اسیا په میدانونو کې جګړه وکړي ترڅو په وچه کې د هغوی سره مخامخ شي نو د همدې له امله یې یو هیئت د سفارت په نوم کابل ته راولیږه دا مهال د اروپایې هیوادونو لخوا په برلین کې کنګره جوړه شوې وه روسي هیئت هم پکې برخه درلوده په دې کنګره کې داسې پریکړه وشوه، چې د اروپایې هیوادونو لخوا چې روس یې په افغانستان کې د سیاسي نفوذ د ټینګولو ځخه په جدي توګه منعه کړ او د روسانو د نفوذ ساحه د امو تر سیند پورې مرکزي اسیا و ټاکل شو چې دیخوا به روسان تیری نه کوي له بده مرغه امیر شیر علي خان د برلین د کنګري له پریکړې ناخبره و او په دې نه پوهیدو چې

روسان پخپلو وعدو وفا ولې نه کوي او له بلې خوا وخت نوموړي سره یاري ونه کړه او دښمنان ډیر ژر دې ته متوجه شول چې په افغانستان کې دعلم فن پرمختګ چې ددوی لپاره په ګاونډ کې لویه سرخوږي جوړه کړې نو د مرستې لاس له یوې خوا نه هم ورنکړل شو په دې جګړه کې دامیر یوائینې هیله د روسې دولت مرستې ته وه کله چې جنرال ستولتوف کابل د مسکو په قصد پریښود امیر ته یې وعده ورکړه چې ۳۰ زره مسلح روسي عسکرو سره به بیرته کابل ته راوګرځي امیر په دغه وعده کې هیڅ شک نه درلود امیر د جنرال ستالیتوف په مشورو اعتماد وکړ او د برطانیې د سفارت له منلو ځخه یې سرغړونه او انکار وکړ، که چیرې د روسي هیئت ددې اعتماد نامی او د جنرال د رسمي مکتوب سره افغانستان امیر ته نه وای ورغلی او هغه یې د انګریزانو سره د اړیکو پریکولو لپاره نه وای هڅولای په یقین سره د افغانانو او انګریزانو دوهمه جګړه چې روسي یې د یو تماشاچې په څیر



هغې ته کتل نه وای شروع شوی د انګریزانو پر وړاندې دافغانستان د خلکو پاڅون د ۱۸۷۸ م کال د سپتمبر په درېیمه نیټه د ګندمک د تړون په مطابق د ۱۸۷۹ م کال د جولای په ۲۴ نیټه د برطانیې سفیر کیوناري د خپلو ملګرو ۲۵ تنه عسکرو سره یوځای کابل ته راورسید او په بالاحصار کې د امیر محمداعظم خان په ماڼۍ کې میشت شول،نوموړي د مکناټن په څیر د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه پیل کړه کیوناری په لومړیو وختونو کې ډیر خوښ و نوموړی د ۱۸۷۹ م کال د اګست په ۳۰ نیټه د هند حاکم ته راپور ورکړ چې له امیر محمد یعقوب خان او د هغې د وزیرانو ځخه ګیله نه لري خو د همدې کال د سپتمبر په درېیمه نیټه د بالاحصار خواکې درېو نظامي کنډکونو د کابل ښاریانو سره یوځای شول او غونده یې وکړه او پریکړه یې وکړه چې د انګریزانو سفارت دې له افغانستان ځخه وویستل شي د کیوناري او محمد یعقوب خان په غوښتنه سپاه سالار داود شاه خان غونډې ته ورغې چې د غونډې ګډونوال ارام کړي نوموړی هم د پاڅون کوونکو پلوی و خو مجبور و چې د پاچا امر پر ځای کړي

کله چې داود شاه په خبرو پیل وکړ خلکو د آس ځخه راوغورځاوه او و یې واهه او له دې پیښې وروسته کیوناري یعقوب خان ته مشوره ورکړه چې خپل خسر یحیی خان ،موسی خان او نور سرداران د پاڅون کوونکو غونډو ځای ته ولاړ شي پاڅون کوونکود دوهم هیئت عذر هم قبول نه کړ او د بالاحصار په لوري حرکت وکړ د کیوناري سکرتر مشر مستر چنګیز یوتن د افغانی سفارت کارکوونکی د تیمور په نامه د پاڅون کوونکو مخې ته ورولیږه نوموړی پاڅون کوونکو ته وعده ورکړه که چیرې د سفارت ځخه لرې ولاړ شي غونډه تیت کړي دوی ته به د شپږو میاشتو تنخوا ورکړي شي پاڅون کوونو نوموړی پیغام راوړونکی د پښو لاندی کړ د بالاحصار په دې پاڅون کوونکو مارش تیر شو څه وخت چې دوی بالاحصار ته ننوتل د ۲۰۰ انګریزي عسکرو لخوا پر دوی باندې ډزی شروع شوي افغانان د مرمیو په باران کې بالاحصار ته ورننوتل اوکیوناري یې د خپلوملګرو سره وواژه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګریزانو بیرغ یې وسوځاوه دا بری وړیا نه وه د ډیرو افغانانو وینې توېې شوې خو دښمن ته د۱۸۴۱ م کال د نومبر د دویمې نیتې پیښنه وریاده کړه د امیرشیرعلي خان هغه خبرې چې افغانان انګریزي نژاده سفیر نه قبلوی عملی بڼه غوره کړه دکیوناري د وژلو وروسته د انګریزانو دویم ځل فوځي عملیات په ۱۸۷۹ م کال د سپتمبر په ځلورمه په کابل کې د انګریزانو د سفیر د وژل کیدو او د بیرغ له سوځیدو وروسته امیر محمد یعقوب خان په یو لیک کې د انګریزانو د سفارت د ګړو د وژل کیدو په کابل کې د عمومي پاڅون او د خپل ځان کلابندی په اړه خپل خفګان ځرګند او رابرټس خبر کړ چې دې خبرې په هند او لندن کې د انګریزانو مشرانو باندې بده اغیزه وکړه دا کار یې د برطانوي امپراتورۍ لپاره بې عزتي وګڼله د انګریزانو د دوو سفیرانو په ۱۸۴۱ م د نومبر په دویمه د برنس وژل او په ۱۸۷۹ م کال د سپتمبر په ځلورمه د کیوناري د وژلو څخه د عبرت درس وا نه اخسیت په ډیر غرور لیستن رابرټس ته امر وکړ چې په افغانستان کې داسې فوځي عملیات ترسره کړي چې انګریزي فوځونه بیا د افغانستان څخه د وتلو خیال ونه کړي او د هغو افغانانو ساتنه وکړي چې د انګریزانو پلویان دي دا هم د انګریزانو تیر وتنه او خیال و ځکه چې بیا دوی وتلو ته حیران و چې د امیر عبدالرحمن خان په مرسته کندهار ته ورسیدل او یو زیات شمیر په میوند کې ووژل شول تر هغه وخته پورې چی امیر په کابل کې و خلکو امیر ته درناوي له امله عمومي پاڅون نه کاوه خو کله چې یعقوب خان هند ته تبعید شو افغانستان کې عمومي پاڅون پیل شو د انګریزانو ملګرتوب امیر ته کومه ګټه ونه کړه انګریزي فوځونه د ۱۸۷۹ م کال د اکتوبر په ۵ نیټه لوګر ته ورسیدل په چهار آسیاب کې له سختې جګړې وروسته د توپونو په زور د اکتوبر په ۷ نیټه د کابل بالاحصار ته ننوتل د جنرال رابرټس او لارډلسټن پروګرام د کابل د بالاحصار سوځول د جنګي کلاګانو ورانول، د مالي او نظامي ذخیرو ظبتول د ملی مبارزینو وژلو د خلکو قوت له منځه وړلو د تطبیق لپاره خپل فوځونه په بالاحصار کی، سیاه سنګ او مرنجان غونډۍ کې ځای پر ځای کړل او



د ۱۸۷۹ م کال د اکتوبر په ۱۲ نیټه انګریزانو خپله رسمي کړنلاره په دې توګه اعلان کړه:

۱- له دې وروسته د کابل ښار په ۵ میله کې هیڅوک د وسلو سره نشي ګرځیدلای او که چا دغه امر ونه مانه دهغه سزا پانسي او اعدام دي.

۲- هر څوک که خپله وسله انګریزانو ته ورکړي هغوی ته د پټاقی لرونکي توپک په بدل کې ۵ کلداري او د رایفل توپک په بدل کې ۴۰ کلداري ورکوي

۳- غله باید انګریزانو ته د قیمت په مقابل کې ورکول شي.

۴- مالیه باید انګریزانو ته تحویل شي.

۵- هر چا که هغه کسان چې د سفارت د ګړو په وژلو کې لاس درلود دوی ته تسلیم کړي د یو عادی کس په مقابل کې ۷۰-۵۰ کلدارو او د یو صاحب منصب په بدل کې ۱۲۰ کلدارې ورکول کیږې رابرټس وروسته له دې داسې فکر کاوه چې افغانستان یې نیولې او نوموړی د افغانستان خودمختار دی هر څه چې غواړی هغه به کیږي د کیوناري د وخت د بیرغ پرځای چې افغانانو سوځولی و بل بیرغ وځړاوه د افغانستان خلکو د امیر محمد یعقوب خان د تبعید سره سم د جهاد اعلان وکړ چې د ازادۍ په دغه جګړه کې ملي مشران عبارت و له محمد کریم خان، غلام حیدرخان، میربچه کوهدامني میر غلام قادر خان، پرویز شاه پغماني په کابل کې محمد عثمان خان صافي، محمد شاه خان په تګاب کې غلام حیدر خان په وردګو کې عصمت الله خان او داسې نور په ننګرهار او لغمان کې د دې ټولو غازیانو وسله توره او توپک و.

## د امیرشیرعلي خان د ماتې لاملونه:

امیرشیرعلي خان هم د خپل پلار په څیر د انګریزانو د لومړی یرغل په وخت بې وسلې او بې قوې نه و بلکې د خپل لس کلن حکومت په وخت کې یې کافي قوه درلوده او د دې وس او طاقت یې درلوده چې د قهرمان ملت له عزت څخه دفاع وکړي خو له بده مرغه سرحدي حاکمانو او مامورینو لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال ابا کندهار او کرمې ته امر وکړ چې د انګریزي فوځ په مقابل کې مقاومت ونه کړي او شاته راشي ښايي اميرشيرعلي خان داسې نيت درلود چې دانګليسي عسکرو د پرمختګ په صورت کې روسان تحريک شي چې قاطع او عاجل اقدام وکړي ترڅو د دې دواړو لويو قوتونو د تصادم په نتيجه کې خپل سرنوشت وټاکي چې له کلونو څخه د دواړو ګاونډيانو په منځ کې د ډار او هيلو په حالاتو کې لاينحله پاتې و د تل لپاره تصفيه او يو طرفه کړي او خپله قوه د راتلونکي لپاره وساتي امير شيرعلي خان د کابل د تګ څخه لويانو او مشران په يو لوی مجلس کې سره را غونډ کړل د خپل هوډ څخه يې د پايتخت پريښودل او تر باميانو پورې د قوي شاته تګ خبره هغوی ته وکړه.

خو خلکو د پاچا د ارادې پر وړاندې د مخالفت غږ پورته کړ او د خپل ملاتړ څخه يې هغه ته ډاډ ورکړ خو امير ونه منله امير د روسيې څخه د مرستې غوښتنه لرله او د خپل پلار په څير يې تيروتنه کوله کله چې نوموړی ۱۲۹۲ هجری قمری کال مزار ته ورسيد نوموړي غوښتل چې سمرقند تاشکند او پترزبورک ته سفر وکړي خو خلکو د جهاد فکر درلود مخالفت يې وکړ امير فيصله وکړه چې ملا شاه محمد قطب خيل لوګری د بهرنيو چارو وزير د روسانو دربار ته وليږي او خپلو وعدو د عملي کولو بلنه ورکړي او يادونه ورته وکړي خو روسانو له افغانستان سره د مرستي او يا د انګريزانو سره د جګړې په اړوند لا کومه فيصله نه وه کړي هغوی يو تش تظاهر و چې د انګريزانو ويرولو لپاره يې کاوه چې تر څو هغوی د عثماني ترکيي د ملاتړ څخه لاس په سر کړي او په اروپا کې ورسره سيالي ونه کړي د امير غوښتنې بې ځوابه پاتې شوې اوخپل وخت يې بې ځايه په خبرو او مزاکرو تير کړ په ۱۸۷۹ م کال د روحي فشار او خفګان له امله مړ شو او د مزار شريف په روضه کې د خپل ورور وزير محمد اکبر خان خواکې خښ شو روسي هيئت چې تر دې دمه يې دې ته د مرستې وعدې ورکولې روسيې ته ولاړ د امير شير علي خان د مړينې وروسته د ده مشر زوی امير محمد يعقوب خان ۵ کاله بند څخه



وروسته په۱۸۷۹ م کال خپله پاچاهي اعلان کړه نو روسانو بيا دويم ځل لپاره انګريزانو سره افغانان په جنګ کړل او خپله يې د يو ننداره چې په څير په غونډۍ کيناست جګړې افغانستان په اور وسوځاوه او د بربادۍ خواته يې کش کړ او ددې بدبختۍ يو عامل د روسي کاذب هيئت راتګ و انګريزانو په دويمه جګړه کې د افغانستان په ګاونډ کې موقيعت درلود په پيښور کې د انګريزانو د فوځ دوه فرقې په کرمه کې يوه فرقه او په کويټه کې هم دوه فرقې د جګړې لپاره تيار وې، چې د دې عسکرو تر شا د انګريزانو ۱۰۰ زره نور عسکر موجود و چې په مخابراتي، تلګرافي او صحي چارو کې د اړتيا وړ وسايل يې درلودل د يوې فرقې د انتقال لپاره ۱۵۰۰۰ نفر او ۳۵ څاروي ورکړل شوي و ،له دې سره سره د خپل ډير فوځ او پرمختللي وسلو پر مټ د افغانستان د نيولو خيال درلود د افغانستان د لومړۍ جګړې د ختميدو څخه تقريبا ۳۹ کاله تير شوي وافغانستان بلې جګړې لپاره تياری نه درلود امير شيرعلي خان که څه هم يو لک فوځ تنظيم کړی و خو هغوی ته يې د شا تګ امر ورکړی و فوځ يې تيت او پرک شو.

**لاندې عوامل د امیر شیر علي خان د ماتې سبب شو:**

۱- د عصري وسلو نه درلودل او سرحدي غونډونو ته د شاتګ امر.
۲- پر خلکو باندې باور نه درلودل او د روسيې د مرستې انتظار کول.
۳- دانګريزانو د يرغل پر وړاندې د خلکو نه خبرول او ملي غازيانو ته د جهاد نه اعلانول.
۴- له مرکز څخه د مزار په لور حرکت کول او د خلکو يواځې پريښودل.
۵- د يوې واحدې قوماندې يا مرکز نشتوالې.
۶- په فوځ کې د پرديو (بهرنيو) افرادو ګمارل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیر محمد یعقوب خان واکمني



(۱۸۷۹م اپریل ۱۸۷۹) م نوامبر

امیر محمد یعقوب خان د امیر شیر علی خان مشر زوی د امیر دوست محمد خان لمسی او د سردار پاینده محمد خان کړوسی دی

امیر شیر علی خان چې کله خپل کشر زوی عبد الله جان ولیعهد وټاکه یعقوب خان د خپل پلار څخه خفه شو او کابل ته را وغوښتل شو او د امیر کشره ښځه د محمد افضل خان لور او د ولیعهد عبدالله جان مور عایشه د شیطانت په وجه په زندان کې واچول شو کله چې امیر مزار شریف ته حرکت وکړ او هلته مړ شو یعقوب خان د ۵ کاله بند څخه وروسته له زندانه راوویستل او د پاچا په توګه اعلان شو یعقوب خان تر بند پخوا ډیر هوښیار سړی و ډیر نظامي او اداری خدمتونه یې کړي و هرات یې اداره کړوه د غښتلوالی په لحاظ د خلکو په منځ کې په شیر بچه مشهور و خو له بند نه وروسته مکمل یو ناروغ انسان و نوموړی چې کله پاچا شو خپل خسر یحیی خان د سلطان محمد خان طلایي زوی د کابل والي او سردار شیر علی خان د مهردل خان زوی د کندهار والي مقرر کړ چې دا دواړه انګریزانو ته وفادار کسان و انګریزان د کرمې او شتر ګردن له لارې لوګر ته راورسیدل په همدغه وخت د یعقوب خان ترونه سردار محمد حسین خان او سردار ولی محمد خان



مشهور په لاټی لا پخوا کیوناری ته ځانونه رسولي و چې دا کار یعقوب خان وارخطا کړ او د خپل سپه سالار داود شاه او ۷ کلن ولیعهد زوی محمد موسی او نور ۴۵ تنو سردارانو سره لوګر ته ولاړ او کیوناری بیرته امیر محمد یعقوب خان له ځانه سره کابل ته راوړه او دوه میاشتې یې د کابل په حضوری چمن کې نظر بند کړ او خبرو ته کیناستل او د ګندمک تړون یې په ۲۲ نیټه لاسلیک کړه لاندی مادی لری

۱.د دواړو دولتونو ترمنځ به دوستی موجوده وی

۲. ټول هغه کسان چی د انګریزانو سره ارتباط لری مال او سر به یی په امن کی وی

۳.افغانستان به خارجی پالیسی چلولو کې د انګریزانو امر مني.

۴.د تل لپاره به د انګریزانو نماینده په افغانستان کی اوسیږی

۵.د افغانستان ستراتیژیکو سیمو کې به د انګریزانو ځواکونه اوسیږی

۶.د کرمې او د خیبر په ستراتیژیکو درو د پیشین او کویټی سیمو باندی به د انګریزانو حاکمیت وی

۷.د کرمې او کابل ترمنځ به د تلګراف مزی غزول کیږی

د ګندمک د تړون په اثر کیوناری په ۱۸۷۹ د جولای په ۲۴ د یوی ډلې ملکي او نظامي شخصیتونو سره کابل ته ورسید او په بالاحصار کې ځای پر ځای شو کیوناری د مکناټن په شان مغرور حکومت پیل کړ د عسکرو د معاشاتو کار یې په لاس کې واخیست او داسې یې فکریې کاوه چې په دی توګه به هغوی مات شي مګر د هغوی غرور یې را وپاروه په دغه وخت کې امیر یعقوب خان د هرات نه خپل ورور ایوب خان نه عسکر راوغوښتل عسکرو ته ویل شوی وه چې ستاسو تنخوا به په کابل کې ورکړل شي

دغه ستړو او عصبي عسکرو سپه سالار داود شاه ته مراجعه وکړه هغه ورته وویل چې اوس اختیار د کیوناری په لاس کې ده دغه عسکرو کیوناری ته ورغلل هغه وویرید او وارخطا شو فکر یې وکړ چې پر ده حمله کوي هغه پر عصبي افغان عسکرو ډزې وکړې چې یو تن عسکر شهید شو عسکرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمدستي په بالاحصار کې د کیوناری پر کور یرغل وکړ کیوناری سره د ملګرو ووژل شو.

انګریزانو چې د کیوناری له مرګه څخه خبر شول په افغانستان باندی یې فوځی عملیات بیا پیل کړل امیر محمد یعقوب خان د سپه سالار داود شاه خان او ۷ کلن ولیعهد زوی محمد موسی او نور ۴۵ تنو سردارانو سره د لوګر په لور حرکت وکړ په ۱۸۷۹ دسمبر په ۲۹ نیټه امیر او رابټس په خبرو پیل وکړ.

رابرټس لسټن ته ولیکل یعقوب خان تقرباً ۲۲ کلن ځوان دی ، اخلاقی قوت یی له منځه تللی دی لړزیدلې سترګې لري مخامخ چاته کتلې نشي، رابرټس د امیر سره بیرته کابل ته راستون شو او امیر یې په چمن حضوري کې په یوه خیمه دوه میاشتې نظر بند وساته او کابل یی محاصره کړ او هغه زیرمې چی افغانانو په ډیر سختې سره یې راټول کړی و د انګریزانو لاس ته ورغلل چې ۲۵۰ ټنه باروت په سلګونو زره مرمیو ۸۵ توپونه او په زرګونه ټوپک او نور پکې شامل و د اکتوبر په ۱۲ د بالاحصار رنګیدل یې اعلان کړ او امیر محمد یعقوب خان یی هند ته تبعید ولیږه او هملته مړ او خاورو ته وسپارل شو.



**د میوند جګړه (۱۸۸۰م) کال د جولاي (۲۷) نېټه:**

په ۱۲۵۹ هـ ش کال د زمري د میاشتې ۲ نیټې سره سمون خوري د سه شنبې ورځ جګړه د سهار په نهو بجو پیل شوه سردار محمد ایوب خان هم د یعقوب خان په څېر د خپل پلار څخه دځای ناستې په توګه د عبدالله جان په ټاکنه خپه و، خو د (۱۸۷۹م) کال په پیل کې د یعقوب خان لخوا د هرات د حاکم په توګه مقرر شو، نوموړی د پلار په ژوند کې هم یو خپلواک شخصیت تربیه شوی و، چې د خپل ورور د امر تطبیق ورته هم سخت ښکارېده، د کیوناري د مړینې وروسته د یعقوب خان امر یې نه مانه او په فوځ کې اله ګوله پیدا کوله، خو یعقوب مجبور و چې هغه تحمل کړي، هند ته د یعقوب خان تبعید او انګریزانو دوباره فوځي عملیاتو پیل سره ایوب خان مجبور شو چې د امیر شیرعلي خان د کورنۍ مهم غړي په صفت د هېواد د خپلواکۍ په مقابل کې مسؤلیت ادا کړي

کله چې سردار محمد ایوب خان د (۱۸۷۹)م کال په دسمبر کې د انګریزانو د دوهم ځل فوځي عملیاتو او هند ته د امیر محمد یعقوب خان له تبعید څخه خبر شو د هرات د فوځ سره یوځای د استعماري فوځ (انګریزانو) پر ضد پاڅون پیل کړ او له کندهار څخه د انګریزانو ویستل خپل شعار وټاکه خو عجله یې ونه کړه پوره دوه میاشتې منتظر پاتې شو ترڅو د (۱۸۸۰)م کال د مارچ په میاشت کې قطغن ته د امیر عبدالرحمن خان راتګ او د انګریزانو پر ضد د جهاد د اعلان څخه خبر شو، سردار محمد ایوب خان، امیر عبدالرحمن خان د یو لیک په واسطه نظامي او سیاسي یووالي ته راوباله ترڅو دښمن له دوو خواوو څخه د حملې لاندې ونیسي خو امیر عبدالرحمن خان ځواب دوه میاشتې وځنډېده د هرات خلکو زور اچوه چې په یوائې د دښمن مقابله وکړي خو د دریيو دښمنانو (شیرعلي خان د کندهار والي انګریزانو ته تسلیم شوی و پر امیر عبدالرحمن خان هم نوموړی شکمن و او دریيم قوت په خپله انګریزان و ) سره د جګړې کول د ځان لپاره ستونزمن ګڼل خو بیا هم د امیر عبدالرحمن خان کړنې ته منتظر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر عبدالرحمن خان د دې لپاره چې د هرات خلک او ایوب خان پاڅون ته خنډ پیدا کړي جنرال فقیر احمد خان ته یې دنده ورکړه چې د هرات خلک د نن او سبا پر وعدو وځنډوي، کله چې د هرات فوځیان پرې پوهه شول چې نوموړی جنرال دوی د دښمن پر ضد له جهاد څخه منعه کوي، نوموړی جنرال یې وواژه او د جهاد بیرغ یې پورته کړ او سردار محمد ایوب خان د (۱۸۸۰)م کال د جون په میاشت کې د (۱۲۰۰۰) سورو عسکرو او (۳۲) توپونو سره له هرات نه د کندهار په لور یې حرکت پیل کړ چې په لاره کې د کلیو ډېر اوسېدونکي انګریزانو سره د جهاد لپاره د ایوب خان سره یو ځای شول سردار محمد ایوب خان د (۱۸۸۰م) کال د جولای په (۲۰) د میوند میدان ته ورسېدل په وچه دښته کې یې ځای ونیوه څکه جنرال بروز او د کندهار والي شیر علي خان له (۱۲۰۰۰) انګریزي عسکرو سره چې (۳) کنډکه د شیر علي خان عسکر ورسره ملګری و اوبو ته نږدې سیمه کې چې مخکې تر مخکې نیولې وي او انګریزانو د پرمختللې توپونو سره سیمه تر خپل کنترول لاندې نیولې و خو د شیر علي خان عسکرو د غازیانو او ملي اردو د رسیدو سره سم له انګریزانو څخه جلا او سردار غازي محمد ایوب خان سره یو ځای شول (۲۰۰۰) داوطلب کسانو کوښښ کاوه چې د احمد شاه بابا د وخت بند شوي کاریزونه پاک کړي بالاخره هغوی بریالي شول کاریزونه تازه او اوبه جاري شوې (۲) ورځې دواړو قوتونو یو بل ته کتل او په اوومه ورځ ملي فوځ او مجاهدینو عمومي برید پیل کړ، د دښمن قوتونو په ډېر تیزۍ سره فعالیت کاوه چې له سهار نه تر غرمې پورې (۵۰۰) تنه مجاهدین شهیدان او (۸۵۰) تنه مجاهدین ټپیان شول دوی ټولو مشر عبدالغفور خان هراتي، مجر حیدر خان کندهاري او زمان خان بارکزایي او داسې نور... شهیدان شول نائب حفیظ الله خان چې دا حالت ولید پروت امر یې ورکړ، په دغه وخت کې (۴۰۰۰) منظم او غیر منظم غازیان سواره چې د ایوب خان شاوخوا راټول و، دریو خواو ته خواره شول چې نور نه لیدل کېدل، انګریزانو چې دا حالت ولیده د ملي فوځ د قطعې د ماتې لپاره له خپلو ځایونو څخه راوتل او د



افغاني غازیانو په لور یې حرکت پیل کړ، افغانانو مقاومت وکړ خو سورو په یو ساعت کې یو لویه دایره طی کړه او دښمن یې د شا له خوا کلابند کړ چې د مخې او شا نه پر دښمن حمله پیل شوه دښمن چې ځان کلابند ولید او د ژوندي وتلو امید یې له لاسه ورکړ تر مرګه یې جګړه کوله، تن په تن جګړه پیل شوه فقط (۲۰۰) تنه انګریزان په ګرد او دوړو کې ژوندي ووتل خو بیا هم افغانانو تعقیب کړل ترڅو شیرعلي خان له (۲۵) تنو انګریزانو سره هغه هم په افغاني لباس کې ووتل او کندهار کې یې د جګړې خبر جنرال پرایمرز ته ورکړ.

په دې جګړه کې له نارینوسربېره افغانې پېغلې هم ګډون کړی و، چې غازیانو ته به یې اوبه وړلې خو کله چې افغاني بیرغ وړونکی شهید شو بیرغ د غورځېدو په حال کې و پېغلې ملالۍ ورمنډه کړه بیرغ یې په خپل لاس کې ټینګ کړ او دا لنډۍ یې وویلې:

خال به د یار د وینو کېږدم
چې شینکي باغ کې ګل ګلاب وشرموینه
که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

غازیانو د دې لنډۍ په اورېدو سره د الله اکبر نارې وکړې او پر دښمن صف ماتونکې حمله وکړه او تس نس یې کړل پېغله ملالۍ هم په دغه جګړه کې شهیده شوه چې د ملالۍ مړی د ایوب خان او نورو غازیانو لخوا په ډېر درنښت سره خارو ته وسپارل شوه د ملالۍ کورنۍ اوس هم د خوګیانو په کاریز کې موجود دي ملاله په ونه دنګه، ښایسته او حیاناکه پیغله وه او قبر یې اوس هم په میوند کې شته او ټولو افغانانو ته یو ویاړ او عزت راپاتې دی، سردار محمد ایوب خان (۱۰) لس ورځې د شهیدانو په ښخولو مصروف و، وروسته یې د کندهار ښار کلابند کړ پرایمرز چې د مقابلې توان یې نه درلود، د جولایې په (۲۹) سملې نه جنرال ستورات لخوا رابرنس ته امر وشو چې پرایمرز سره په کندهار کې نظامي مرسته وکړي خو دا کار شونی نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته له دې چې د امیر عبدالرحمن خان سره جوړ شي، ځکه امیر عبدالرحمن خان یو ورځ مخکې له دې فتحې نه چاریکارو ته رسېدلې و انګریزانو کندهار ته خبر ورکړ چې یوه میاشت مقاومت وکړي پرایمرز چې په نظامي لحاظ د مقاومت توان نه درلود، د سیاسي تکتیک نه یې کار واخیست او د شیر علي خان(نیا) یعني د سردار مهردل خان مور ته یې مور ویلي و، له دې زړې ښځې څخه یې د خپل مقصد د پوره کېدو لپاره کار واخیست هغه یې سردار محمد ایوب خان ته ولېږله چې (۴۰) ورځې مهلت ورکړي ترڅو انګریزان د وتلو لپاره تیاری ونیسي، سردار محمد ایوب خان د غازیانو د امید په خلاف د دې بوډۍ ښځې غوښتنه ومنله، په داسې حال کې چې د رابرتس فوځونو د اګست په اتمه د کابل څخه د کندهار په لوري حرکت وکړ، خو غازي ایوب له دې حرکت څخه ناخبره و، د انګریزانو فوځ د تېر وخت پر خلاف په ډېرې ارامۍ سره حرکت کاوه ځکه د امیر عبدالرحمن خان د نماینده (سردار محمد عزیز خان د شمس الدین خان زوی) له خوا بدرګه کېده او امیر عبدالرحمن خان لخوا د کابل د خوشې کولو فرمان هم ورسره و علفه او اذوقه یې هم ورته تیاروله، رابرتس د شپې د کندهار ښار ته داخل شو چې سهار د اګست په(۲۸) نېټه د غازي محمد ایوب خان په فوځ ناڅاپې حمله وکړه په دې ناڅاپي جګړه کې ایوب خان ماتې وخوړه او هرات لوري ته یې حرکت وکړ، رابرټس داسې استدلال کاوه چې د مرکزي دولت مشر عبدالرحمن خان دې کندهار هم باید هغه ته پرېښودل شي سردار شیرعلي خان د مهردل خان زوی د دې ټولو خیانتونو سره سره ناکام او هند کې پناه واخیسته، ترڅو هلته مړ شو انګریزانو د کندهار ښار سردار شمس الدین خان د سردار امیر محمد خان زوی ته چې د امیر عبدالرحمن خان نماینده و پرېښود.

انګریزان مخکې د اعلامیې او خیال په نظر کې نیولو سره حاضر نه و چې له افغانستان څخه ووځي خو د افغانانو د قربانیو او وینې توئیدو په وجه د امیر عبدالرحمن خان په پاچاهۍ باندې راضي شول.



## امیر عبدالرحمن خان



(۱۸۸۰-۱۹۰۱ ز)

۱۲۵۸-۱۲۷۴

امیرعبدالرحمن خان د امیر محمد افضل خان زوی او د امیر دوست محمد خان لمسی و، نوموړی په (۱۸۳۰ ز) کې زېږېدلی، سردار امیر عبدالرحمن خان چې د امیر شیرعلی خان لخوا په ششګاو کې ماتې وخوړه بخارا کې اوسیده کله چې په افغانستان کې دانګریزانو په ضد د عمومي پاڅون او قیام څخه خبر شو ځان یې اول بدخشان او بیا قطغن ته ورساوه او د انګریزانو په ضد د جهاد په نامه یې لښکر ټول کړ سالنګ او پنجشیر په لار چاریکارو ته راورسید بل لوري انګریزانو هم چې ځانونه یې د غازیانو به تورو او ټوپکو د مرګ مخامخ بلل هغه ته د کابل د راتلو او د افغانستان د امیر کیدو بلنه ورکړه هغه کابل ته راغی په کابل کې یې د انګریزانو لخوا دروند هرکلی وشو دغه وخت روسانو د انګریزانو په سلا د افغانستان څخه په ۱۸۸۵م کال پنجده[1] (چې ۱۱ سوه کیلو متره مساحت لری) ونیوله امیر عبدالرحمن انګریزانو څخه دوستي تړون سره سم مرسته وغوښته خو هغوی نه یوازی څه مرسته ورسره ونه کړه بلکې په خپله یې هم کویټه ونیوله او د کندهار د بیا نیولو هڅه یې هم وکړه امیر کومه وسله چې پیرودلې و هغه یې په لاره کې ضبط کړه په پای کې امیر ځان مجبور ولید او د ډیورند تړون یې د مارتیمر ډیورنډ لخوا په ۱۸۹۳ز کال لاسلیک کړ خو وروسته د دغه تړون افغان وژنکو او عواقبو ته ځیر شو د هغه سره یې په مخالفت کولو پیل وکړ

[1] پنجده: د بادغیس ولایت پورې مربوط وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د انګریزانو په ضد یې د پښتنو د پورته کولو هڅه وکړه خو بی فایده و، که څه هم د هغې ځینې کارونه د ستایلو وړ هم دی لکه د کافرستان د خلکو مسلمانول او پر هغه د نورستان نوم ایښودل په ۱۸۹۱ز کال کې دامیر عبدالرحمان خان په وخت کې د هیواد سرحدات د انګریزانو او روسانو په خوښه وټاکل شو. د هیواد شمال ته د امیر شیرعلي خان په نامه سرحدی کرښه چې په ۱۸۷۳ز کی د روس د خارجه وزیر شهزاده ګرچاکف او د انګلیس د خارجه وزیر لارډکرنیویل ترمنځ پروتوکول شوی و، په هغه کې بدخشان او د هغه متعلقات او د واخان یوه برخه د کوکچې تر سینده پورې نښه شوې وه، همدارنګه د افغاني ترکستان په برخه کې کندز، خلم او بلخ شامل وه او بیا د کوکچې څخه تر خواجه صالح پورې د آمو سیند چپ لوري د افغانستان په حدودو کې شامله وه، خو د رقد ټاپو چی ۴۲۵ کیلو متره مساحت لری د افغانستان د خاوری جز وګڼل شو همدارنګه د ریجوي د خط حدود د ذوالفقار خم آب او خواجه صالح پورې ۳۷ میله په نښه شول دا کار د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې په ۱۸۸۷ز کې سرته ورسید.

په همدې توګه د پامیر خط چې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې په ۱۸۹۵ز په لندن کې د روسیې د سفیر او د انګریز د خارجه وزیر ترمنځ په نښه شوی و لوی پامیر روسیې او کوچنی پامیر افغانستان ته ورکول شو او هم دواخان دهلیز ناخواسته افغانستان پوری وتړل شو

د شمال ختیځ څخه تر جنوب لویدیځه پورې یعنې د پامیر له جنوب څخه د سیستان تر ملک سیاه پورې د ډیورنډ کرښه د امیر عبدالرحمن خان او د هند د خارجه چارو د سکرتر ما تیمر ډیورنډ ترمنځ لاسلیک شو د نوموړی د حکومت په وخت کې امنیت ټینګ و خو دا امنیت د قبرستان امنیت ته ورته و، دده هر کار د انګریزانو په خوښه تر سره کیده یعنې انګریزانو ته وفادار و نوموړی د یوویشتو[۲۱] کالو پاچاهی څخه وروسته د [۷۱] کالو په عمر د [۱۹۰۱]ز کال د اکتوبر په لومړی ورځ د نقرس د ناروغی له امله دی نړی څخه سترګې پټې کړی او په اوسنې زرنګار پارک کې خاورو ته وسپارل شو.



## د امیر حبیب الله خان واکمني

(۱۹۰۱- ۱۹۱۹ ش)



امیر حبیب الله د امیر عبدالرحمن خان مشر زوی محمد افضل خان لمسی د دوست محمد خان کړوسی دی.هغه وخت چې امیر عبدالرحمان خان بخارا لور ته فرار و په ۱۸۷۲ ز کال د سمرقند په سیمه کې وزیږید د حبیب الله خان مور د بدخشان د سیمه ییز امیر لور وه امیر عبدالرحمان خان د حبیب الله د ستر کیدو سره سم ښوونکی ورته وټاکل هغوي به حبیب الله خان او د هغه کشر ورور نصر الله خان ته چې تر ده دوه کاله کشر و لوست ورکاوه امیر حبیب الله خان په ۱۸ کلنې کې د پلار لخوا د سردار کلان په حیث وټاکل شو ۱۸۹۰ ز کال د وخت په تیریدو سره عبدالرحمان خان د خپل سلطنت ټولې چاری او باندنې چاري ده ته وسپارلې امیر عبدالرحمان خان په اول اکتوبر ۱۹۰۱ ز کال وفات او پر ځای حبیب الله خان چ ۲۸ یا ۲۹ کلن و د واک پر ګدی کیناست حبیب الله خان له د پاچا کیدو سره سم هندی وایسرای ته پیغام ولیږه له هغې خوا څخه ورته مبارکي راغله

او هیله یې ور څخه وکړه تر څو هند ته ورشي خو حبیب الله خان د عنایت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان په مشری یو پلاوی هند او انګلستان ته ولیږه امیر حبیب الله خان به ۱۹۰۲ ز کال د سراج الملة والدین لقب ځانته خوښ کړ په ۱۹۰۵ ز کال ۱۳۲۳ هجری شمسی له انګریزانو سره پلار لخوا د ډیورنډ تړون د بیا لاسلیک په خاطر ۱۹۰۵ ز کال ۱۳۲۳ هجری د دسمبر په میاشت کی د انګریزانو په دوهم ځل بلنه هند ته روان شو او له دوه میاشتې او پنځه ورځې سفر وروسته بیرته راوګرځید امیر حبیب الله خان حبیبیه لیسه ۱۹۰۳ ز کال شاهی مدرسه او حربي ښوونځی ۱۹۰۹ ز کال کې جوړه کړه یو اخبار یې د سراج الاخبار(۱۹۰۵ ز کال) په نامه راوویست چې لومړی مسؤل یې عبدالرؤف او وروسته محمود طرزی شو همدارنګه د میرمن اسما له لوری د ارشاد النسوان اخبار او سراج الاطفال جریده هم د یادونې وړ ده د امیر حبیب الله خان د پاچاهۍ په دوره کې د لومړی نړیوال جنګ په ۱۹۱۴ زکال پیل او په ۱۹۱۸ ز کال پای ته ورسیده انګریزانو ددی لپاره چی افغانستان بې طرفه پاتې شي حبیب الله خان ته یو استازی راولیږه او د تیرو ژمنو په ور یادولو سره یې د بې طرفۍ غوښتنه ور څخه وکړه حبیب الله خان یی غوښتنه ومنله او په ۱۳۳۲ هجري شمسي کال د رمضان په میاشت کې د عام دربار په وړاندی افغانستان ناپیلې اعلان کړ د جرمني او ترکیې د حکومتونو لخوا هم د امیر نه وغوښتل شو تر څو په دی جګړه د انګریزانو پر ضد د دوی سره ملګری شي خو امیر د دوی نماینده ګان لومړی ښه ونازول او بیا یې هغوی ته خپله بې طرفي وښودله نصر الله خان د امیر ورور او عنایت الله خان د امیر مشر زوی د ترکیې د حکومت او استازو ډیره پلوی کوله هغوی غوښتل امیر حبیب الله خان له دی موقع څخه ګټه واخلی او افغانستان ازاد اعلان کړی خو حبیب الله خان په دی تمه چی له جنګ وروسته به د ناپیلو او خپلواک بخښوونکی مجلس غړی شی له ژمن ماتولو څخه ډډه وکړه



## د امیر حبیب الله خان مهم کارونه:

۱. په ۱۲۸۸ هجری شمسي کال د کابل د یتیم خانې جوړول
۲. په ۱۲۷۸ ل کال د رولر د کمپنی څخه په ممبیی کې موټر اخیستل
۳. په ۱۲۸۵ ل کال د جبل السراج فابریکه ودانول
۴. په ۱۲۸۹ ل کال د کابل ملکی شفا خانی جوړول

همدارنګه یې د ځینې ودانیو د بنسټ ډبری هم ایښې ده د مثال په توګه په لغمان کی قلعه سراج ، په جلال اباد کې سراج العمارت، په جبل السراج کې الامکار او په کندهار کې نهر سراج ودانول د یادولو وړ دی

په ۱۹۱۲ ز کال د دسمبر په میاشت کې د امیر حبیب الله خان په وخت کې هندی مهاجرینو په افغانستان کې یو موقت حکومت جوړ کړ

جمهور ریس راجا مهندرا پرتاپ لومړی وزیر مولوی برکت الله او داخله وزیر مولوی عبید الله سندهی وټاکل شو. د امیر حبیب الله خان د حکومت پر ضد د روڼ اندو نهضت ( مشروطی نهضت ) جوړ شو مشر یې مولوی محمد سرور واصف و ، دغه نهضت غوښتل تر څو انګریزان له افغانستان څخه ووځي او هیواد پرمختګ وکړي امیر حبیب الله خان ددی نهضت غړی بندیان کړل

ځینې مشران لکه مولوی محمد سرور واصف، عبدالقیوم او د اصف ورور سعدالله یې په توپ کې والوزول نور ډیر غړي یې د زندان د تورو تمبو شاته واچول خو نهضت غلې نه شو او نوره هم وده وکړه تر دی چې دده زلمی زوی امان الله خان هم ددی نهضت غړی شو امیر حبیب الله خان هم د خپل پلار په شان د انګریزانو د ګټو ساتونکی و د انګریزانو لخوا حمایه کیده د انګریزانو اصلی غلام و لکه د خپل پلار په شان تل په خپل عیش او عشرت کی بوخت و ، بی حسابه ښځې درلودل

نور نو د افغانستان مجاهد ملت نه غوښتل چی حبیب الله خان په واک کې وي نو د خلکو له لوری د خپلواکې اخستلو شعارونه پورته شول او په ښکاره د امیر د پالیسي سره یې د خلکو مخالفت پیل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د امیر حبیب الله خان مړه کیدل:

امیر حبیب الله خان د خپل سلطنت په پیل کې د خلکو د ډیری کرکې وړ نه و دا ځکه چې خلک دده د پلار تاوتریخوالې دردیدلې و نو ځکه دده پاچا کیدل ورته غنیمت و خو کله چې امیر د **۱۹۰۵** ز کال د انګریزانو سره تړون لاسلیک کړ او روڼ اندی د امیر د اداری څخه زړه توری کړل وروسته بیا د مشروطه غوښتونکو د وینو بهیدلو دغه زړه تورروالی په غچ اخستلو بدل کړ. خلک او ځینې درباریان مجبوره شول چې دده په وړاندی ودریږی.

امیر حبیب الله خان د **۱۹۱۹** زکال په فبروری د **۱۳۳۷** هجری قمری جمادی الاول کې د کبانو د ښکار کولو په موخه له خپل ټول دربار سره یو ځای له جلال اباد څخه لغمان ته ولاړ او هلته یی په کله ګوش کې خیمه ووهله د پنجشنبې شپه د همدی **۱۹۱۹** ز کال د می په **۲۱** د شپې له نیمایې وروسته په سر باندی په تومانچه وویشتل شو.

جنازه یې جلال اباد ته راوړل شو او د امیر شهید په بڼ کې چې د هغه په نوم یادیږی خاورو ته وسپارل شو او له هغه وروسته غازی امان الله خان د افغانستان پاچا شو.



### امیر امان الله خان



(۱۹۱۹از-۱۹۲۹از)

امان الله خان د امیر حبیب الله خان ځوی د امیر عبدالرحمان خان لمسی د امیر محمد افضل خان کړوسی او د امیر دوست محمد خان کوسی د سردار پاینده محمد خان کودی دی.

امان الله خان په ۱۲۷۱هجری شمسی ۱۸۹۲م کال د پغمان په طاق ظفر سیمه کې وزیږیده، مور یې ملکه سرور سلطان نومیده، امان الله خان په ۱۲ کلنې کې په عین الدوله ونومول شو په ۱۹۱۲م کال د محمود طرزی له لور ملکه ثریا سره د شهرارا په مانۍ کې واده وکړ او په ۲۷ کلنې کې په ۱۹۱۹ د فبروری په ۲۸د جمعی په ورځ د افغانستان پاچاهی ته غوره شو هغه له لس کلنی پاچاهی څخه وروسته په ۱۹۲۹م کال د می په څلور ویشتمه دی ته اړ شو چې هیواد پریږدي او ایتالیا ته ولاړ شي او وروسته د یو دیرشو کالو د بې وزلې څخه وروسته ۱۹۶۰م کال اپریل شلمه چی د ۱۳۳۹ هجری شمسی د ثور دپنځمی نیتی سره سمون خوری د سویس په هیواد کې د سرطان ناروغی له کبله مړ شو او د هغه وصیت سره سم جنازه یې افغانستان ته ولیږدول شو او په جلال اباد کې د امیر شهید په بڼ کې د خپل پلار ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امان الله خان واک ته رسیدل:

د امیر حبیب الله خان له قتل څخه وروسته امان الله خان په کابل کې نصرالله خان په جلال آباد کې خپل امارت اعلان کړ.

دا چې د کابل خزانه او اردو د امان الله خان په لاس کې و، نو نصر الله خان په یوه لیک کې امان الله خان ته د خپلې استعفا خبر ورکړ او بیعت یې هم ورته اعلان کړ، نو ځکه سردار عنایت الله او نور شهزاده ګانو هم امان الله خان ته ځانونه تسلیم کړل، دوی کابل ته ورغلل د امان الله خان لخوا ونیول شول سردار عنایت الله خان چې بې ګناه و او د امان الله خان باجه هم و هغه یې خوشې کړ خو نصرالله خان یې د ارګ په زندان کې چې جرثقیل نومیده واچاوه هغه کسان چې د امیر حبیب الله خان په قتل متهم و، لکه شجاع الدوله او نور هغوی ته مهم پوستونه ورکړل شو، د خپل پلار د قاتلینو څخه نصر الله خان بندی عبدالاحد خان تبعید او علی رضا خان اعدام شو خو اکثره مورخین وایې دغه افسر بې ګناه و نصرالله خان د یو کال او دری میاشتې بند څخه وروسته مړ شو امان الله خان هغه ځوان عناصر چې د تعلیم له پلوه مجهز و د کارونو په راس کې ودریدل او امان الله خان دازادی زمینه ورته برابره کړه

د خپل پلار د مرګ په اوومه ورځ د فبروری په اته ویشتمه افغان ولس ته د خپلواکې د اخیستلو لپاره یوه اعلامیه صادره کړه.

## د خپلواکی اعلان او د خپلواکی جنګ:

امان الله خان د ملت په نامه لومړی وینا کې افغانستان آزاد او خپلواک اعلان کړ، د ۱۹۱۹ د مارچ په ۳ نیټه بریتانوی هند ویسرای لارډ چلمفورډ د خپل پلار شهادت او د خپلې پاچاهې خبر ورکړ، ورپسې په کابل کې د بریتانیې نماینده هند ته خبر ورکړ، چې امیر داسی اعلان وکړ (زه ځان او خپل هیواد له داخلی او خارجی اړخه پوره آزاد او خپلواک اعلانوم له دی وروسته به زما هیواد لکه د نړۍ نورو هیوادونو آزاد وی).

امان الله خان انګلیسانو ته د افغانستان له ازادی څخه د یو لیک له لاری



خبر کړ، هغوی یوه نیمه میاشتې وروسته ددی لیک ځواب راولیږل او د افغانستان له ازادی څخه یې انکار وکړ او انګریزانو د دریمې جګړی لپاره تیاری پیل کړی، یو ځل بیا افغانان تر خپلې ولکې لاندی راولی.

امان الله خان له روسیی، بخارا او نورو اروپایې هیوادونو سره سیاسی اړیکی ټینګې کړی، له دی ټولو بدلونو څخه انګریزان ډیر وارخطا شول او د برید لپاره راوړاندی شول، جګړه په دریو محاذونو کې پیل شو، د ختیځ محاذ قومندان جنرال صالح محمد خان جنوبی محاذ جنرال محمد نادر خان د لویدیځ یا کندهار محاذ مشری د عبدالقدوس خان په لاس و په دری واړه محاذونو کې انګریزانو ماتې وخوړه، دوی له هغه دوه ځلې ماتی خوړو او تیښتې څخه عبرت وانخیست، په دی ځلې هم له ډیرو سختو مالی او پوځي زیانونو سره ماتی وخوړل او د افغانستان خپلواکی یې ومنل او د انګریزانو فوځي کلا (ټل) فتحه شوه په راولپنډی کې د افغان حکومت او د انګریزانو ترمنځ د سولې تړون لاسلیک شو دا چې د ۱۹۰۵ کال تړون پکې تایید شوی و، افغاني قومندانان خوشحاله نه و، ځکه ددوی قربانې او سربښندنې له خارو سره خاوری شوی او هماغه تړون یې یو ځل بیا تازه کړل، چې دا د امان الله خان لویه سهوه او اشتباه وه.

## د امان الله خان اصلاحات او خدمتونه:

د امان الله خان لومړی فرهنګی کار د امان افغان اخبار خپرول و چې لومړی ګڼه په ۱۹۱۹م کال د اپریل پ۲۲ د عبدالهادي داوي په مدیریت خپره شوه د ۱۹۲۳م کال فبروری په ۲۹ په جلال آباد کې د ملت د ۸۷۲ نماینده ګانو په ګډون په لویه جرګه کې د افغانستان لومړی اساسی قانون تصویب شو او بیا د پغمان په لویه جرګه کې تایید شو.

په اقتصادي برخه کې یې د صنایعو انکشاف ته پوره پام وکړ او په باندینې تجارت کې افغانې پیداوار د نړۍ مارکیټونو ته لاره وموندهٔ. د کابل ښار څو چنده پراخه شوه د ولایتونو ترمنځ لاری او سړکونه له سره جوړ شول افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کوونکی د لوړو زده کړو لپاره بهرنیو هیوادونو ته ولیږل شول مګر د افغاني او اسلامي شعایرو پر خلاف یو شمیر نجونې هم د لوړو تحصیلاتو لپاره ترکیې، المان او فرانسې ته ولیږلې شوی.

امان الله خان له خپلې ښځې سره یو ځای د هیواد د پرمختیا په هیله د ۱۹۲۷م کال اروپا ته په سفر ولاړ، په ډیر تاسف باید ووایو، چې هر جمهور رئیس چې کوم هیواد ته ولاړ شي، له شپږو او یا لسو ورځو زیاتې نه تیروی مګر امان الله خان شپږ میاشتې ټول هیواد بې سرنوشته پریښود، کله چې بیرته له سفره راستون شو، یو نوی فکر یې له ځانه سره راوړ، په یو لړ اقداماتو یې لاس پوری کړ، د دغه اصلاحاتو ځینې کارونه د اسلام سره په ټکر کې وی، چې په وړاندی یې ډیر خنډونه پیدا شول.

**د اماني دولت د ړنګیدو لاملونه:**

میر غلام محمد غبار په خپل مسیر تاریخ کې لیکلی، چې امان الله خان د خپل حکومت په لومړیو کې ډیر اصلاحاتو او بدلونونه رامنځته کړ، هیواد یې له هر اړخه پر خپلو پښو ودراوه، مګر کله چې له اوږدمهاله سفر څخه راوګرځید، نو د پاچا په نظریاتو او فکرونو کې بشپړ بدلون راغلی و، یو سیکولر (له مذهب ازاد) او خپل سری شخص تری جوړ شوی و، کله چې له اروپا څخه هیواد ته راغی نو د خپلې ښځې له سر څخه یې پړونې لری کړ او په هیواد کې یې نوی قوانین او قیودات چې له اسلامي او افغانی ټولنې سره په ټکر کې و کیښودل چې یو څو بیلګې یې په لاندی ډول دی.

۱: پر عامو خلکو د دریشي جبری اغوستل لازم کړ، چې د تطبیق لپاره یې په لارو کوڅو کې پولیس درولي و او پر سرغړونکو یې نقدی جریمه لازمی کړی و.

۲: د ښار پر لارو کوڅو کې لیکل شوی و، چې ښځې له چادریو سره له دی لاری نشي تیریدلای او د ښځو له سرونو په زوره چادریانې لری کولې.

۳: پاچا فرمان صادر کړ، چې له دی وروسته د اونۍ رخصتی به د جمعی پر



ځای د شنبې په ورځ ورکول کیږی.

۴: د افغاني او اسلامي دود او دستور خلاف په روغبړ کې به لاس نه ورکول کیږی، بلکې یو بل ته به خولې له سره پورته کوی.

۵: پر عامو خلکو، بزګرانو او تجارانو مالیات زیات شول.

۶: وزیرانو، والیانو او قاضیانو بډی اخیستل پیل کړل.

۷ـ بل لامل یې په ۱۹۲۴م کال د ملا عبدالله چی په ګوډ ملا مشهور و پاڅون دی.

۸ـ په ۱۹۲۸م کال د شینوارو د خلکو پاڅون چې سراج الامارت یې وسوځول

۹ـ د سقاو د ځوی پاڅون چې پایله یې د امان الله خان د سقوط سبب وګرځید او بیرته اروپا ته وتښتید او هلته یې ژوند غوره کړ.

افغانستان در مسیر تاریخ، ۹۸۱صفحه د غبار صیب لیکنه

۱۰: عطایي صیب لیکي: چې امان الله خان دیموکراسۍ ته ژمن و.

خلک د کورنیو چارو له او معارف له وزیر څخه ډیر تنګ و، یو ځل د لویې جرګې یو غړي مولوي عبدالواسع امان الله خان ته وویل: خلک د معارف او کورنیو چارو له وزیرانو ډیر شکایت لري، باید پلټنه او تحقیق ترې وشي، امان الله خان پرته له دې چې په سړه سینه ځواب ورکړي، په ډیر غرور، تکبر او تمسخر یې وویل: دا زما وزیران دي او ماته مسؤل دي نه تاسې ته!!

د هیواد په سطحه یو پاچا ته هیڅکله نه ښایي چې داسې ځواب ورکړي او ولس له ځانه سره مخالف کړي،

امان الله خان غوښته، چې خپل ولس د اروپا له کلتور او فکر سره برابر وروزي، مګر دا کار یې په خلکو کې نفرت او مخالفت زیات کړ.

نو هماغه و، چې د امان الله خان حکومت له سقوط سره مخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عنایت الله خان واکمني



۱۴ جنوری۱۹۲۹م -۱۸جنوری۱۹۲۹م

عنایت الله خان دامیرحبیب الله خان مشر زوی او دامیر عبدالرحمان خان لمسی دی د عنایت الله خان مور د محمدشاه غلجی لور وه کله چې په۱۹۰۱م کال د هند وایسرای حبیب الله خان ته بلنه ورکړه چې هندوستان ته سفر وکړی حبیب الله خان خپل زوی عنایت الله خان د یو پلاوی په مشری هندوستان او بیا انګلستان ته ولیږه حبیب الله خان عنایت الله خان ته ویلی و چې کوم تړون به انګریزانو سره نه لاسلیک کوی کله چې حبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو عنایت الله خان که څه هم مشر او ولیعهد وء خو ځان یې پاچا اعلان نه کړ په کابل کې د کشر ورور امان الله خان سلطنت ومانه کله چې امان الله خان له کابل څخه ووت عنایت الله خان یې د پاچاپه توګه اعلان کړ ، جګړه دوام درلود حبیب الله کلکاني کابل ته نژدی شوی و ، عنایت الله یو پلاوی د محمدصادق مجددی او محمد عثمان په مشری حبیب الله [بچه سقاو] ته د سولې لپاره وروا ستاوه د غه پلاوی د بچه سقاو پر ځای اول پوځیانو ته ورغلل د امان الله خان د استعفی او د عنایت الله خان د



پاچا کیدو څخه هغوی خبر کړل بیا بچه سقاو ته لاړل او د بیعت خبره یې یاده کړه په دی مجلس کې محمد حسین د کلکاني د دفاع وزیرهم ناست وء هغه چیغه کړه چې مونږ خپل امیر بچه سقاوسره بیعت کوو عنایت الله خان چې کله خبر شو چې خلک بچه سقاو سره بیعت وکړ نو بچه سقاو ته یې خبر واستاوه چې که چیری ته ماته دانګلیس په الوتکه کې تر پېښوره د تلو اجازه راکوی او د ارګ د خلکو د مصونیت ژمنه راکړی نوزه د سلطنت څخه لاس اخلم بچه سقاو هم ومنل عنایت الله خان په الوتکه کې پېښور ته ولاړ د ریل ګاډی په واسطه چمن ته ولاړ بیا کندهار کې امان الله خان سره یو ځای شو دده څلور ورځنې سلطنت پای ته ورسیده تهران کې یې استوګنه غوره کړه په۱۲ اګست۱۹۴۹م کال په تهران کې وفات شو ، جنازه یې جلال آباد ته د خپل ورور او پلار خوا کې نږدې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حبیب الله خان بچه سقاو



۱۹۲۹ میلادي جنوري ۱۷
نه تر اکتوبر ، جدي (۱۳۰۷-میزان ۱۳۰۸)

د امان الله خان تر سقوط وروسته یې ورور عنایت الله خان په پاچاهۍ ټاکل شوی و ، درې ورځې یې مقاومت ونه کړای شو او حبیب الله کلکاني مشهور په بچه سقاو د امین الله سقاو زوی د کابل په لور راوخوځیده کابل یې ونیوه او عنایت الله خان تیښتې ته مجبور شو.

کله چې دی د امیر په توګه اعلان شو د خپلو مخالفینو په ځپلو پیل وکړ لکه حیات الله خان او کبیرخان د امان الله خان وریرونه او دوه یې کاکاګان امین الله او محمدعمر د بچه سقاو لخوا ونیول شول او د دوی دارایي او شته ضبط شول.

حبیب الله خان د مالیو له کمښت او پوځ ته د زیاتو پیسو پر ورکړې سره هڅه کوله چې د عوامو ننګه تر لاسه کړي او په دې ډول خپل قدرت ټینګ کړي مګر حبیب الله د خپل قدرت د پایښت په خاطر ډېر ژر زیاتو مالیو وضع کولو ته اړ شو او په زوره یې د خپلو دښمنانو او د هغوی له کورنیو او د شتمنو او سوداګرو څخه په غیر اسلامي او ناروا طریقو سره د پیسو اخیستو ته لاس واچوه.

حبیب الله بچه سقاو بهرنیانو ته امر وکړ چې افغانستان څخه ووځي نو انګریزانو په دوه میاشتو کې ۵۸۶ تنه د (۸۲) الوتکو په یو ځانکړي هوایي



پروګرام کې انتقال کړل شورویانو هم د روسي اتباعو په ویستلو پیل وکړ. حبیب الله ته کله چې د افغانستان پلازمیه په لاس ورغله نو د شان او دولت خاوند شو.

کله چې ارګ یې ونیوه نو زیات افغاني بانک نوټونه او خورا زیاتې وسلې او مهمات لاسته ورغلل خو حبیب الله بچه سقاو ټولې پیسې په لږ وخت کې مصرف کړي بانکونه تش شول مکتبونه وتړل شول صنعتي فابریکې سقوط وکړ تر څو د خلکو د پاڅون سبب شول.

حبیب الله خپله له تعلیم او سواده خالي سړي و ، ښاري ژوند سره دومره بلدتیا نه درلوده ، واک ته له رسیدو سره سم یې پر خلکو زور زیاتې او ظلم پیل کړو او له دې چاپیره او لاس لاندې خلک له ده ډیر مضر او شریره خلک و ، نو ځکه یې ډیر ژر حکومت سقوط وکړ.

### د بچه سقاو د را پرځولو پیل:

هغو کسانو چې د امان الله خان لپاره یې د افغانستان تخت غوښته د بچه سقاو د لمنځه وړلو وروستی هلې ځلې پیل کړې ، غلام نبي څرخي چې د مسکو سفیر و ، په شمالي ولایتونو کې د امان الله خان د مرستې لپاره را وړاندې شو ، په ۱۹۲۹ میلادي کال د اپریل په دیرشمه د مزار شریف ښار یې ونیوه په همدې وخت کې یې شجاع الدوله چې په لندن کې افغان سفیر و هم شمالي ولایاتو ته راورسید ، جګړې دوام درلود خو د بچه سقاو د ماتې اصلي علت د ده بې کفایته اداره وه چې په دوه ډلو ویشل شوی و.

یو یې د جنګ وزیر سیدحسین چې پر حالاتو کنټرول درلود او بچه سقاو غوندې ظالم شخص و ، دویمې ډلې مشري عطاء الحق د بهرنیو چارو وزیر او د دې ورور شیرخان چې د دربار وزیر و کوله.

همدې وخت کې نادر خان هم له فرانسې څخه راورسید البته نادرخان نه امان الله هم یو ځل غوښتنه کړې وه ، چې په الوتکه کې کابل ته راشي خو نادر خان یوه بهانه وکړه او رانغې مګر یوازې په خپله ګټه جنوبي قبایلي سیمو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ، حبیب الله هم په کابل کې د ده د کور هر څه ضبط کړل.
نادر خان د شینوارو او نورو قبایلو څخه غوښتنه وکړه، چې د حبیب الله بچه سقاو په مقابل کې چې یو ظالم شخص دی زما ملګري شی او په همدې وخت کې حبیب الله بچه سقاو ته هم یو خط ولیږه او د ورور خطاب یې ورته وکړ او د قدرت څخه د لرې کېدو غوښتنه یې ترې وکړه مګر حبیب الله خان د نادر خان د وژلو لپاره انعام ټاکلې و، لنډه دا چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د بچه سقاو د پرځولو پاڅونونه او عملي جګړې پیل شوې، د حبیب الله بچه سقاو پلویان په تیښته شول، په جلال اباد کې ولس د هاشم خان سره یو ځای د حبیب الله په ضد جګړه شروع کړه، بچه سقاو جلال اباد کې په جګړه مصروف و، چې کندهار د اڅکزیو لخوا کلابند شو کله چې حبیب الله کابل ته راورسید شاه ولي خان هم د وزیري قبایلو په ملاتړ د ښار پر څنډو راښکاره شو، په ۱۹۲۹ میلادي کال د اکتوبر په ۱۳ ارګ ونیوه او دوه ورځې وروسته نادرخان د افغانستان د نوي پاچا په توګه پرتخت کیناست او سقاویان څه وتښتیدل او څه اعدام شول.
بالاخره په همدی کال حبیب الله سقاو د خپلو ملګرو سره ووژل شو او د کلوله پشتې په تپه کې خاورو ته وسپارل شو، ترڅو په ۱۳۹۵/۲/۱۱ چې د ۲۰۱۲/۷/۲۹ م سره برابر دی د پنجشنبې په ورځ د حبیب الله کلکاني او د هغه د (۱۷) تنه ملګرو جسدونه د کلکاني د پلویانو لخوا له کلوله پشتې څخه په ډېر شور سره پورته شو او د شهرارا مانۍ ته یوړل شو، او د جنرال دوستم او کلکاني پلویانو ترمنځ نښته رامنځته شوه، ۵ تنه پکې ټپیان شول، بالاخره د مذاکراتو په نتیجه کې روغه وشوه، بچه سقاو د خپلو ملګرو سره شهرارا مانۍ کې خاورو ته وسپارل شو.



## د امیر محمد نادر خان واکمني



(۱۹۲۹-۱۹۳۳ز)
(۱۳۰۸-۱۳۱۲ل)

محمد نادر شاه د محمد یوسف زوی د سردار یحیی خان لمسی او دسردار سلطان محمد خان طلایی کړوسی و چی سلطان محمد خان د امیر دوست احمد خان ورور او سردار پاینده محمد خان زوی و
په کال (۱۹۲۹ز) کې نادر خان او د هغه ورونه یوه فعاله کورنۍ وه، امان الله خان تر دغه وخته پورې د کندهار د خلکو په غوښتنه هڅه کوله که وکولای شي ببرته امنیت ټینګ کړي مګر کله چې د نادر خان له راتګ څخه وروسته باره چینار کې خبر خپور شو نو تر یوه وخت نه پوهېده چې نادر خان د ځان لپاره لګیا دی، همدا چې په دې خبره پوه شو نو ویې ویل تر اوسه خو یوائې د سقاو د زوی خبره وه، اوس د نادر خان ورونه او کورنۍ یې او د حضرت مجددي کورنۍ هم راپاڅېدل.
د یوې لنډې وینا په ترځ کې یې وویل: زه نه غواړم د ځان لپاره د افغانستان خلک لکه د پخوانیو پاچاهانو او شهزاده ګانو غوندې ووژنم، ما افغانستان خپلو موافقو او مخالفو ته پرېښوده، د افغانستان خلک دې په خپله فکر او فیصله وکړي زما هیله د افغانستان خپلواکي او پرمختګ دی.
کله چې نادر خان په (۱۹۲۹ز) کې د اکتوبر په ۱۹ بادشاه شو، افریدو او نورو پښتنو پر پېښور چې د انګریزانو په لاس کې وو حمله وکړه نادر خان له انګریزانو سره د پخواني تړون تصدیق وکړ او دغه راز یې له شوروي اتحاد سره د بې طرفي او تجاوز نه کولو تړون لاسلیک کړ، چې له دواړو خواو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل خطر تول کړ، مګر د نادر خان راتګ په لاندې دلیلونو د بادشاه په توګه د خلکو خوښ نه و.

۱. دا چې نادر په هند کې د هغې ځای ملي مبارزینو ته څرګند وله چې زه امان الله خان بېرته د بادشاه په توګه ساتم یوازې غوارم چې دغه اور مړ کړم.

۲. دا چې دی د سلطان محمد خان طلایي له اولادې څخه و.

۳. دا چې نادر خان په دې هم پېژندل شوی و چې هرومرو د امیر حبیب الله په قتل کې د ده لاس و.

۴. له امان الله سره د ده اختلاف څه نور مسایل هم د امیر حبیب الله په دربار کې د ده په باب موجود وو.

خلکو سره (د نادرخان) د جنوبي محاذ د قومندان په حیث یوه ښه خاطره موجوده وه که ده واقعاً د یو سپاهي په حیث د امان الله لپاره د مخه فدا کاری کړی وای، د خلکو انتظار هم دا و، د ده نوم او حیثیت به ډېر لوړ و.

کله چې نادر خان پاچا شو، د ده یو لړ وژنې او د امان الله خان د پلویانو رټل او یوه سخته جاسوسي درلودل دي، د یو ظالم په توګه معرفي کړ په خلکو کې دا خبره خپره وه، چې نادر خان ظالم سړی دی، بیا هم تر نادر افشار ښه سړی دی او تر هغه ظالم نه دی، د نادر خان د راتګ سره یوه ویره پیدا شوه د امان الله خان پر ضد یې شخصاً تبلیغات کول او مطبوعات یې تر خپل کنټرول لاندې ونیول.

نادر خان هوښیار او ځیرک سړی و، مګر هدفونه یې محدود او شخصي و، ده د انګلیس، هند او روسیې له خوا ځان بې غمه کړ، داسې چې د پښتنو له غزاګانو سره یې همدردي ونه کړه او د روسانو په ګټه یې ابراهیم بیګ چې د روسي مخالف او د مرکزي اسیا د مسلمانانو یو مبارز و، د افغانستان څخه وشاړه او داخلي مخالفین یې چې زیاتره روشنفکره خلک و، وځپل، خپل مخالفین یې بې له محاکمې اعدام کړل.

په ملي تاریخ کې نادر خان یو ظالم، بد قوله او خپل سرې سړی پېژندل شوی مګر دا چې د غوايي د کودتا وروسته رېژیمونو او په پېښور کې د تنظیمونو



مشرانو څه کارنامې وکړې نادر خان او هاشم خان د ظلمونو خاطرې یې پرې مینځلې.

## اداري تشکیلات:

یو له هغه مهمو کارونو څخه چې محمد نادر خان د امنیت، اقتصاد، فرهنګ او نورو پرمختیاوو لپاره د بنسټیز اهیمت ورکاوه د هغه د بنسټیزو تشکیلاتو مسئله وه.

په لومړیو کې شمال او جنوب، ختیځ او لویدیځ او مرکزي برخې په ریاستي تنظیمونو تقسیم کړ او هغو ته یې ډېر مجرب او پوه خلک مقرر کړل.

په ۱۹۳۰ ل کې چې تازه یې کابل نیولې و خپل ډېر فعال ملګری محمد ګل خان مومند کندهار ته د تنظیمه رئیس په توګه مقرر کړ.

په ۱۹۳۱ز کې یې خواجه هدایت الله چې د هزاره ګانو سره یې د عقیدې اشتراک درلوده هزاره جات ته د تنظیمه رئیس په حیث مقرر کړ خو هغه په اخلاص کارونه کول، څرنګه چې شمالي ولایتونو خاصه پاملرنه غوښته نو محمد ګل خان مومند چې وزیر داخله هم و همدا مهال یې د شمالي سردارانو د روزنې لپاره هغوی ته هم لوی اداري اختیارات ورکول، لکه: سردار محمد داود خان چې د مشرقي رئیس تنظیمه کړ.

همدارنګه خپل ډېر تجربه کار مامورین یې په دندو وګمارل مثلاً عبد الاحد خان رئیس شورای د فراه او چخانسور رئیس تنظیمه کړ.

دغو کسانو تر هرڅه وړاندې د امنیت ساتل زیات په پام کې ونیول صدر اعظم محمد هاشم خان هر والي او حاکم اعلی او د ټولو په سر کې د مخابراتو وزیر سخت متوجه کاوه، چې ټیلفون باید فعال اوسي صدر اعظم ته هېڅکله داسې نه پېښېده چې د هرات والي او اعلی حاکم څخه دغه دقیق ګذارش وانخلي او وېده دې شي همدارنګه ټول والیان او اعلی حاکمان مؤظف وو چې د خپلو مسؤلو کار کوونکو ګذارش هره ورځ تر رخصتی وروسته واخلي او بیا د صدر اعظم ګذارش پرې جوړ کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د محمد نادر شاه ناځاپي قتل:**

محمد نادر شاه د خپلې ټولې محتاطۍ ورځې سره د یو شمېر انتقامي احساساتو قرباني شو.

محمد نادر شاه په ظاهره ډېر ارام او خاموشه سړی و نه یې ډېرې خبرې کولې، نه یې پر قرار ویناوې اورولې، خو په دننه کې سخت انتقام اخیستونکې سړی و، دا بیله خبره ده چې هوښیار او مدبر سړی و او وطن ته هم دغسې جدي سړی پکار و مگر په ځینو مواردو کې یې خپل قهر هېڅ زغملې نشو او لکه کبچه مار په خپل دښمن به یې حمله کوله، همدا راز د څرخي غلام نبي خان وژل هم یو انتقام جویانه حرکت و کېدای شي چې د دغه کورنۍ یې له ځانه راضي ساتلی وای همدا و چې په ۱۹۳۳ ز کال د نومبر په اتم عبدالخالق نومی د نجات د لیسې محصل محمد نادر شاه د توفانچې په مرمۍ مړ کړ، د غلام نبي څرخی طرفداران وایي عبدالخالق د څرخی له پلویانو څخه و، خو د محمد نادر شاه طرفداران وایي عبدالخالق د غلام نبی څرخی د کورنۍ مسئله وه، په هر صورت عبدالخالق او د هغه ټول کورنی اعدام شول محمد نادر شا ووژل شواو د هغه پر ځای د هغه ځوی محمد ظاهرشاه د افغانستان پاچاشو.

د یادونې وړ ده چې نادر خان مخکني ترونونه تائید کړ.



**محمد ظاهر شاه**



محمد ظاهر شاه په ۱۹۱۴ میلادی کال کی زیږېدلی دی په ۱۹۳۳ کال وروسته له هغې پاچا شو چې پلار یې محمد نادر شاه له څلور کلن حکومت وروسته د یوه زده کوونکي لخوا چې عبدالخالق نومیده ووژل شو، نادر شاه د افغانستان د استقلال د جګړې ستر قومندان و او د خلکو په زړونو کې ځای درلود او په کابل کې د حبیب الله کلکانی د حکومت له پرځولو وروسته پاچا شو، د نادر خان ورونو محمد هاشم خان او شاه محمود خان چی نه یې غوښتل د نادر شاه له مرګه وروسته افغانستان کې د قدرت په سر کومه لانجه رامنځته شي نو محمد ظاهر شاه چې ۱۹ کلن ځوان ارام کرکتر د ښه خوی خاوند و، د پاچا په توګه اعلان کړ او د حکومت چاری یې ورته وسپارلی د پاچاهی له پیل نه تر ډیری مودی پوری ظاهر شاه یواځی په نوم پاچا و او د حکومت چاری دده دواړو ترونو پر مخ بیولی تاریخ پوهان او سیاستوال د ظاهر شاه دوره یوه سوله بیزه او له جنګ او جګړو خالی دوره بولي، خو زه فکر کوم دغه دوره ځکه ارامه دوره وه چې پاکستان د نړی په نقشه کې وجود نه درلود او کله چې پاکستان د یو هیواد په توګه زمونږ د ګران هیواد په خوا کې رامنځته شو لا په پښو ولاړ نه و او دا توان یې نه درلود چې افغانستان کې د جنګ او جګړو اور بل وساتي خو ښه به دا وای چی ظاهر شاه حکومت داسې حلقې پا کستان کې جوړې کړی وای لکه چې اوس پاکستان په افغانستان کې لری او هغه یې تر خپل کنترول لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلای وای، په هر صورت د نوموړی سیاسی مخالفین بیا دی خپل سلطنت کې په نه کار کولو او هیواد ته د بنسټیز خدمت په نه کولو تورنوی ډیر خلک وایې چې ظاهر شاه په خپله څلویښت کلنه دوره کې هیڅ داسی کار ونه کړ، چې دایمی هوساینې او پرمختګ لامل وګرځي، خو بیا هم ظاهر شاه پاچا شو خپل تره محمد هاشم خان بیا د صدراعظم په توګه وټاکه نوموړی ۱۹۳۹، ۱۹۴۵ میلادی کال په دویمه نړیواله جګړه کې د افغانستان بې طرفی ۱۹۴۱م کال د یوی جرګې په ترځ کې اعلان کړ.

دا چې په دویمه نړیواله جګړه کې افغانستان، عراق، ترکیه او ایران ته خطرونه مواجه و، نو دوي تصمیم ونیوه، چې باید خپلو کې سره یو ځای شي او د تهران په سعداباد ماڼۍ کې څلور واړو هیوادونه غونډه وکړه، په دې غونډه کې دا فیصله وشوه، چې که مونږ له بهر نه کوم تهدید سره مخامخ شو، نو یو له بل سره به مرسته کوو.

په ۱۹۴۲میلادی کال له لومړي نړیوالې جګړې وروسته محمد هاشم خان استعفاء ورکړه او پر ځای یې شاه محمود د صدراعظم په توګه وټاکه.

شاه محمود له فکر نه یو دیموکرات سړی و او دیموکراسۍ ته یې دومره هلې ځلې وکړې، چې د دیموکراسۍ پلار ورته ویل کیده، مګر د ځینو تیروتنو له امله یې مخې خنډونه پیدا شول او د ډیموکراسۍ د پلار سړي ورته وپړسیدلې او ددې په تطبیق کې ناکامه شو.

افغانستان د خپل ستراتژیک موقعیت له امله د یو خپلواک هیواد په توګه د نړیوالو پاملرنه ځانته راواړوله، له ټولو وړاندې المان او ایتالیا د مرستو لپاره خپل مغرضانه لاسونه وغځول.

نوموړی واکمن وکولای شو، د امریکا مرستې هم راجلب کړی لکه د کندهار هوایي ډګر جوړول د هلمند د وادی پراختیا او نور...

په ۱۹۴۷م د دسمبر په شلمه افغانستان د پاکستان د جوړیدو پر خلاف ملګرو ملتونو کې منفي رایه ورکړه په ۱۹۴۶م کال افغانستان د ملګرو ملتونو مهم غړی هیواد شو، په کال ۱۹۲۴م د افغانستان لپاره نوی اساسی



قانون جوړ شو، د دغه قانون د خپرولو وروسته په هیواد کې د بیان او ګوندونو د جوړولو آزادی منځته راغله او د پخوانی نظام ځیره یی بدله کړه په ټولیزه توګه په مدړنیز تابه باور درلود او سیاسی، اقتصادی او تعلیمی نظام یې هم په همدی توګه جوړ کړ، د ښځو او انجونو د آزادی په اړه آزاد نظر درلود او هغوی ته یې تر ډیره ازادی ورکړی وه د ظاهر شاه پاچاهی تر ۱۹۷۳ میلادی کال او ۱۳۵۲ لمریز کالو پوری دوام وکړ او په داسی حال کې چې ده په ایټالیا کې د خپلې سترګې درملنه کاوه چې د خپل سکه تره ځوی سردار داود خان لخوا پری کودتا وشوه او له واکه لری کړای شو ظاهر شاه د دی کودتا پر وړاندی هیڅ غبرګون ونښوده او و یې ویل چې له پاچاهی ستړی دی او غواړی استراحت وکړی او وویل چې دی د هیواد او خپل غیرتي اولس ارامی غواړی او ده ته واک او څوکی مهمه نه ده. د سردار داؤد خان کودتا په افغانستان کې شاهي نظام ته د پای ټکې کیښود او د لومړی ځل لپاره په افغانستان کې د جمهوریت دوره پیل شوه چې سمدستي ورپسې د افغانانو د ستونزو او کړاونو پړاو پیل او لا تراوسه دوام لری اوس زمونږ ګران هیواد د ګاونډیانو د تولیداتو لپاره د یو مارکیټ حیثیت لری او دوی تل کوښښ کوي چې د دوی دا مارکیټ خپل تولیدات ونه لري او د ګاونډیانو پر تولیداتو متکي وی خو الله تعالی دی وکړی چې د دوی دا هیلې د خاورو سره خاوری شی او زمونږ ګران هیواد خپلو سیالانو سره په سیاسي، اقتصادي او ټولنیز لحاظ سیال شي او په خپلو پښو ودریږي.

بالاخره د بن د موافقې نه وروسته اعلحضرت ظاهر شاه کابل ته راغی، د ملت د بابا لقب ورته ورکړل شو، د حامد کرزي د واکمنۍ پرمهال په کال (۱۳۸۸) هـ. ل د زمري په لومړی نیټه د (۸۸) کالو په عمر وفات شو او په ډیر درنښت خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلورم فصل
## سردار محمد داود خان



(۱۹۷۳-۱۹۸۷ز) (۱۳۵۲-۱۳۵۷ل)

سردار محمد داؤد خان د محمدعزیز خان زوی په ۱۹۰۹ م کال په کابل کې زیږیدلی په ۱۹۳۳م کال د محمد ظاهر شاه د خور میرمن زینب سره واده وکړ چې د اوو بچیانو څښتن شو، څلور لونې او دری زامن او په ۱۹۷۳م کال د جولای په ۱۷ چی د ۱۳۵۲ هجری کال د سرطان په ۲۲ یوه کودتا وکړه او د ظاهرشاه د پاچاهی کمبله یې ټوله او جمهوریت یې اعلان کړ د داود خان په وخت دی کودتا ته د سرطان ۲۲ انقلاب نوم ورکول شوی وو او داؤد هم ددی انقلاب د رهبر په نامه یادیږی داؤد خان په هیواد میــن شخص و پاچا محمد ظاهر شاه چې د ایټالیا د ناپل په ښار کې په استراحت اخته و په کابل کې د خپل تخت د چپه کېدو څخه خبر شو نو سم دستي روم ته وخوځېد.

په روم کې نوراحمد اعتمادي یې سفیر و، هغه مشوره ورکړه چې نور له پاچاهي تېر شي او کابل ته خپله استعفا ورولېږي، څو د پاچاهۍ کورني غړي ازار ونه ویني ظاهر شاه هم تقریباً یو میاشت د کودتا وروسته یعنې ۱۳۵۲ل د اسد په میاشت کې خپله استعفا ورکړه د دې استعفا په رسیدو



ملکه حمیرا، شهزاده احمد شاه او د پاچاهي کورنۍ نور غړي چې په کودتا کې بندیان شوي و ازاد او هغوی هم ایټالیا ته ولاړل.

افغانستان د امریکا او روسیې ترمنځ د سیالۍ ډګر وګرځید، روسیې لا د ظاهر شاه په وخت کې خپلې ریښې په افغانستان کې زغلولې وی، چې لومړی سر یې د داؤد خان په وخت کې راپورته او پر هغه یې کودتا وکړ او حکومت یې رنګ کړ.

دواړو پخپل وار پر زوریدلې افغانستان خپل شوم پلانونه پلی کړل او یرغلونه یې پرې وکړل، چې زخمونه یې لاتر اوسه روغ شوي نه دي.

د میراکبرخیبر ناحقه قتل چې داود خان پرې متهم شو د خیبر په جنازه او فاتحه کې د دولت پر ضد جنایت کارانه شعارونه ورکول محمد داود خان یې سخت عصبي کړ او داؤد خان چې کله د روسیې په سفر کې و، نو د روسیې له پاچا سره په خبرو اترو کې مخالف شو او خفه بیرته افغانستان ته راغی.

په خاصه توګه په ده راټولو خاینو او بې عقلو همکارانو لخوا د ده تحریکول چې د خلق او پرچم رهبران ونیسي او د (کی، جي، بي) پلان کامیابې ته ورسوي چې داود او جمهوریت ته یې سقوط ورکړي د اپریل په (۲۵) مه شپه د کابل راډیو اعلان وکړ چې د خاینو عناصر اووه کسه په دې شهرت ونیول شول.

نورمحمد ترکی، ببرک کارمل، ډاکټر شاه ولي، دستګیر (پنجشیري) شرعي (جوزجاني) ضمیر (صافی)، حفیظ الله (امین) (چې پر سبا ونیول شو) پر دې کسانو د وطن پر وړاندې د خیانت تور لګول شوی و.

دوی په زندان کې واچول شول او په بله ورځ د هېواد په مرکز او ولایتو کې جشنونه ونیول شول چې وطن د کمونستو خاینانو څخه پاک شو او دا شعارونه شوروي اوریدل خو پلان یې د تطبیق په حال کې و.

د اپریل په اوویشتمه ورځ سبا وختي، د حفیظ الله (امین) په اطلاع د (۱۴) او (۱۵) زغره لرونکې قوتونو له خوا داود خان په مقر ارګ حمله وشوه، لومړنی ټانګ د اسلم وطن جار و چې پر ارګ او وزارت دفاع یې فیرونه وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



داود خان په دغه وخت کې د کابینې غونډه راغوښتې وه چې د نیول شوي کسانو په اړه تصمیم ونیسي، البته د دوی لپاره اعدام په نظر کې نیول شوی و، د زغره لرونکي قواوې پر ښار حمله وکړه خو ډېر زور یې پر ارګ و او محمد داود خان کابینه رخصت کړه او خپلې کورنۍ سره په زیرخانه کې کېناست.

وزیر دفاع رسولي او د ده لوی درستیز عبدالعزیز له صحنې څخه وتښتېدل او د قرغیي فرقې ته ولاړل چې هغوي راوبولي خو هلته هم وضعه بدله وه تر څو ریشخور ته راوخوځېد بیا په لاره کې ونیول شول او ووژل شول.


ماسپښین هوایي قواوو په میګ جت الوتکو پر ارګ حمله وکړه او ارګ یې سخت بمبار کړ، البته د دې وېرې نه په اردو کې د شوروي (۳۰۰) کسان په دې پېښو کې د لوېې لاس خاوندان وو، مازیګر قیام کوونکي زندان ته ورغلل او رهبران یې راوویستل او د رادیو تالار ته یې راوستل ماښام د رادیو څخه د داود خان د سقوط اعلان وشو او سبا داود خان د خپلې کورنۍ ۱۷ غړو سره ووژل شو (۱۳۵۷ال د ثور په ۷) او په دې توګه د داود خان جمهوریت سقوط وکړ او یوه نوې خطرناکه دوره پیل شوه.

کمونیزم په افغانستان کې هغه نادودې او ظلمونه وکړل، چې تاریخ یې په لیکلو شرمیږي او په افغانستان کې د قطبي خرسانو په رهبرۍ د جهالت او بربریت یو نوی او توره دوره پیل شوه.

د داود خان له مرګ نه وروسته چې کومه بدبختی په هیواد کې روانه ده ددی ټولو بدبختیو مسؤل همدا د داود خان قاتلین دی، چې ددی دوری نه زمونږ د هیواد دښمنانو ښه استفاده وکړه او افغانان یی په یو او بل نوم په جګړو اخته کړل تردې چې قومي او ژبنی استفاده هم ترې وشو، لنډه دا چی زمونږ هیواد ډیر وروسته پاتی شو دغه ۱۳۵۷ ـ ۱۳۹۵ همدا اوس اته دیرش کاله جګړې زمونږ هیواد بنیادی تاوانونه ولید الله تعالی دی وکړی چې د یو اسلامي او خپلواک حکومت له راتلو سره اقتصادی پلانونه پلی شي او زمونږ هیواد په یو تولیدی او اقتصادی هیواد بدل شي.



## د نورمحمد تره کي ژوند مخکې له واکمنۍ څخه



(۱۹۷۹-۱۹۷۸)

نور محمد ترکي د نظر محمد زوی د غزنی ولایت د ناوی ولسوالی په سره کلي کې په ۱۹۱۷م کال زیږیدلی دی دا هغه کال و چې شوروی اتحاد کې د لینن په مشری د اکتوبر انقلاب سرته ورسید نو تره کی هم په ډیر افتخار وویل زما د پیدایښت کال د (لوی انقلاب) کال سره برابر دی د نور محمد تره کی پلار یو شپون و هغه رمی درلو دی او وریو د خرڅلاو کاراو بار یې کاوه

د نور محمد تره کی پلار د کندهار د تجارانو سره اشنا و او له توخیو سره ملګرتوب درلوده

نور محمد تره کی په ۱۲ کلنې کې ښونځي کې شامل شو تر دوهم ټولګي یې ښوونځی ولوسته وروسته له خپل پلار سره کندهار ته ولاړ هلته د غلجیانو د یوه مخور موسی خان سره ولید او پلار ته یې وویل چې دی ماته وسپاره موسی خان دی د هند د ممبیی ښار ته ولیږه چې هلته د افغانستان شرکت یوه څانګه وه ده په هند کې د شپې لیسه تر لسم ټولګی پوری ولوسته له دی سره سره یې څه نا څه انګلیسي او اردو هم زده کړه کله چې افغانستان ته راغی ۱۲ ټولګي یی په کندهار کې ولوسته له دې وروسته په ۱۹۳۷ میلادی کال د عبدالمجید زابلي لخوا د تجارت په وزارت کې د قلم مخصوص مدیر وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تره کی له هغه وروسته د باختر مستقل مطبوعاتي آژانس سره کار شروع کړ بیا په کابل راډیو کې مامور شو تره کی په دی وخت کې یو اثر د (بنګ مسافری) په نوم ولیکل چې په روسي ژبه وژباړل شو او د روسیې سفارت له لوری ورته جایزه ورکړ شوه

دا د تره کی او روسیی سفارت تر منځ لومړنی اړیکې وی تره کی د شاه محمود خان د صدارت په دوران کی په ۱۳۳۲ هجری شمسی کال د ویښ ځلمیانو ګوند کې شامل شو چې ګوند رئیس ګل پاچا الفت وټاکل شو او ځینې غړي یې عبارت و: عبدالروف بینوا، فیض محمدا نګار، غلام حسین صافی، عبدالشکور رشاد، قاضی بهرام خان، اقا محمد کرزی، موسی شفیق، غلام محمد پوپل او نور

تره کی د شاه محمود خان د صدارت په ورستیو کلونو کې په ۱۹۵۳م کال په امریکا کې مطبوعاتي آتشه مقرر کړای شو تره کی په واشنګټن پوست کې د افغان حکومت پر ضد ځینې لیکنې خپری کړی او د حکومت ضد موقف یې غوره کړ چې له دې امله یې داود خان دی کابل ته راوغوښت

تره کی کابل ته په رارسیدلو د یوی دا رالترجمی بنسټ کیښود او د نور دار الترجمه په نوم یې ونوماوه تره کی د ببرک کارمل او نورو ملګرو په مرسته په ۱۹۶۵ میلادی کال د جنوری د میاشتی په لومړی نیته (۱۱ جدی ۱۳۴۳ هجری شمسی) په خپل کور کې په پټه توګه د خلق دیموکراتیک ګوند بنسټ کیښود تره کی د حزب عمومي منشي او ببرک کارمل یې دوهم منشي وټاکل شو

د ۱۹۷۷م کال په جون کې خلق او پرچم بیرته سره یو ځای شول تره کی په ۱۳۴۵ هجری شمسی کال د غزني د مقر له ولسوالی څخه پارلمانی انتخاباتو ته کاندید کړ خو ماته یې وخوړه

**د نور محمد ترکی واک ته رسیدل او د اووم ثور کودتا:**

په ۱۹۷۸ م د اپریل په ۲۷ چی د ۱۳۵۷ د ثور د ۷ سره برابره وه پر داود خان کودتا وشوه چی دغه کودتا کې شوروی اتحاد په مستقیمه توګه لاس درلود



دغه کودتا دوه عمده عوامل درلودل

۱. جمهور رئیس محمد داود خان د خپل حکومت په وروستیو کلو کې له پاکستان سره مناسبات نرم کړل له ایران سره یې نژدی اړیکې قایم کړل مصر، سعودی عربستان او کویټ ته سفرونه وکړل د امریکا جمهور ریس جیمی کارتر په بلنه ۱۹۷۸م کال امریکا ته هم سفر وکړ د داود خان دا حرکات شوروی اتحاد په تشویش کړل د داود خان د حکومت د لمنځه وړلو پلان یې عملي کړ.

۲. ۱۹۷۸م کال د اپریل په ۱۷ میر اکبر خیبر د نامعلومو افرادو لخوا ووژل شو چې همدا کار په افغانستان کې د سترو پیښو لامل وګرځیده کمونستانو دا قتل د داود خان له لوری وباله نو ځکه یې د هغه پر ضد په مظاهرو لاس پوری کړ داود خان ددی پر ځای چې له نرمې کار واخلي په قهر شو کمونستي مشران (نورمحمد تره کی، ببرک کارمل، ډاکترشاه ولی،دستګیر پنجشیری،عبدلکریم شرعی جوزجانی، ضمیر ساپی او حفیظ الله امین) ونیول شو ۲۵ اپریل ۱۹۷۸م کال خو امین تر بندی کیدلو مخکی ۱۴ او ۱۵ زره داری قوی ته اطلاع ورکړی وه چی په ارګ حمله وکړی ۱۴ او ۱۵ زره داری قوی لخوا پر ارګ او دفاع وزارت حملې وشوی داود خان په مقاومت لاس پوری کړ او میګ جیټ الوتکو په ارګ بمبار پیل کړ په ۲۷ داپریل ۱۹۷۸م کال داودخان د خپلې کورنۍ غړو سره شهیدان شول د داود خان د کورنۍ ۳۹ تنه شهیدان تر نن ورځې پوری ورک دی خو ۱۳۸۷هجری شمسی کال د داودخان او دده د کورنۍ د جسدونو د پیدا کولو لپاره د پخوانی جمهور ریس حامد کرزی لخوا یو کمیسون وګمارل شو تر څو د همدی ۱۳۸۷هجری شمسی کال د حوت په ۲۷ د سه شنبی په ورځ داود خان او دده د کورنۍ ۱۵ جسدونه د پلچرخی په ساحه کې پیدا او په ډیر درناوي سره د اسکاټ په غونډۍ کې خاورو ته وسپارل شول تر کودتا وروسته انقلابي شورا اعلان شو چې نور محمد تره کی هم ریس جمهور هم د انقلابی شورا ریس او هم صدراعظم وټاکل شو ببرک کارمل د انقلابی شورا او صدارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی مرستیال حفیظ الله امین د صدراعظم مرستیال او خارجه وزیر محمد اسلم وطنجار د صدراعظم مرستیال او د مخابراتو وزیر عبدالقادر ددفاع وزیر نوراحمد اعتمادی داخله وزیر وټاکل شو وروسته تره کی امین خپل لومړی وزیر ددفاع او بهرنیو چارو وزارتونه هم ورکړل امین په اردو او دولتی پوستونو کې خپل کسان ځای پر ځای کړل پرچمیان یې سفارتونو ته ولیږل کارمل پر اګ د چکو سلواکیا مرکز ته ډاکتر نجیب الله تهران د ایران مرکز ته د سفیر په توګه ولیږل تره کی هاوانا د کیوبا هیواد مرکز ته ولاړ په لاره په مسکو کی تم شو د بریژنیف له لوری ورته وویل شو چی امین لری او ببرک کارمل صدراعظم وټاکی تره کې له همدی پلان سره کابل ته راستون شو خو په دی لیدنه کې یې ډاکتر شاه ولی او سید داود ترون هم حاضر وو هغوی په پټه امین ته ټول احوال ورکړ کله چې تره کی کابل ته ورسید په میدان هوایی کې له امین سره وکتل له هغه وروسته امین نه حاضریده ترڅو له تره کی سره لیدنه وکړی خو د شوروی د سفیر پوزانوف په ټینګار ارګ ته ورغی امین چی کله راغی په زینو کې پرې فیرونه وشول ترون ووژل شو او امین وتښتید له هغې خوا څخه له قواو سره راغی او ارګ یې محاصره کړ تره کی یې له قدرته لرې او ځان یې د انقلابي شورا د ریس په توګه اعلان کړ.

دا چې تره کي بیا څنګه ووژل شو مؤرخین مختلف نظریات وړاندې کوي ځینې وایي چې هغه په همدې ورځ په اوږه او نس کې زخمي مسکو ته په لاره مړ شو او ځینې وایي چې په نهم د اکتوبر د جنرال عبدالودود ملګرو د هغه په خوله بالښت ورکیښود او ویې واژه او د غزني په مقر ولسوالی کې خاورو ته وسپارل شو.



## حفیظ الله امین



۱۹۷۹ـ۱۹۷۹ م
۱۳۵۸ـ۱۳۵۸ ش

حفیظ الله امین د حبیب الله خروټي زوی په ۱۳۰۸ هجری شمسی د کابل په پغمان ولسوالی کې زیږیدلی دی ابتدای زده کړی یې د ابن سینا په لیسه کې تر سره کړي دي او د دارلمعلمین نه فارغ شوي بیرته د همدی ابن سینا لیسی او دارلمعلمین مدیر په توګه مقرر شو لسانس یې د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې تر سره کړ او د ماسټری لپاره امریکا ته ولاړ په ۱۳۴۲ هجری شمسی کال په کولمبیا کې د محصلینو د اتحادیې د مشر په توګه مقرر شو په ۱۳۴۴ هجری شمسي افغانستان ته راغی د نظامي کمیټې د جلبا و جذب مسؤل وټاکل شو د ۱۳۵۷ هجری شمسي د ثور د اوومې کودتا څخه وروسته د افغانستان د صدراعظم معاون او خارجه وزیر وټاکل شو د سنبلې په پنځه ویشتمه د ۱۳۵۸ هجری شمسي د تره کی له وژل کیدو وروسته جمهور رئیس وټاکل شو د خلکو د تیر ایستلو لپاره دولس زره سیاسي بندیانو د شهادت لیست د پلچرخي د زندان په دیوال کې ځوړند کړ، چې د هر یو په وینو د همدی امین لاسونه سره و، مګر افغان مسلمان ولس ته داسې ښوده چې دغه قتلونه یوازې تره کی کړی دی او بل دا چې نوموړی د معصونیت، عدالت او قانونیت شعارونه پیل کړ، چې روسان هم ترینه مایوسه شول هماغه و چې د دریو میاشتو له حکومت کولو وروسته شورویانو هغه وواژه او پر ځای یې ببرک کارمل د ۱۵۰۰۰ روسي عسکرو سره له روسیی نه کابل ته د شپې راورسیده، دلته خلکو د ثاني شاشجاع نوم پرې کیښود، ځکه هغه هم د انګریز لښکر سره یو ځای کابل ته راوستل شوی و او کارمل جمهور رئیس وټاکل شو، مګر د حکومت دستګاه یې له روسیانو سره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ببرک کارمل واکمني



(۱۹۷۹-۱۹۸۶)

ببرک کارمل د جنرال حسین زوی د هاشم خان لمسی و د کابل ښار جنوب ته د کمر یو کلي اوسیدونکې و ځینې مؤرخین وایې چې دده کورنی اصلاً د کشمیر و او دده نیکه محمد هاشم د افغان او انګلیس په دوهمه جګړه کې له کشمیر څخه انګلیسانو د یو محاسب په صفت راوستې و محمد هاشم د اطلاعاتو په کشف کې شهرت درلود نو کله چې انګریزی قواوی له افغانستان څخه وتلې هغوی امیر عبدالرحمن خان ته ورپرېښود چې د دفتر په جوړښت کې ورڅخه کار واخلي خو ځینې مؤرخین وایي چې محمد هاشم د کشمیر نه بلکه د غزني و چې کمریو کلي ته راغلې و (خو بیا ځینې مؤرخین په دی اند دي چې کارمل په قوم کاکړ دی ،کاکړ د پښتنو یوه څانګه ده) او خلک وایي چې پښتو یې ویله خو ښځه یی دری ژبی وه، ببرک کارمل د نجات لیسې له فراغت څخه وروسته ۱۹۵۱م کال د حقوقو پوهنځی کې شامل شو د شاه محمود خان صدراعظم په وخت کې د محصلینو اتحادیه کې برخه واخیسته تر څو بندی شو.

له دی وروسته د پلان په وزارت کې کار پیدا کړ او په همدی وخت کې د حسن شرق سره یې ملګرتیا شوه نو سیاست ته یې مخه وکړه په ۱۳۴۵ م کال په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو وکیل شو او په جرګه کې د شوروی په



پلوی د دولت په اجراتو انتقادونه کول د خلق دیموکراتیک ګوند په تاسیس کې نور محمد تره کي د ګوند د رهبری دوهم سړی شو وروسته د پرچم د جناح مشری کوله

د محمد داؤد د جمهوریت په دوران کې پرچمیانو تصفیه کې دی هم وشړل شو د شوروی په اشاره خلق او پرچم متحد شو په ۱۹۷۸ م کال د ثور په کودتا کې تره کی او امین او نورو سره شریک و.

د ۱۹۷۹م د دسمبر په ۲۷ مه ورځ چې ماښام امین ووژل شو کارمل د شوروي قواو سره کابل ته راغی او د دولت په راس کې یې ځای ونیو تر ۱۹۸۲م کال پوری چې ډاکترنجیب قدرت ته ورسید ، نو موړی په مسکو کې اوسیده

ببرک کارمل په ۱۹۸۰ م کال د جنوری په لومړی ورځ ۵۰۰۰ زره بندیان د پلچرخی له زندان څخه خوشې کړل چې عبدالرب رسول سیاف په پاکستان کې د اتحاد اسلامي تنظیم مشر هم بندی و، ټول آزاد شول، مګر دا چې د کارمل حکومت یو ملحد او له دین سره مخالف حکومت و، نو له کارمل او د هغه له روسیي فوځیانو سره د عامو خلکو نفرت او دښمني پیل شو، که څه هم ده ډیرې نارې ووهلې، چې دا د دوستانو قوت دی او مونږ ته نجات راکوي، مګر د خلکو په سینو کې د دښمنې اور بل شوي و.

ببرک کارمل د امین زوم او وراره اسدالله امین او نور کسان اعدام کړل خو متاسفانه ډیر ژر د پلچرخي زندان د مخورو کسانو په بندی کیدو ډک شو اکثره عالمان او سیاسي کار پوهان پاکستان ته هجرت وکړل د پاکستان د وخت مشر جنرال ضیاءالحق ددی جهادي رهبرانو څخه ۷ تنظیمونه جوړ کړل دا تنظیمونه په لاندی شکل وو حزب اسلامي د ګلبدین حکمتیار تر مشری لاندی، جمعیت اسلامي د برهان الدین رباني تر ریاست، حرکت انقلاب اسلامي د مولوي محمد نبي محمدي په مشری حزب اسلامي خالص د مولوی محمد یونس خالص په مشری چې خالص اصلاً هیڅ واک نه درلود واک د حاجی دین محمد او حاجی عبدالقدیر په لاس و، ملي محاذ د پیر سید احمد ګیلاني په مشری د نجات ملي جبهه د صبغت الله مجددی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشری او اتحاد اسلامي د عبدالرب رسول سیاف په مشری خو ضیاالحق دی ټولو کی پر حکمتیار ډیره پیرزوینه درلوده.

په ایران کې هم نهه (۹) جهادي تنظیمونه جوړ شول خو کله چې افغانستان آزاد شو دا ټول تنظیمونه به غیر د حرکت اسلامي نه تر حزب وحدت د عبدالعلی مزاری په مشری مدغم شول تر څو ایران وکولای شي د دغه ګوند په واسطه د افغانستان په دولت کې خپلې غوښتنې د افغانستان پرخلکو او دولت عملي کړي.

د کارمل په وخت کې جنګونه دومره زور واخیست چې د افغانستان داسې سیمه نه وه پاتې چې هلته جګړه روانه نه وي په ۱۹۸۵ م کال ګرباچوف قدرت ته ورسید، کارمل او یو شمیر ګوندي او دولتي واکمنانو سره مسکو ته وروغوښتل ګرباچف دوی ته وویل چې ایا شوروی خپلې قواوی اوباسي تاسې ځانونه ساتلې شي د سلیمان لایق په وینا د کارمل په څیره کې تغیر راغی او په ځواب کې ورته وویل چې نه صاحب مونږ ځانونه نه شو ساتلې ګرباچف نجیب محاطب کړ او ورته یې وویل چې ته څه نظر لری ډاکتر نجیب وویل: زه نه پوهیږم شوروی به تر څو مونږ ساتي مونږ به خپله ځانونه ساتو له دی خبرو وروسته ټول پوه شول چې د کارمل پر ځای ډاکتر نجیب به د افغانستان جمهور رئیس وی.

ډاکتر نجیب او نور غړي کابل ته راغلل کارمل په مسکو کې تم شو، بلاخره د سرطان په ناروغی اخته شو له ډیرو کړاونو څخه وروسته مسکو کې په ۲ دسمبر په ۱۹۹۷م کال مړ شو او دده د وصیت سره سم په حیرتانو کې خاورو ته وسپارل شو خو کله چې طالبانو حیرتان یې ونیو د کارمل مړی یې راوویستو او په توپ کې یې والوځوه او هډوکې یې آمو سیند ته وغورځاوه، ګرموف روسی سیاستوال لیکی کارمل نه دخپلو ملګرو د اعتماد وړ و او نه د ولس او نه زموږ د سلاکارانو هغه یې ساری عوام غولونکی شخص و او د انقلابي جملو تر شا د پټیدو سخت مهارت درلود.



## د روسیي کمونستي حکومت او کارمل پر ضد د جهاد اعلان:

د شوروی اتحاد قواوی چې کله په ۱۳۵۸هـ.ش کې کابل ته راننوتل او کارمل یې د مشر په توګه وټاکه، د ظلم او بربریت یو تور تاریخ پیل شو، د ملحدینو فکري او نظامي وژنې پیل شوې او په مقابل کې یې د افغانستان پر دین مېین ملت او د علماؤ او روحانینو سخت عکس العمل هم پیل شو او په سعودي عربستان کې د اسلامي هیوادونو کنفرانس جوړ شو او هلته علماؤ د سورت توبې د یو ایت په حکم د جهاد د فرضیت اعلان وکړ.

د ایت ژباړه: راووځئ (د جهاد لپاره) سپک بار او درونډ بار (له اسلحو او پرته له اسلحو) جهاد وکړئ، د الله تعالی په لاره کې په خپلو مالونو نفسونو سره او دا ستاسې لپاره غوره ده که پوهیږئ.

د جهاد زمزمی او خبرونه د عربو تر جزیری او د نړۍ د ګوډ ګوډ مسلمانانو غوږونو ته ورسید او ډلې ډلې افغانستان ته له جهادي احساساتو سره راغلل، ټوله اسلامي نړۍ له مجاهدینو دفاع کول او ډاډ یې ورکاوه، چې انشاءالله بریا ستاسې په برخه ده، مګر امریکا د مجاهدینو له دې احساساتو سیاسي ګټه واخیسته او خپل رقیب ته یې ماته ورکړه او افغانستان د مجاهدینو په قربانیو ازاد او روسي یرغل په ډیر شرم او عار له هیواد څخه وویستل شول.

چې له دې لوی فتحې سره د منځني اسیا هغه هیوادونه هم ازاد شول، چې د روسي یرغلګرو تر استعمار لاندې ژوند کاوه، هغوی هم خپلواکه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډاکټر نجیب الله واکمني



۱۹۸۴-۱۹۹۲م

ډاکټر نجیب د اختر محمد زوی او د جانداد خان لمسی و، مور یې حلیمه نومیده او ښځه یې فتانه جیلاني نومیده، نوموړی په قوم احمدزی او د پکتیا اوسېدونکی و، چې د ګردیز په میلان ولسوالی په ۱۹۴۷ میلادي کال کې زېږېدلی دی. یعنی ډاکتر نجیب الله او پاکستان په یو کال کې دنیا ته راغلي دي، پاکستان هم په ۱۹۴۷ م کال د نړی په نقشه کې را ښکاره شو ډاکتر نجیب خپلې لومړنی زده کړې په خپل ولایت کې ترسره کړې له فراغت څخه وروسته بیا طب پوهنځي کې شامل او په ۱۹۲۷م کال کې د طب څخه فارغ شو، سیاست ته یې مخه کړه چې په ۱۹۶۵م کال کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند غړی شو، چې د پرچم جناح ته منسوب و.

په ۱۹۷۶م کال کې د پرچم جناح کې د کابل د ښار د ګوندي کمېټې منشي شو او په ۱۹۷۷م کال د ګوند د مرکزي کمېټې غړی و، چې په ۱۹۷۸م کال کې نور محمد تره کي پرچمي رهبران سفارتونو ته ولېږل ډاکتر نجیب الله هم په تهران کې سفیر شو او د پرچمیانو د ناکامه کودتا څخه وروسته کابل ته راوغوښتل شو بیا مسکو ته ولاړ او په ۱۹۸۰م کله چې کارمل کابل ته راغی، دی هم کابل ته راورسیده او د دولت استخباراتي خدماتو (خاد)



رئیس شو.

د ګرباچف سره له ملاقات نه وروسته ټول خلک وپوهېدل چې داکټر نجیب د روسیې کمونستي حکومت لخوا جمهور رئیس وټاکل شو او د کارمل حاکمیت پای ته ورسیده او ډاکټر نجیب یې پر ځای وټاکل شو.

د ببرک کارمل استعفا ته یې زمینه برابره کړه، لږ وخت تېرېدو سره په ۱۹۸۶م کال کې د می په څلورمه رسماً د افغانستان جمهور رئیس شو.

مګر د افغانستان سرښندونکی ملت ډېر ژر د ډاکټر نجیب له تخریب، فساد او روسیې حکومت ته له وفاداری څخه خبر شول او په مقابل کې یې د هیواد په هر ګوټ کې پر وسلوال جهاد لاس پورې کړ.

دده لاسونه لادمخه د ولس پر وینو سره و، ځکه ده د خاد په دوره کې په زرګونو خلک وژلي، زورولي او شنجګه کړي و.

په همدې کال کې د امریکا جمهور رئیس رونالډ ریګن د مجاهدینو مشران لکه ګلبدین حکمتیار، برهان الدین رباني او یو شمېر نور کسان امریکا ته راوبلل او هغوی ته یې وویل: چې امریکا د مجاهدینو سره هر ډول مرستې ته حاضر دی، نوموړی په ۱۹۸۷میلادی کال لویه جرګه دایره کړ، داساسي قانون مسوده یې تصویب کړ، په ۱۹۸۹ م د ژینو کنفرانس د خبرو له مخې روسان له هیواد څخه ظاهراً خارج شول، مګر ریښې، اساسات او فکر یې لا تر اوسه هم وجود لري، د کمونیزم په خلاف جهاد او جنګونه خپل آخري حد ته ورسیده، نوموړی د هیواد څخه کلکه دفاع کوله، تر ټولو وړاندې خوست جنګ سقوط وکړ، ورپسې نور ولایتونه په سقوط پیل کړ، د داکتر نجیب له سقوط سره روسیې ته هم سخت ټکانونه ورسید او زیانمن شو، چې له دې د روسانو وروستي هلې ځلې هم پای ته ورسید، چې دې جګړه کې په زرګونه عربي او پاکستاني مهاجرین پکې ونډه درلوده.

په ۱۹۸۹ م کال د جلال آباد جګړه چې په زرګونه عرب او چیچنایي مجاهدین پکې برخه درلوده، په لومړیو کې د ډاکتر نجیب د قواو لخوا لږ مقاومت وشو، خو کله چې شهنواز تنی کودتا وکړه له دی وروسته د ډاکتر نجیب د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت وضعه خرابه شوه نوموړی غوښته چې هند ته وتښتي خو په۱۹۹۲م کال چې د ۱۳۷۱ هجری لمریز سره برابر دی د کابل د هوایي ډګر څخه د جنرال دوستم لخوا راوګرځول شو، د ملګرو ملتونو په دفتر کې پناه واخیست په ۱۹۹۲ م کال د دسمبر په ۲۷ نیټه طالبانو کابل ونیوه، د دسمبر په ۲۸ ډاکتر نجیب الله دده له ورور شاپور احمدزی سره د ملګرو ملتونو له دفتر څخه وویستل شو او بیا اعدام او مړی یې د آریانا په څلور لاري کې وځړاوه، ډاکتر نجیب غټ، ښکلی ځوان، ډیر لایقه او بااستعداده شخص و، په پښتو، دري، انګلیسي، اردو او روسي ژبو خبرې کولې، ډاکتر نجیب الله غوښتل مجاهدینو سره د هغوی په خوښه روغه وکړي، مګر اوبه له ورخه تیرې وې، ځکه زموږ ګاونډیان هیڅکله نه غوښتل په افغانستان کې سوله راشي، اوس د هغه د اعدام ورځ د میزان پنځم د ۱۳۷۵ هجری لمریز کال په رسنیو، د هېواد په دننه او دباندې لمانځل کیږي او د هغه پلویان له هغه څخه د یو زړور او په هیواد مین جمهور رئیس په توګه یادونه کوي خصوصاً دا خبره چې وطن یا کفن د ځینو خلکو په زړونو کې ځای لري



## حضرت صبغت الله مجددي



۱۹۹۲م کال
۱۳۷۱ ش کال

صبغت الله مجددي د محمد معصوم مجددی زوی او فضل محمد مجددي چې د شمس العلما په لقب مشهور و لمسی دی په ۱۹۲۵ کال په کابل کې زیږیدلی او یوې لویې او مشهورې روحاني کورنۍ ته منسوب دی، ابتدایي دیني تعلیمات یې په خپله کورنۍ کې کړی او د ښوونځي زده کړی یې هغه مهال چې پلار یې په کندهار او هرات کې و د کندهار احمد شاه بابا په لیسه او د هرات په لیسه کې یې وکړه او دغه لړۍ یې په حبیبیه لیسه کې پای ته ورسوله

څرنګه چې د ده د پلار تره صادق مجددي په مصر کې سفیر و، نو دی په ۱۹۴۷ م کال مصر ته ولاړ او هلته یې د مصر په مشهور پوهنتون الازهر کې یې لوړې زده کړې وکړې او په اسلامي علومو کې ماسټري یې واخیستله او په ۱۹۵۳ کال کې فارغ شو او کابل ته راغی، هغه اړیکې چې په مصر کې یې د اخوان المسلمین ډلې سره پیدا کړې و، په کابل پوهنتون کې د استادۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې یو څه فعالیت وکړ په ۱۹۵۹ م کال چې د ۱۳۳۸ هجری شمسی سره سمون خوری کابل ته د شوروی رهبرانو خروسچف او بلګاتین د راتګ سره د مخالفت او ترور په تور ونیول شو او زندان ته واچول شو تر ۱۳۴۱ هجری لمریز پوری په زندان کې و.

کله چې له زندانه راخلاص شو امریکا ته لاړ له هغه ځایه ډنمارک ته ولاړ په ډنمارک کې د اسلامي تحقیقاتو د مرکز ریاست په غاړه.

په ۱۹۷۸ م کال کله چې په افغانستان کې د ثور اوومه کودتا وشوه او بیا شوروي قواوې له ببرک کارمل سره یو ځای افغانستان ته راننوتل نو جهاد پیل او په کابل کې د روسېي لاس پوڅې رژیم په ضد فعالیتونه پیل شول، بیا صبغت الله مجددي هم پاکستان ته راغی او دلته د نجات ملي تنظیم جوړ کړ، دده تنظیمي کړنلاره ډیره نرمه وه، چې له امله یې اکثره خلقیان او پرچمیان توبه ایستلې پکې وساتل شول.

مجددي په اتیایم کلونو کې په پېښور کې د افغانستان مؤقتي حکومت جمهور رئیس په حیث انتخاب شو او بیا چې کله شوروي قواوې ووتلې او په کابل کې د پېښور د موافقنامې له مخې حکومت منځته راغی او حضرت صاحب د دوه میاشتو لپاره اسلامي دولت د ممثل په توګه وټاکل شو په ۲۸ اپریل ۱۹۹۲ م کال حکومت په رسمی توګه ورته انتقال کړای شو نو حضرت صاحب په دی ورځ خپله وینا کې عمومي عفوه اعلان کړه، نو وی ویل مونږ ډاکتر نجیب نشو معاف کولای خو سبا ته د جمعی په خطبه کی وویل مونږ ډاکتر نجیب معاف کړ، د مجددی صاحب د ریاست نه څو ورځی وروسته د ګلبدین حکمتیار او احمد شاه مسعود جګړی شروع شوی، حضرت صاحب د می په ۲۲ مزار شریف ښار ته یو سفر وکړ، څکه هلته یې عبدالرشید دوستم ته د ستر مارشالی رتبه او د خالد بن ولید (رض) لقب ورکړ، د کمونستانو د خوشحالولو په خاطر آصف دلاوریی لوی درستیز مقرر کړ.

حضرت صاحب د خپل قدرت د غځولو لپاره په ۲۲ د می پاکستان ته سفر وکړ په ۲۹ د می بیرته کابل ته راوګرځید په میدان هوایی کې الوتکه چې



دده زوی حشمت مجددی هم ورسره و، په راکټ وویشتل شوه په الوتکه کې ټول سپاره کسان وژغورل شول.

حضرت صاحب د دوو میاشتو وروسته نه غوښتل له واکمنی څخه لاس واخلی خو د ربانی له لوری په زوره لری کړای شو او پیښور ته ولاړ له پیښور نه امریکا ته لاړ چې وروسته د طالبانو په ضد هم ځینی خبری وکړی چې طالبان ورسره سخت وران شول په ۱۳۸۰ ش کال (۲۰۰۱ م کال) چی کله امریکا په افغانستان حمله وکړه او حامد کرزی د ولسمشر په توګه وټاکل شو دی هم افغانستان ته راغی دلته ورته د مشرانو د جرګې مشرتوب وسپارل شو، وروسته د امریکایانو له لوری د ملی پخلاینې د کمیسون مشری هم ور په غاړه شوه، چې وروسته دده پر ځای د مشرانو د جرګې رئیس فضل الهادی مسلم یار او د سولې د عالی شورا رئیس برهان الدین ربانی وټاکل شول.

په ۱۳۹۳ ش کال حامد کرزی د امریکا سره ستراتیژیک تړون لاسلیک نه کړ مجددی صاحب خفه شو او ویل چې که دا تړون لاسلیک نه کړی، نو زه به هجرت وکړم، څکه ده امریکایانو ته خارجي دوستان ویل او نه غوښتل چې هغوي خپه شي.


د یادولو وړ ده، چې حامد کرزي نه غوښتل چې خپل نوم د افغانستان په تاریخ کې بد کړي او د ډیورنډ د کرښې په څیر د خلکو د نفرت وړ وګرځي، مګر کله چې ډاکتر اشرف غنی جمهور رئیس وټاکل شو، د ریاست په دریمه ورځ یې دغه تړون لاسلیک کړ او افغانستان یې د یو نوی بحران په لور یون کړ، ددې تړون پر وخت مجددی او پیر سید احمد ګیلانی هم حاضر و.

ویل کیږی چې د مجددی د کورنۍ ۱۸۳ کسان د روسانو او کمونستانو له خوا وژل شوی دی، نوموړی په پنځو ژبو خبری کوی عربی، دری، پښتو، انګلیسی او اردو. مجددی صاحب اوس هم په کابل کې اوسیږی ډیر زوړ او ناروغ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قیادی شورا او د برهان الدین حاکمیت



رباني د محمد یوسف زوی په (۱۹۴۰ م) کال په فیض آباد کې زیږیدلی و، برهان الدین رباني د قیادي شورا مشر چې د حضرت صاحب دوه میاشتې حاکمیت یې په زوره له هغه څخه تر لاسه کړ، خو حضرت صاحب نه رباني ته او نه قیادی شورا ته قدرت پرېښود، بلکې خپلې جهادی شورا ته چې له پنځوسو غړو څخه تشکیل شوی و قدرت انتقال کړ او له جهادی شورا څخه عبدالرب رسول سیاف د شورا په نماینده ګی قدرت قیادی شورا او ربانی ته انتقال کړ، ګلبدین حکمتیار د یو تړون له مخې عبدالصبور کوهدامني د صدراعظم په حیث معرفي کړ، په همدغه وخت کې د سیاف او حزب وحدت (هزاره) سخت جنګونه پیل شول وروسته د مسعود او حکمتیار ترمنځ جګړې وشوې.

له درندو وسلو، توپونو او هوایی بمبارېو سره د کابل ښار بلکل ویجاړ او په کنډوالو بدل شو په ۱۹۹۴م چې د ۱۳۷۵هجری شمسي سره سمون خوری (زه خپله) چې کله له ایران څخه کابل ته راورسیدم نو د کابل ښار دومره ویجاړ شوی و چې حتی روغ دیوال مې هم تر سترګو نه شو.

دی جنګونو سره استاد فرید هم استعفاً ورکړه، د ربانی څلور میاشتنې دوره هم پوره شوه مګر استعفاً یې ونه کړه د اهل حل وعقد شورا لخوا چې د سیاف ملاتړی هم ورسره و ربانی د دوو کالو لپاره جمهور رئیس وټاکل شو، ربانی د خپل حکومت دوره نوره هم وغځاوه او جنګونو زور واخیست، تر څو نواز شریف جهادی مشران سعودی عربستان ته بوتلل دوی د رسول الله



(صلی الله علیه وسلم) په حرم او په مکه مکرمه کې پر قران شریف قسمونه وکړل خو کله چې کابل ته راورسیدل یو ځل بیا جنګونه پیل شول په جلال آباد کې د حاجی عبدالقدیر لخوا د دوی ترمنځ روغه وشو.

مګر کله چې دوی کابل ته ورسیدل بیا جګړه شروع شوه لنډه دا چې د طالبانو تر راتګه پورې یعنې ۱۹۹۴ د دسمبر ۲۷ وژنې ظلمونه او تیری روانې وی چې طالبان کابل ته داخل شول ربانی تخار ته شاتګ وکړ تر همدغه وخته پوری د افغانستان جمهور رئیس و، د حامد کرزی په دوره کې د سولې د عالي شورا د رئیس په توګه وټاکل شو چې د یوې چاودنې په ترځ کې د نامعلومو کسانو لخوا ووژل شو او د هغه پر ځای یې زوی صلاح الدین ربانی د سولې د عالي شورا د رئیس په توګه وټاکل شو، خو اوس صلاح الدین رباني د ملي وحدت په حکومت کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر دی.

## طالبان

هغه طالب مجاهدین چې د روسانو پر خلاف جنګیدلي او له افغانستان څخه د روسانو له وتلو وروسته بیرته خپلو کورونو او مدرسو ته ستانه شوي وو، ظلمونو، وحشتونو، زور زیاتی، اخلاقي فساد، بد امني، غلا، زنا او بې حیایې خپل اوج ته رسیدلې و، د هر افغان زړه له غمونو او سترګې یې له اوښکو ډکې وې، له ټولو مشرانو ناهیلي شول او یواځې هیله یې خپل رب ته کړ او دعاګانې یې کولې، ټولو ورته په رښو سترګو کتل، مګر د هیچا له وسې پوره نه وو چې د دې ناخوالو مخه یې ونیسي.

دا ټولې ناخوالې تاریخ په خپله غیږه کې ساتلې او له هیچا پټې نه دي مګر یواځې مخلصه طالبان وو، چې په اړه فکر یې کول چې څه ډول یې د حل لاره پیدا کړو او دې دردونکی حالت د پای ته رسولو لپاره په هلو ځلو بوخت وو، د ۱۹۹۴م کال په پسرلی کې د کندهار ولایت د سنګسار په کلی کې دوه پېغلې نجونې د یو وحشي قومندان لخوا وتښتول شوی او په پوسته کې


(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتل کیدلې، بله ورځ په یوه واده کې عصمت قومندان یو زوم وواژه او ناوی یې ترې بوتله.
په لویو لارو کې هر قومندان خپل پاټک درلود او له لویو او وړو موټرو، پیدل او خرګاډي خاوندانو نه یې پیسې اخیستلې، په لسګونو او سلګونو پاټکونه وو، چې دا ټول چرسیان، زناکاران او په اخلاقي لحاظ پریوتي خلک پکې مسلط وو.
د کلی سپین ږیرو ملا محمد عمر ته چې د همدی کلی د جومات امام او د مدرسی په زده کړو بوخت و ورغلل او له دی پیښې یې خبر کړل، ملا محمد عمر د خپلو ۳۰ تنو طالبانو سره د پېښې ځای ته ولاړل او له یوی لنډی وسلوالې نښتې وروسته یې نجونې د ظالمو له لاسه وژغورل او قومندان یې وواژه، ورپسې عصمت قومندان یی هم وواژه. له همدی پیښې سره سم په ۱۹۹۴م کال په دویمه نیمایی کې د طالبانو اسلامي تحریک منځته راغی، ډیر ژر ډلې ډلې خلک راتلل او له طالبانو سره یو ځای کیدل، حمایت او ملاتړ یې ترې ښکاره کول، ډیر پیاوړی قومندانان لکه د میوند ولسوالی، قومندان حاجی شبیر او د هلمند مشهور قومندان عبدالغفار اخندزاده له طالبانو سره یو ځای شول، د طالبانو وزیر عبدالوکیل متوکل په وینا طالبان خپل مشر ملا محمد عمر اخوند وټاکل.



## په افغانستان کې د ملا محمد عمر مجاهد واک ته رسیدل



۱۹۹۶-۲۰۰۱م

۱۳۷۵-۱۳۸۰ شت

ملا محمد عمر مجاهد د ملا غلام نبی زوی د ملا محمد رسول اخند لمسی دی، د کندهار په نوری نومی سیمه کې په کال ۱۳۳۹ ش( ۱۹۶۰ م ) کی زیږیدلې دی، د ملا محمد عمر مجاهد پلار او نیکونه د افغانستان د جنوب غربی ولایتونو زابل،کندهار، ارزګان د مسجدونو خطیبان او امامان وو او د ملا او مولوی په نامه مشهور وو، ملا محمد عمر د مور او پلار یوازینی زوی و نوموړی له ماشومتوب نه په مدرسه کی په زده کړه بوخت و چی د ۱۳۵۷ ش کال د ثور کمونستی کودتا وشوه چی افغان ولس د روسانو پر ضد جهاد ته ودانګل چی دغه ۱۸ کلن ځوان ملا محمد عمر مجاهد هم په کی شامل و.
ملا محمد عمر د ارزګان د هراوت ولسوالی کې د روسانو سره په مخامخ جګړه کې سخت ټپي شو او په کویټه کې تداوی شو، تر رغیدو وروسته ارام کیننا ست او بیا یې د روسانو او کمونستانو پر ضد خپل جهاد ته دوام ورکړ. حالات خراب شو د خپل تره په مشوره د کندهار پنجوایی ولسوالی چی د چریکی جنګونو مرکز ګرځیدلی و، حرکت وکړ ملا محمد عمر مجاهد د پنجوایی ولسوالی د سنګ حصار سیمی ته ورسید همدلته په یوه خونړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه کې بیا زخمي شو او خپله ښی سترګه یې له لاسه ورکړه، د سرې میاشتې د ادعا پر بنسټ دا ځل محمد عمر د دوی په کلنیک کې تداوي شو، ملا صاحب د روسانو تر ماتې پورې جهاد ته دوام ورکړ، کله چې د مجاهدینو حکومت رامنځته شو، بیرته یې خپل درسونه پیل کړ، مخکې یادونه وشوه، چې عصمت قومندان یوه ناوې په زوره بوتله او د سنګسار د پوستې قومندان دوه پیغلې نجونې پوسته کې ساتل، فحاشي او بې حیایي وروستې پړاو ته رسیدل و، ملا محمد عمر مجاهد دا دواړه قومندانان د خپل طالب ملګرو په واسطه وواژه، له دې پېښې څخه وروسته خلکو هم ورسره د وسلو او پیسو مرستې شروع کړې، د سپین بولدک په ولسوالی یې برید وکړ، هغه یې ونیوه او د کندهار ښار په لور حرکت وکړ، د حزب اسلامي قومندان سر کاتب ورسره جګړه وکړه، خو د وخت جمهور رئیس برهان الدین رباني په امر د قول اردو قومندان ملا نقیب الله ورته له وسلو سره تسلیم شو.

طالبانو د دې وسلو په تر لاسه کولو ډیر پیاوړي شول او په **۱۳۷۳** ش کال کې یې د کندهار ښار ونیوه، زوریدلي او کړیدلي افغانان، د قومندانانو له وحشي کړنو او ظلمونو څخه په تنګ شوي وو، له همدې امله خلک د طالبانو تود هرکلی وکړ (زه د دې کرښو لیکوال) د جلال اباد ښار په تالاشی چوک کې د صرافانو مخې ته ولاړ وم، چې یو موټر سپاره طالبان را ورسیدل، عام خلک او صرافانو له خوشحالی او خوښی نه پرې ډالر، افغانی او کلدارې وشیندلې، په هر صورت طالبان ډیر ژر لوګر ته ورسیدل، په لوګر کې طالبانو حزب اسلامي ته ماتې ورکړه او د کابل په لور په فتوحاتو پیل کړل او په **۱۳۷۵** ش کال کې د مسعود کسانو ته ماتې ورکړه او د کابل ښار بشپړ د طالبانو لاس ته ورغی، په **۱۹۹۲** م کال د اپریل **۴** نیټه **۱۳۷۵** ش د حمل د میاشتې په **۱۲** نیټه په کندهار ښار کې یو نیم زر تنه علماء را ټول شول او ملا محمد عمر مجاهد یې د امیرالمؤمنین په توګه وټاکه.

په هیواد کې یو ډول د ارامی او امن فضا خپره شوه، ظلم، زیاتی، غلا، زنا



او بې حیایي پای ته ورسېد، هر عمل په اسلامي ارشاداتو سرته رسیدل، طالبانو د افغانستان په ٪۹۰ فیصده خاوره خپل حاکمیت ټینګ کړی و، پنځه کاله یې د نړیوالو له بندیزونو او مخالفتونو سره سره حکومت وکړ او د امنیت په راوستلو کې ډیر زیارونه ووستل، دوی رسماً له ملګرو ملتونو وغوښتل، چې زموږ حکومت په رسمیت وپیژني او غړیتوب ورکړي، مګر هغوی ځواب ورکړ، چې تاسې د ښځو حقوق زموږ له قوانینو سره برابر نه مراعتوئ، طالبان وویل: چې کوم حقوق اسلام ورکړی وي، د هغې په رڼا کې ورته حقوق ورکوو.

چې وروسته له پاکستان، سعودي او متحده اماراتو پرته نور یو هیواد هم په رسمیت ونه پیژانده، مګر د ملا او طالب په جامه خلکو داسې کارونه وکړل، چې په اصلاً له اسلام سره په ټکر کې وو، په خلکو کې نفرت او مخالفت پیل شو، تر دې چې د امریکا یرغل زمینه مساعده شوه.

دوی خپل وزیران، والیان او رئیسان دیني علماء او روحیانیین ټاکلي و.

## د طالبانو سقوط

په ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر په ۱۱ کې د امریکا پر نړیوال تجارتی مرکز باندی د الوتکو په واسطه بریدونه وشول، امریکا ددې برید پړه پر اسامه بن لادن واچوه او د غچ اخیستلو په موخه امریکا پر افغانستان د وحشت حمله پیل کړه، په دې وخت کې اسامه بن لادن هم د جلال اباد په توره بوړه کې اوسیده. امریکا له افغانستان څخه وغوښتل تر څو اسامه بن لادن ورته وسپاری، طالبانو په ځواب کې ورته وویل: چې دا زموږ میلمه دی او مونږ خپل میلمه د اسلامي او افغاني مقدساتو په اساس چاته نه سپارو.

د ننګرهار په کابل کمپ سیمه کې یوې ورې انجلی ژورنالستانو ته وویل: اسامه بن لادن د افغانانو میلمه دی، زمونږ د اسلامي اخلاقو او افغاني دستور له مخې میلمه باید چاته ونه سپارل شي، چې وروسته د ملا محمد عمر مجاهد له خوا ورته لکونه روپې په انعام ورکړل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وروسته ملا محمد عمر وویل: چې اسامه باید په افغانستان او یا یو بل اسلامي هیواد کې محکمه شي، که چیرې جرم پرې ثابت شي، صحیح ده او که جرم پری ثابت نه شو نو مونږ درته اسامه نه شو سپارلی.

دا چې د امریکا د متحده ایالات له ډیر پخوا څخه دا هیله درلوده چې افغانستان د خپل ستراتیژیک موقیعت له مخې باید تر خپل تصرف لاندې کړي او د دوی فوځونه تل دلته وي، ځکه چې د امریکا مهم دښمنان او سیالان لکه چین، ایران، پاکستان او روسی پلوه هیوادونو په منځ کی موقیعت لری، تر څو خپل مهم سیالان له نژدی نه تر څار لاندی وساتی او بل د افغانستان بی شمیره کانونه چی د خاورو لاندی موجود دی اول باید دوی ورنه استفاده وکړی، نو د امریکایانو هدف په افغانستان کې اوږد مهاله اوسیدلو ته اړتیا درلوده که خبره په اسامه وای نو اسامه خو په ۱۳۹۰/۲/۱۲ هجری شمسی کال د اسلام اباد په ایبټ اباد کی چی د پاکستان په زړه کې موقعیت لري ووژل شو.

اوس د دوی دا بهانه هم ختمه شوه مګر دوی د ډیرو پلانونو سره پر افغانستان حمله وکړه، که طالبانو اسامه ورته سپارلی هم وای نو دو ی به له کومې بلې پلمې سره حتماً افغانستان ته راتلل، مګر د اسامه نه سپارل په اسلامي او افغانی غیرت او ننګ کې تر ټولو غوره عمل بللې شو.

ځکه افغانان خپل سرونه ورکوي، مګر د خپل میلمه بې عزتي نه غواړی خو بلاخره د اسامه بن لادن د نه سپارلو په پلمه د ۲۰۰۱ د اکتوبر په ۱۱ نیټه پر افغانستان یرغل وکړ، ډیری بې ګناه مسلمانان سپین ږیری ،ماشومان ، نارینه او زنانه شهیدان او یتیمان کړل، کلی او کورونه یې له خاورو سره خاوری کړل، پرته له دی مختلف مرضونه یې مونږ ته انتقال شو، چې له هغی جملې څخه ډیر خطرناک مرض ایډز دی په ۱۳۹۴/۳/۱ د افغانستان دولت په ایډز د اخته کسانو تعداد ۱۷۰۰ تنه وښودل او ملګری ملتونه دغه تعداد ۴۵۰۰ تنه وښودل. په هر صورت دوی اعلان وکړ چی مونږ سوله راولو او یو با امنه او په پښو ولاړ افغانستان جوړو، خو نه یې سوله راوسته او نه له



شرطونو پرته افغانستان سره مرسته کوی لنډه دا چې دغه جګړه لا تر اوسه په شدت سره دوام لری او له دواړو خواوو نه افغانستان تکول کیږي.

په هر صورت همدا فعلاً د داعش (دولة الاسلامیه) ډله د سوریې او عراق نه سرچینه اخیستې ده او افغانستان ته هم راورسېدل، ځینې طالبان هم له داعش سره یو ځای شول، خو کله چې طالبان د خپل مشر ملا محمد عمر اخند د حضور په هکله وېره کې شول چې د دوی رهبر مړ دی یا ژوندی بالاخره دا معلومه شوه چې ملا محمد عمر اخند په (۱۳۹۲) هـ. ش د حمل په میاشت چې برابر دی د اپریل (۲۰۱۳) م کال د کراچی په یوه روغتون کې په مرموز ډول وژل شوی دی.

په (۱۳۹۴/۵/۸) هـ. ش طالبانو هم د خپل رهبر وژل کېدل رسماً تائید کړل چې دا ډېر د تعجب خبره ده چې طالبانو دوه کاله له خپل امیر پرته وجنګېدل او بیا ملا اختر محمد منصور د طالبان د نوي رهبر په توګه وټاکل شو او د طالبانو د وخت د سترې محکمې رئیس مولوي هیبت الله لومړی مرستیال او سراج الدین حقاني د جلال الدین حقاني زوی دویم مرستیال په توګه وټاکل شول، خو د کویټې د شورا ځینو غړو لکه: ملا عبد الرزاق اخند، ملا محمد حسن رحماني، مولوي محمد رسول اخند، مولوي عبد المنان نیازی او نور ملا منصور د خپل مشر په توګه نه مني، دوی وایي چې د طالبانو مشر باید ملا محمد یعقوب د ملا عمر زوی یا عبد المنان اخند د ملا عمر ورور د طالبانو رهبر وټاکل شي.


خو ډېر ژر ۲۱/می/۲۰۱۲ چې د ۱۳۹۵/۳/۱ هـ ل سره سمون خوري، ملا اختر محمد منصور کویټه کې ووژل شو او د هغه (۲۵) کلن معاون مولوي هیبت الله اخندزاده چې په قوم نورزی دی، د طالبانو مشر وټاکل شو.

مولوي سراج الدین حقاني د جلال الدین حقاني زوی او ملا یعقوب د ملا محمد عمر اخندزاده زوی د مولوي هیبت الله معاونین وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حامد کرزی



۲۰۰۱-۲۰۱۴ م
۱۳۸۰-۱۳۹۳ ش

حامد کرزی د عبدالاحد کرزي زوی او د خیر محمد خان لمسی د ۱۳۳۶ ل کال د قوس په ۹ مه نېټه چې د ۱۹۵۷ز کال د دسمبر د ۲۴ سره برابره ده د کندهار ښار ته نژدې د کرز په کلي کې زېږېدلی دی.

د حامد کرزي نیکه د افغانستان د ازادی په جګړه او له هغه وروسته هڅو او مبارزو کې لویه ونډه لرله او د څه وخت لپاره یې د افغانستان د مشرانو جرګې د مرستیال په توګه هم دنده ترسره کړې ده، عبدالاحد کرزی د پوپل زیو قوم څخه و او د هېواد د سیاسي مشرانو له ډلې څخه شمېرل کېږي چې د میلادي نېټې په شپیتمه لسیزه کې د افغانستان په شورا کې د مرستیال په توګه په دنده بوخت و، کله چې عبدالاحد کرزي د پارلمان غړیتوب ترلاسه کړ د خپلې کورنۍ سره کابل ته راغی، حامد کرزي لومړی د محمود هوتکي لومړنی ښوونځي بیا د سید جمال الدین افغاني او وروسته بیا د حبیبه عالي لیسه کې شامل او له همدغې لیسې څخه د فارغېدو وروسته په ۱۹۷۶ز کال د لوړو زده کړو لپاره هندوستان ته لاړ او د هغه هېواد د هماسیل پرایش په پوهنتون کې یې د سیاست په پوهنځی کې خپلې زده کړې پیل کړی، حامد کرزي په دغه څانګه کې د ماسترۍ سند ترلاسه کړ او په ۱۳۴۲ ل کال کې چې



د ۱۹۸۳ ز کال سره سمون خوري له هند نه پاکستان ته راستون شو او د شوروي د یرغل په خلاف د مجاهدینو لیکو سره ځای شو، حامد کرزي په ۱۳۶۴ ل کال چې ۱۹۸۵ز کال کې د ژورنالېزم په څانګه کې د یوې ازمایښتی دورې لپاره فرانسې ته لاړ، د فرانسې د (لیل) په ښار کې د دغه درې میاشتني کورس په بشپړېدو سره پېښور ته ستون شو او د پروفیسور صبغت الله مجددي په مشرۍ د ملي نجات د جبهې د تنظیم د اطلاعاتو د اداری مشر او بیا وروسته د دغه تنظیم د سیاسي دفتر معاون په توګه په دنده بوخت شو، حامد کرزي په پېښور کې د مجاهدینو د لنډ مهالې حکومت په رامنځته کېدو سره په ۱۹۸۹ز کال چې د دغه لنډ مهالې حکومت د بهرنیو اړیکو دفتر د ریاست دنده پر غاړه درلوده، حامد کرزي په افغانستان کې د مجاهدینو د حکومت تاسیس نه وروسته په ۱۳۷۱ل کال کې چې د ۱۹۹۲ ز کال سره سمون خوري افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت د سیاسي معین په توګه په دنده وګمارل شو، دوه کاله وروسته هغه مهال چې د جهادي ډلو تر منځ خپل منځي جګړې په کابل کې توندی شوې حامد کرزي دولتي څوکۍ پرېښود

په ۱۳۷۹ل کال کې چې د ۲۰۰۰ ز کال کې د حامد کرزي پلار د پاکستان د کویټې په ښار کې استوګنه درلوده مسجد ته روان و د نامعلومو کسانو لخوا ووژل شو، حامد کرزي د خپلو هڅو په لړ د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر په لومړیو کې د خپلو درېیو تنو همفکرو دیموکراتانو ملګرو سره ارزګان ولایت ته د طالبانو په خلاف خلک پاڅون ته وهڅوي او د طالبانو د واکمنې تر نسکورېدو پورې یې د افغانستان په مرکزي ولایاتو کې د امریکا لپاره په هڅو بوخت و او د امریکا د یرغل لپاره یې زمینه برابروله، حامد کرزي د (۲۰۰۱ز، د دسمبر په ۵ مه نېټه ۱۳۸۰ ل د عقرب په ۲۲ نېټه) د المان په بن ښار کې یوه غونډه وشوه او په هغه کې د عبدالستار سیرت د ۱۱ رایو په مقابل کې د امریکا په خوښه د ۲ رایو په خپلولو، د افغانستان د موقتي جمهور رئیس په توګه وټاکل شو، د همدغه کال دسمبر په ۲۲ مه نېټه یې د کابینې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړیو سره یو ځای د وفادارۍ لوړه ترسره کړه.
حامد کرزي د ۲۰۰۲ ز کال د جون په ۱۳ نېټه د بېړنۍ لویې جرګې د غړو او امریکا له لوری د افغانستان د انتقالي دولت د رئیس په توګه وټاکل شو.
حامد کرزی شپږ ورورنه او یوه خور د فوزیه په نوم لری، کرزیی په پښتو، دری، انګلیسی،اردو او فرانسوی ژبو خبری کولی شي.
د ۱۳۸۳ هجری لمریز کال د میزان په ۱۸ د جمهوری ریاست لپاره انتخابات ترسره شول، حامد کرزی د افغانستان د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو، په ۱۳۸۴ د سنبلې په ۲۷ نیټه پارلماني ټاکنې وشوی او پارلمان هم رامنځته شو، په ۱۳۸۸ هجری لمریز کال چې د ۲۰۰۹ م کال سره سمون خوری د دویم ځل لپاره د جمهوری ریاست لپاره ټولټاکنې ترسره شوی.
چې په دوهم ځل هم حامد کرزی د اکثریت راېی په ګټولو سره جمهور رئیس وټاکل شو، چې د کرزي د جمهوري ریاست دویمه دوره په ۱۳۹۳ هجري شمسي پای ته ورسیده. حامد کرزی فعلاً د ملي وحدت په ځینو اجراتو ډېرې نیوکې کوي او د امریکا او پاکستان مخالف ګڼل کېږي.
په پایله کې د همدی کال دریم ځل انتخابات ترسره شو، چې دوه مخکښو نوماندان هر یو ډاکتر عبدالله عبدالله د ۹، ۴۴ او ډاکتر اشرف غنی احمدزی د ۳۱،۵ سلنه رایو په ګټلو سره له نورو پنځه نوماندانو مخکې و، خو یو نوماند هم ۵۰+۱ رایی ترلاسه نه کړ، له همدی امله ټاکنی دویم پړاو ته وځنډول شو، چې دویم پړاو ټاکنې په ۱۳۹۳/۲۴/۳ د شنبې په ورځ چې د ۱۴/ ۲/ ۲۰۱۴ سره سمون خوری ترسره شو، د لومړنیو پایلو له اعلان سره چې ډاکتر اشرف غنی احمدزی د ۵۵،۴ او ډاکتر عبدالله عبدالله ۲، ۴۴ سلنه رایې وګټلې، په داسې حال کې چې په لومړیو ټاکنو کې ډاکتر عبدالله عبدالله تر نورو مخکې و، له همدی امله یې دغه پایلې ونه منلې او د بریالیتوب ادعا یې وکړه، چې حالات کړکیچن شو، تر دی چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیری ۱۳۹۳ /۴/۲۲ چې د ۱۳/ ۷/ ۲۰۱۴ سره سمون خوری کابل ته راغی او نوماندان یې په دی راضی کړل، چې د ملی وحدت




حکومت رامنځته کړی او رایی دی له سره وشمیرل شي، دا شمیرنه تقریباً دوه میاشتې وخت ونیو، چی پایلې یی داسې اعلان کړ، چې ډاکتر اشرف غنی احمدزی ۵۵، ۲۰ او ډاکتر عبدالله عبدالله ۴۰، ۴۴ سلنه رایی وګټلی په دی توګه ډاکتر اشرف غنی احمدزی د رئیس جمهور او ډاکتر عبدالله عبدالله د اجرایوی رئیس په توګه اعلان شو، ډاکتر اشرف غنی احمدزی ۷/ ۷/ ۱۳۹۳ چی د ۲۹/ ۹/۲۰۱۴ سره سمون خوری خپل د لوړی مراسم ترسره کړ او پر سبا یې د امریکا متحده ایالاتو سره امنیتی تړون لاسلیک کړ او رسماً ټول افغانستان یې ورته وسپاره او د تلپاتې کیدو لپاره یې جواز پاڼه ورته ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډاکټر اشرف غنی احمدزي لنډه پيژندنه



ډاکتر محمد اشرف غنی احمدزی د شاه جان احمدزی زوی په ۱۳۲۸ هجری لمریز کال د ثور میاشتې په کابل کې زیږیدلې د ی، لومړنی زده کړی یې د استقلال په لیسه کې او متوسطه او بکلوریا زده کړی یې د حبیبیې په لیسه کې ترسره کړي دي، د لیسانس لومړی شپږ میاشتې یې په کابل پوهنتون او لیسانس بشپړه دوره د بیروت په امریکایي پوهنتون کې د سیاسي علومو په برخه کې ترسره کړیدی.

لومړی ماسټری: په سیاسیي علومو کې د بیروت له امریکایي پوهنتون څخه

دویمه ماسټری: په نړیوالو اړیکو او انسان پیژندنه کې د امریکا د کولمبیا په پوهنتون کې.

دریمه ماسټری: په نړیوالو اړیکو د کولمبیا له پوهنتون څخه

ډاکټري: په انسان پیژندنه (انټروپالوجي) کې د امریکا د کولمبیا پوهنتون څخه او همدا راز د نړیوال بانک لپاره د امریکا د متحده ایالاتو د هارډورډ او سټنفورډ د پوهنتونونو لخوا د مشرتابه (لیډرشیپ) د یوه ځانګړی پروګرام څخه ترسره کول.

لومړی افتخاری ډاکتری: په ۲۰۰۷ کال کې د امریکا د متحده ایالاتو د سکرانتن له پوهنتون څخه دغه افتخاری ډاکتری ورکړل شو.

دویمه افتخاری ډاکتری: د ۲۰۰۸ کال به جون کې د کاناډا ګیلف پوهنتون څخه نوموړی ته افتخاری ډاکتری ورکړه.



ځانګړی دینی زده کړې: د یادولو وړ ده چې له ټولو یې یو هم د ۱۹۸۵ م کال څخه تر ۱۹۸۲ م کاله پوری د نبوی سیرت په باب د کراچی، لاهور او نورو ښارونو په مدرسو کې زده کړی کړی دی، چې د نوموړی په وینا دده لپاره خورا ارزښتمنې وی، همدا راز سږ کال د امریکا تفت پوهنتون ډاکتر اشرف غنی ته د نړیوال وطندار تر عنوان لاندی د نړی ډیره ممتازه جایزه ورکړه، باید وویل شی چی دا جایزه د نړی ډیرو کمو خلکو ته ورکول کیږی، چې دا ځل یې ده ته ورکړ شو، له دی ټولو څخه دا جوت ښکاری چې له امریکا سره د ډاکتر اشرف غنی ډیری نږدی اړیکې دی.

دندې: د کابل پوهنتون د هغه مهال په ادبیاتو پوهنځي استاذ و او په ۱۹۷۷ م کال د ډنمارک په آروس پوهنتون کې د لنډ مهال لپاره استاذ و.

میلمه پروفیسور: د امریکا په ستر پوهنتون بکلي کې د یوه کال لپاره استاد د امریکا په مشهور پوهنتون جانزو پکنز کې اته کاله استاد، د نړیوال بانک د پالیسی او ستراتیژی جوړولو لس کاله مشر، نوموړی خپل لومړی علمي څیړنې په افغانستان کې د اسلام د مبین دین د نفاذ، د ښځو حقوق او ټولنیز عدالت له موضوعاتو څخه پیل کړ او په دی اړه یې لیکنې وکړی، همدا راز په بل ګام کې یې په قبایلی ټولنه کې د اسلام او دولت جوړول تر سرلیک لاندی یوه مفصله څیړنه وکړه، ورپسې یې د اسلامي شریعت په محکمه کې د شخړو هواری تر نامه لاندی موضوعات راوسپړل، چې د تحلیل لپاره یې د عبدالرحمن خان د سلطنت لومړی لسیزه وټاکله او د کونړ ولایت د محکمې پر اسنادو یې څیړنه پیل کړه.

د دې تر څنګ د افغانستان پر اقتصاد، تاریخ او دولتي جوړښتونو یې هم زیات شمیر مقالې لیکلی او خپرې کړي دي، د علمي څیړنو په لړ کې د ډاکتر غني بل ستر کار د افغانستان د څلور سوه کلن تاریخ په اړه څیړنه ده چې له پنځلسم م پیړۍ تر نولسمې میلادي پیړۍ پورې ډیر موارد پکې تر څیړنیز پوښښ لاندې راغلی دی او پوره لس کاله پرې نوموړی بوخت و. ډاکتر اشرف غني د خپل علمي ژوندانه په بهیر کې ګڼ شمیر نور آثار هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشری ټولنې ته وړاندی کړی، چې زیات شمیر یې د کتابونو ځینې یې د لکچرونو اوځینې یې په بیلابیلو فورمونو کې د پوهنتونونو د استادانو او محصلانو د استفادی وړګرځیدلي دی، په دی ورستیو کې یې یو کتاب (ناکام دولتونه او د هغو د کامیابی تګلار) تر سرلیک لاندی د انګلستان د اکسفورډ پوهنتون لخوا په اروپا او امریکا کې خپور شو، چې د نړیوالو مطبوعاتو له لاری پری تاوده بحثونه ترسره شول، په داسی حال کې چې نړی د افغانستان په اړه له ژور خپګان سره مخامخ و، د ملګرو ملتونو د هغه وخت سر منشی ښاغلی کوفی عنان له ښاغلي غنی څخه غوښتنه وکړه چی د افغان مسئلې د حل لاری د موندلو په منظور دی، ددی سازمان له یوه چارواکي او د افغانستان لپاره د باصلاحیته استازی ښاغلی لخضر ابراهیمي سره ځانګړی سلاکار په توګه په کار پیل کړی، ډاکتر غنی دا وړاندیز ومانه او د همدی پرلپسې هڅو په نتیجه کې وتوانیده چې د بن د موافقی په ترتیب کې ونډه واخلي او نړی وپوهوي چې افغانان کولای شی، د خپل عنعنوی دود یعني لویې جرګې په چوکاټ کې ور پیښې ستونزې اواری کړي او د هغه سیمه ییز ګروپ څخه چې د ټول هیواد استازیتوب نشی کولای قدرت د همدی میکانیزم (جرګې) له لاری ملت ته انتقال کړای شي، چې د همدی پوهاوی په نتیجه کې د مراحلو ټاکنه وشوه او ورپسې موقته اداره منځته راغله څه موده یې په پوره بریالیتوب دا دنده پر مخ یوړ او وروسته یې په افغانستان کې د مرستو د انسجام د اداری مشر وټاکل شو، اشرف غنی په دی اداره کې د پام وړ کارونه سرته ورسول، چې د ساری په توګه باید ووایو چې لومړی یې د ملي بیارغونې سرتاسری بنسټونه او اصول ټاکل ورپسې یې د هغه کال د حمل په میاشت کې د مرستو د جذب نړیوال کنفرانس ته تیاری ونیوه، چې په کابل کې جوړ شو، په دی کنفرانس کې ډاکتر غنی نړیوالو ته د افغانستان د حکومت او خلکو لومړیتوبونه په ګوته کړل او یوه سالمه تګلاره یې وړاندی کړه بیړنۍ لویې جرګې ته د مالیې د وزیر په توګه وپیژندل شو، چې جرګې دا وړاندیز ومانه او اشرف غنی د



منځ مهالې دورې د مالیې د وزیر په حیث وټاکل شو، د پورتنیو کارونو په پایله کې په ۲۰۰۳ میلادی کال کې ډاکتر غني د آسیا د ممتاز او کامیاب مالیې وزیر په توګه وپیژندل شو، چې د کال د وزیر جایزه یې هم ترلاسه کړه، ډاکتر اشرف غني پر ۲۰۰۲م کال د نړیوالو مطبوعاتو له لاری ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي د کاندید مرحلې ته د سرمنشي په توګه مطرح شو، بیا د افغان حکومت لخوا دا وړاندیز رسماً هغې ادارې ته وړاندی شو، پر ۲۰۰۷ کال دده نوم نړیوالو مطبوعاتو د نړیوال بانک د رئیس په توګه وړاندی کړ. ډاکتر غني په همدغو دوو کلونو کې د نړیوالو مؤسساتو په غوښتنه سوډان کوسوو او نیپال دولتونو ته مشوری ورکړی او کله چې رئیس جمهور وټاکل شو، سمدستي د فساد پر ضد مبارزه پیل کړه او اصلاحاتو باندی یې شروع وکړه لکه د کابل بانک د قضیې پرانستل د پولیسو غیر سیاسي کول، د بندیانو د دوسیو څېړل او چین ته د اقتصاد پیاوړتیا لپاره سفر او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه

۱- عثماني عبدالرحمن، د افغانستان لرغونی تاریخ.
۲- حبیبي عبدالحی، د افغانستان معاصر تاریخ.
۳- غونچه مجله.
۴- پوهاند سید سعدالدین هاشمي، د افغانستان معاصر تاریخ.
۵- قدرت الله حداد فرهاد، د افغانستان ملي تاریخ، ساپي د پښتو ژبې د څېړنو مرکز، چاپ کال ۱۳۸۳ هـ ش.
۶- روحاني محمد حسین، عمومي تاریخ، میهن خپرندویه ټولنه، پېښور.
۷- پوهندوی مستعلي خان نیازی معتبر اثار.
۸- غبار میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ.
۹- عطایي محمد ابراهیم، د افغانستان معاصر تاریخ، میوند خپرندویه ټولنه، چاپ کال ۱۳۸۰ هـ ش.
۱۰- صمد نثار احمد، د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ.
۱۱- د اشرف غني د کمپاین دفتر په ختیځ زون کې.
۱۲- ډاکتر داود جنبش، ځلورویشت ساعته چې افغانستان یې واړاوه.
۱۳- بشیر احمد ریان، د افغانستان د پاچاهانو لنډه پېژندنه.
۱۴- صدیق الله راهي، آیا نجیب پېژنئ.
۱۵، مولانا محمد اسمعیل ریحان، د افغانستان معاصر تاریخ.
۱۶، اباسیند نظرزی، د افغانستان سیاسي اوضاع ته یو لنډه کتنه.
۱۷، د اغا محمد قریشي ژباړه، یو سړی او موټر سایکل.
۱۸- انټرنیټ ګوګل سایټ.
۱۹- صوتي رسنۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای
# درناوی
# حکمت الله یوسفزی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**